# د نیکه ګانو د عبادت لاره

# The way our ancestors prayed



**Amishav: For The Dispersed of Israel**

**May 2023**

# د ليکوال خبرې

# لړلیك


| خپرکی | پاڼه |
|---|---|
| لومړی خپرکی | 5 |
| د اوونۍ د ورځو عبادتونه | 5 |
| د اوونۍ د ورځو سهارنی عبادت | 5 |
| د پسلم ترانې چې تر سهارني عبادت مخکې ویل کیږي | 5 |
| د پسلم ترانه | 5 |
| د پسلم دوهمه ترانه | 7 |
| د پسلم تر ترانې وروسته ثناء | 7 |
| تر شیما اسرائیل وړاندې ثناء | 7 |
| شیما اسرائیل | 10 |
| تر شیما اسرائیل وروسته ثناء | 12 |
| د اوونۍ د ورځو د سهارني عبادت د ولاړو برخه | 13 |
| د پسلم ترانه | 21 |
| د اوونۍ د ورځو د ماپښین عبادت | 23 |
| د پسلم ترانه | 23 |
| د اوونۍ د ورځو د ماپښیني عبادت د ولاړو برخه | 24 |
| د اوونۍ د ورځو ماښامنی عبادت | 32 |
| تر شیما اسرائیل مخکې ثناء | 32 |
| شیما اسرائیل | 32 |
| تر شیما اسرائیل وروسته ثناء | 34 |
| د اوونۍ د ورځو د ماښامني عبادت د ولاړو برخه | 35 |
| دوهم خپرکی | 44 |
| د شنبې (شبات) عبادتونه | 44 |
| د شنبې (شبات) ماښامنی عبادت | 44 |
| تر شیما اسرائیل مخکې ثناء | 44 |
| شیما اسرائیل | 44 |
| تر شیما اسرائیل وروسته ثناء | 46 |
| د شنبې (شبات) د ماښامني عبادت د ولاړو برخه | 47 |
| هغه آیت چې د شنبې تر ماښامني عبادت وروسته لوستل کیږي | 53 |
| د شنبې (شبات) سهارنی عبادت | 53 |
| هغه د پسلم ترانې چې تر سهارني عبادت مخکې ویل کیږي | 53 |
| د پسلم ترانه | 54 |
| د پسلم دوهمه ترانه | 55 |

د پسلم تر ترانې وروسته ثناء ........................................................................................ 55
تر شيما اسرائيل وړاندې ثناء ........................................................................................ 56
شيما اسرائيل........................................................................................................... 59
تر شيما اسرائيل وروسته ثناء ........................................................................................ 61
د شنبې (شبات) د سهارنۍ عبادت د ولاړو برخه.................................................................... 62
د شنبې اضافي عبادت.......................................................................................................... 68
د پسلم ترانه............................................................................................................ 68
د شنبې په اضافي عبادت کې د ولاړو برخه........................................................................... 69
د شنبې د ماپښين عبادت ...................................................................................................... 75
د پسلم ترانه............................................................................................................ 75
د شنبې د ماپښيني عبادت د ولاړو برخه.............................................................................. 76

# لومړی څپرکی

## د اوونۍ د ورځو عبادتونه

## د اوونۍ د ورځو سهارنی عبادت

### د پسلم ترانې چې تر سهارني عبادت مخکې ویل کېږي

د پسلم تر ترانې ویلو مخکې دغه ثناء په ولاړو و وایاست:

پاک او د برکت څښتن دی هغه څوک چې په وینا یې دا نړۍ پیدا کړې، هغه لره دې پاکي وي.

پاک او د برکت څښتن دی هغه څوک چې وایي او کوي یې، پاک دی هغه څوک چې ژمنه کوي او پر خپلې ژمنې درېږي.

برکتناک دی هغه څوک چې هرڅه یې پیداکړي، برکت دی هغه چا لره چې پر دې مځکې مهربانه دی، برکت دی هغه چا لره چې پر دې مخلوقاتو مهربانه دی.

برکتناک دی هغه څوک چې خپلو بنده ګانو ته ښه انعام ورکوي، برکتناک دی هغه څوک چې تل ژوندی او د آبد دپاره شتون لري.

برکتناک دی هغه څوک چې ژغورونکی او آزادي ورکوونکی دی، د هغه نوم برکتناک دی.

ته برکتناک او پاک یې ای زموږ ربه، ای د نړۍ پاچاه، ای زموږ د پلار په څېر مهربانه خدایه، ای د خپلو خلکو د ثناء وړ خدایه. ای خدایه، ستا سره د مینې لرونکو او ستا خادمانو پر ژبه تل ستا د ستاینې او ښکلا بیان کېږي؛ او همدارنګه ستا د خادم داود پاچاه په غزل کې دې ستاینه کېږي، موږ به په ثناء ویلو او ترانو سره تا یادوو ای زموږ پالونکې خدایه، او ستا لویي به بیانوو، ثناء به دې وایو، ستاینه به دې کوو، ستا درناوی به کوو، او ستا نوم به اخلو ای زموږ پاچاه، ای خدایه، ای یوائېنی خدایه، ای د نړۍ خالقه، ای هغه پاچاه چې تل یې په نوم ثناء ویل کېږي او ستاینه یې کېږي. ته برکتناک یې ای خدایه، ای پاچاه ای د ثناء او صفت لایقه.

### د پسلم ترانه

خوښ دي هغه کسان چې ستا په کور کې اوسېږي او تل ستا ستاینه کوي.

خوښ دي هغه خلک چې دا ډول ژوند کوي! خوښ دي هغه خلک چې لوی خدای یې پالونکی وي.

**د داود د ثناء پسلم:** زه به تل ستا لويي بيانوم، ای زما خدايه، ای د نړۍ پاچاه، او زه به تل ــتر-تله ستا په نوم برکت غواړم.

او زه به هره ورځ ستا برکت غواړم، او ستا د نوم ستاينه به تل-تر-تله کوم.

رب ډېر لوی دی، او د لويۍ ستاينه يې کېږي؛ او د هغه لويي دومره ده چې نه اندازه کېږي.

هر نسل به ستا د کارونو ستاينه کوي، او ستا ځواکمنې کړنې به بيانوي.

زه به ستا عزت او عظمت او کمالونه بيانوم.

خلک به ستا د ډارونکو کړنو په اړه خبرې کوي، او زه به ستا لويي بيانوم.

خلک به ستا ښه والی بيانوي او خپروي به يې، او ستا د حقانيت ترانه به وايي.

لوی رب ډېر مهربان او زړه سواندی دی، ژر نه په غوسه کېږي او لويه مهرباني لوروي.

لوی رب د هر چا سره ښه کوي، او پر خپلو ټولو مخلوقاتو يوشان زړه سوی لري.

ستا ټول مخلوقات به ستا ستاينه کوي، ای ربه؛ ستا پرهېزګاران به ستا لويي بيانوي.

دوی به ټول ستا د سترې پاچاهۍ په هکله خبرې کوي، او ستا لوړ طاقت به بيانوي؛ترڅو د انسانانو زامنو ته ستا ځواکمنې کړنې او عظيم سلطنت ور وپېژني.

ستا پاچاهي به آبدي وي، او ستا حکومت به په هر نسل کې چلېږي.

لوی څښتن ټول هغه خلک ساتي چې لوېدلي وي، او هغه راپورته کوي چې سرونه يې ټيټ شوي وي.

د ټولو سترګې ستا دربار ته دي او ته ټولو ته پر وخت روزي ورکوې.

ته خپل لاسونه پرانيزې، او د هر ژوندي شي غوښتنې پوره کوې.

څښتن په خپلو ټولو لارو کې صادق او په خپلو ټولو کارونو کې مهربان دی.

څښتن ټولو هغو کسانو ته نږدې دی چې د ده يادونه کوي، او ټولو هغو ته چې په اخلاص سره د ده يادونه کوي.

خدای به د ټولو هغو خلکو غوښتنې پوره کړي چې له هغه څخه ډارېږي؛ هغه به د دې خلکو ژړاوې هم واوري، او ساتنه به يې وکړي.

څښتن د ټولو هغو خلکو ساتنه کوي چې له ده سره مينه لري؛ خو ټول خراب خلک به نابود کړي.

زما خوله به د ښېښتن د ستاینې خبرې کوي؛ او ټول جسم به مې د تل دپاره د ده د پاک نوم صفت کوي.

او موږ به تر دې وروسته، د تل دپاره د ښېښتن ثناء وايو. حمد دې وي خدای لره.

## د پسلم دوهمه ترانه

هلیلویاه! د خدای د سپېڅلي مقام ستاینه وکړئ، د هغه په لوړ مقام کې د هغه لويي بیان کړئ.

د هغه د عالي کړنو ستاینه وکړئ، داسې ستاینه چې د هغه د لوړ شان او لويۍ سره وړ وي.

د شوفار په ږغولو سره د هغه ستاینه وکړئ، د پسلتري او لايرى په ږغولو سره د هغه ستاینه وکړئ. [دا د رباب په څېر لرغوني د موسيقۍ آلې دې]

په ډولونو او نڅاګانو د هغه ستاینه وکړئ، د موسیقۍ د تارلرونکو آلو او تولو (نل) په ږغولو د هغه ستاینه وکړئ.

په خوږو ږغونو سره د هغه ستاینه وکړئ، په آنګازه لرونکو ږغونو سره يې ستاینه وکړئ.

هره روح به د خدای ستاینه کوي. هلیلویاه

## د پسلم تر ترانې وروسته ثناء

موږ به تل ستا د نوم ستاینه کوو، ای زموږ پاچاه، ای خدايه، ای د آسمانو او ځمکې لوی او سپېڅلي پاچاه، ځکه چې ای زموږ او زموږ د پلار پالونکې خدايه، که شعرونه وي که ستاينې، که سينګار وي که غزلې، که غیرت وي که حکومت، آبدیت وي که لویي، که زور وي که درناوی، که ښایست وي که سپېڅلتیا او پاچاهي، دا ټول یوازې ستا دپاره مناسب او ستا سره ښايي. ستا په ستر او سپېڅلي نوم ثناء وايو او شکر اداء کوو، ته به تل تر تله یې ای خدايه. حمد دې وي تا لره ای لوی پاچاه چې تل ستایل کیږې، ای هغه خدايه چې موږ دې تل په زړونو کې ساتو، ای د عجایبو ربه، ای د ټولو ارواحو خالقه، ای د ټولو کارونو واکداره، ای د ټولو ثناء ویونکو ترانو ټاکونکې، ای پاچاه، ای د نړۍ پیدا کوونکې خدايه. آمين

## تر شيما اسرائيل وړاندې ثناء

حمد او پاکي دې وي تا لره ای ربه، ای زموږ خدايه، ای د رڼا او تیارې خالقه، ای د آرامۍ او هر شي پیدا کوونکې. پر ځمکې او پر هغې اوسېدونکو خلکو په مهربانۍ سره رڼا راوله، او په خپلې ښېګڼې سره هره ورځ د تخليق هنر تازه کړه. ستا کارونه څو ډېر دي ای ربه، او تا دا ټول په حکمت

سره ترسره کړل، ټوله ځمکه ستا په شتمنۍ ډکه ده. ای متعال خدایه، ای تل بې نیازه، ای د ثناء او صفت لایقه چې تل لوړ یې. ای د نړۍ خدایه، ته خو ډېر زړه سوی لرې، پر موږ مهرباني وکړه، تا موږ ته د هر څه توان راکړی، ته زموږ ساتنه کوې، ای زموږ د خلاصون د هیلو پوره کوونکې، یواځې ته یې چې زموږ ساتنه کوې.

خدای د ثناء او صفت لایق دی، د هغه حکمت ډېر لوړ او بې شانه دی، هغه لمر جوړ او رڼا یې ورکړه، د هغه پاکی د هغه نوم ته درنښت ورکړی، هغه زموږ چاپېره ستوري درولي ترڅو خپل قدرت راته وښيي. د هغه د سپېڅلو فرښتو په فوځ کې ځانګړې فرښتې دې، چې تل د خدای په نوم ذکر کوي، او تل د خدای شان او سپېڅلتیا ثابتوي.

ستا ثناء به تل ویل کېږي ای زموږ ربه، چې هم پاس په آسمانونو کې یې او هم کښته په ځمکې کې یې، ستا په لاس د کارونو په تېره بیا ستورو ته د رڼا ورکولو له کبله، هم خلک او هم سپېڅلې فرښتې تل ستا ثناء وایي.

ستا ثناء او صفت به تل کېږي، ته زموږ توان او طاقت یې، ای زموږ پاچاه، ای زموږ ژغورونکې، ای د سپېڅلو فرښتو خالقه. ستا نوم به تل ستایل کېږي ای پاچاه، ای د هغو خدمتګارانو خالقه چې تل د لوړ مقام مخته ولاړ وي، او په ګډه سره او په وېره کې د ژوند بخښونکي خدای او د نړۍ پاچاه نوم یادوي. دا خدمتګاران ټول مینه ناک، رښتیني، اتلان او سپېڅلي دي چې هر یو یې د خالق څخه د وېرې له کبله د هغه هره غوښتنه پوره کوي. او دوی ټول د خدای د سپېڅلتیا او رښتیا په بیانولو سره خولې پرانیزي، او د خدای په نوم ترانې وایي او ستاینې کوي، ثناوې وایي او صفتونه کوي، ښکلا او پاکې یادوي او د خدای د نوم درنښت کوي او لمانځې یې؛ او وایي چې خدای پاچاه دی، هغه لوی دی، غښتلی دی، وېرونکی دی، او سپېڅلی دی. دوی ټولو د هغه پاچاهي منلې، او یو – بل ته اجازه ورکوي ترڅو په آرامۍ، روښانتیا او په زړه پوري نغمو سره د خپل خالق پاکي بیان کړي.

[ترڅو چې لس تنه اسرائیلیان سره یوځای نه وي، دا آیت باید ونه لوستل شي. کله چې لس اسرائیلیان شتون ولري، او ته د پېغمبر څخه د دې آیت په اصلي نغمې و پوهېږې، نو دا آیت د اړوندې نغمې سره ولوله، او که داسې نه وي نو بیا د ټول آیت پرځای د ”سپېڅلي“ کلمه ولوله].

د فوځونو رب سپېڅلی دی، سپېڅلی دی، سپېڅلی دی؛ پر ټولې ځمکې د هغه عزت کېږي.

کښتنۍ فرښتې چې لوړ ږغ لري، د لوړو هغو پر وړاندې راپورته کېږي او په داسې توګه ثناء وایي.

[د تېر آیت په څېر دا آیت هم باید تر هغو ونه لوستل شي ترڅو لس اسرائیلیان سره یوځای شوي نه وي. که لس اسرائیلیان نه وو پوره او ته یي په اصلي نغمي پوهېدې نو ویي لوله او که نه، نو د دې پرځای د "برکتناک/پاک" کلمه ولوله].

برکتناک او پاک دی لوی رب په خپل شان او شوکت کې.

د ثناء لایق خدای په نوم به نغمې ږغول کېږي. د پاچاه او تلپاتي خدای په نوم به ترانې ویل کېږي او او صفتونه به اورېدل کېږي. ځکه چې هغه یواځې او تر ټولو لوړ او سپېڅلی دی، خپل طاقت کاروي او نوي شیان پیداکوي، د جګړو مدیریت کوي، رښتینولي کوي او ژغورني کوي، د ناروغیو علاج پیداکوي؛ دا هغه خدای دی چې په وېرې سره یې صفت کېږي، پر ټولو عجایبو لاسبری دی، هره ورځ او د تل دپاره د خپلې ښېګنې له مخې هستي (دا هرڅه) بیا رامنځته کوي، چې په دې هکله داسې لیکل شوي: "هغه لوی ستوري پیداکوي ځکه چې د هغه مهرباني د تل دپاره ده".

ستا ثناء وایم ای ربه، ای د ستورو خالقه.

تا زموږ سره بې پایه مینه کړې، ای زموږ ربه، تا پر موږ لوی او درونډ زړه سوی کړی. زموږ پلاره، زموږ پاچاه، ستا د درانه نوم دپاره، او زموږ د نیکه ګانو دپاره چې پر تا یې باور درلود او تا ورښوولي وه چې په خپلو کړنو کې ستا رضا په زړه کې ولري، پر موږ زړه سوی وکړه چې اوس همدا ته زموږ پلار یې، ای مهربان پلاره، ای تل مهربان پلاره، خیر دی، پر موږ مهرباني وکړه، او زموږ په زړونو کې پوهه واچوه ترڅو په پوره مینې سره ستا په تورات و پوهېږو، و یې پېژنو، وایې اورو، زده یې کړو، نورو ته یې ور زده کړو، په یاد یې وساتو او عملي یې کړو. زموږ سترګې ستا په تورات روښانې کړه او زموږ په زړونو کې ستا د احکاموسره مینه پیداکړه، او زموږ زړونه داسې جوړ کړه چې یواځې او یواځې ستا د نوم سره مینه او د هغه څخه وېره پکښې وي. نو موږ به هم په دې نړۍ کې او هم به په راتلونکي کې سرلوړي او بریالي یو؛ ځکه چې موږ ستا پر سپېڅلي، لوی، غښتلي او ډاروونکي نوم باور کړی. موږ به تل خوښي کوو او ستا راکړی خلاصون به لمانځو، او ای ربه، ته موږ له خپلو مهربانیو څخه هیڅکله مه بېبرخي کوه.

موږ ته د ځمکې د هرې څنډې څخه برکتونه او سوله راکړه، او زموږ پر وړاندې د نورو ملتونو ځواکمني ماته کړه، او موږ زموږ پر خپلې ځمکې په چټکۍ وګرځوه او لوړ مو کړه، ځکه چې ته هغه خدای یې چې خلاصون ورکوې، او موږ هغه خلک یو چې تا له نورو څخه ځانګړي کړي او خپل ځانته غوره کړي یو، او ای زموږ پاچاه، ته وې چې موږ دې خپل ستر نوم ته در نږدې کړي

یو، نو موږ به ستا شکر اداء کوو او پوهېږو چې ته یو یې، او ستا څخه به هم وېره ولرو او هم به مینه ورسره ولرو.

ستاینه او صفت دي وي هغه رب لره چې په ډېره مینه یې خپل خلک (اسرائیل) ځانته غوره کړل.

## شیما اسرائیل

[د شیما په اړه په تورات کې دوه آیتونه ثابت دي چې یو یې په تورات کې لیکل شوی او بل زموږ پلار یعقوب په خوله را انتقال کړی دی. خو د پیغمبرانو د حکم له مخې باید د دې سره جوخت د تورات درې نور پاراګرافونه هم ولوستل شي. شیما اسرائیل باید د ورځې په لومړیو درو ساعتونو کې ولوستل شي؛ او ورځ تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې پیل کېږي. یو ځل تر لمر لوېدو وروسته، او یو ځل تر ویده کېدو مخکې، او که چېرې څوک د شپې نا وخته ویده کېږي نو یو ځل تر نیمې شپې مخکې ویل کېږي. نیمه شپه 0:00 بجو ته نه ویل کېږي، بلکې د نن ورځې د لمر لوېدو او سبا ورځې تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې وخت و نیمایي ته نیمه شپه ویل کېږي].

[سترګې دي پټې کړه او خپل ښې لاس پرې و نیسه او داسې و وایه]:

**اسرائیل درک کړئ، څښتن زموږ خدای دی، او څښتن یو دی.**

[د "یو" د کلمې په لوستلو او تر دې وروسته د هغه حقیقت په هکله فکر وکړه چې خدای هرڅه خپله پیداکړي او لا یې اوس هم ټولې هستۍ ته شتون ورکړی دی. د زړه له تله داسې پرېکړه وکړه چې د خدای رضا تر بل هرڅه درته مهمه ده، ان ستا تر ژوند هم. تصور وکړه چې که په ډېرو وژل کېږې بیا به هم هغه څه غوره کوې چې خدای یې غواړي. فکر وکړه چې که په اور کې په سوځولو وژل کېږې خو بیا به هم د خدای لاره پرې نه ږدې. او یا که په چاړه وژل کېږې، هم به د خدای سره اړیکه نه شلوې. د خدای رضا به حاصلوې که ژندۍ کېږې هم. هم په دې نړۍ کې او هم په راتلونکې کې تر هر ډول انعام د خدای رضا درته غوره ده].

[یوه شېبه تم شه او بیا په داسې نرم ږغ دا لاندې درود و وایه چې ته یې خپله هم نه اورې]:

د هغه د پاچاهۍ د برم نوم دې تل پاک او سپېڅلی وي.

[یوه شېبه تم شه، بیا خپلې سترګې پرانیزه او و وایه]:

ته باید د خپل پالونکي خدای سره د زړه له تله، په ټوله روح او ټول ملکیت سره مینه ولرې. او دغه خبرې چې زه یې تاسې ته حکم کوم، باید نن ستا په زړه کې وي. ته باید دا خبرې خپلو اولادونو او شاګردانو ته ورسوې، او کله چې په کور کې ناست یې، کله چې پر څرک ځې، کله چې پر ځای

پرېوځې او ویده کېږې، او کله چې راویښ شې نو باید د دې خبرو یادونه وکړې. ته باید دا خبرې د یوې نښې په توګه پر خپل لاس وتړې، او دا خبرې ستا د سترګو په منځ کې د یوه یادداښت په توګه ځای ولرې. او باید دا خبرې د دروازې پر چوکاټ او د سرای پر لویې دروازې (ګېټ) ولیکې.

او که تاسې د زړه له تله او په ټولې روح سره د خپل پالونکي خدای سره د مینې له کبله او د هغه د خدمت کولو په موخه زما د خبرو اطاعت وکړ، نو زه به پر مناسب وخت ستاسې پر ځمکو باران و اوروم، هم په پیل کې او هم په پای کې باران، چې تاسې به ډېرې غلې راټولې کړئ او د انګورو او زیتونو فصلونه به واخلئ. زه به ستاسې د څارویو دپاره ستاسې په کروندو کې واښه را شنه کړم، چې په دې توګه به تاسې په مړه ګېډه خواړه وخوړئ. پام مو وي، داسې نه چې ستاسې زړونه لالهاندي او تاسې ګمراه شئ او د بُتانو عبادت پیل او هغو ته سجده وکړئ. ځکه چې که داسې وکړئ نو څښتن به پر تاسې په غوسه شي، د آسمانونو دروازې به دربانديې بندې کړې، او ځمکه به خپل حاصل نه ورکوي، او په دې توګه به تاسې په ډېرې چټکی سره د هغې ښې ځمکې څخه لېرې کړي چې تاسې ته یې درکړې ده. زما دا خبرې په خپل زړه او روح کې وساتئ او پر خپل لاس یې د نښان په توګه وتړئ، او دا به ستاسې د سترګو په مینځ کې د یادګار په څېر وي. تاسې باید دا خبرې خپلو اولادونو او شاګردانو ته ورسوئ، او کله چې په کور کې ناست یاست، کله چې پر څړک ځئ، کله چې پر ځای پرېوځئ او ویده کېږئ او کله چې راویښ شې، نو باید د دې خبرو یادونه وکړئ. تاسې باید دا خبرې د خپلو دروازو پر چوکاټونو او د سرایونو پر دروازو ولیکئ؛ نو په دې توګه به پر هغې مځکې ستاسې او ستاسې د اولادونو د استوګنې موده اوږده شي چې څښتن ستاسې نیکه ګانو ته ورکړې او قسم یې خوړلی چې ترڅو چې آسمان له ځمکې څخه پورته وي، دا ځمکه به د هغو وي.

خدای د موسی سره خبرې وکړې او داسې یې ورته وویل: د بني اسرائیلو سره خبرې وکړه او ورته ووایه چې د خپلو ټولو نسلونو پر څلورکونجو جامو (پټوانو) د تارونو څرمې (حاشیې) جوړې کړي او د هر کونج پر څرمې دې یې یو (شین) تار و ځړوي. دې څرمو ته په کتو به تاسې ته ټول هغه احکام در په یادېږي چې څښتن تاسې ته درکړي او پلي کوئ به یې، چې په دې توګه به تاسې د خپل زړه او سترګو له غوښتنو راوګرځئ او لاروړکي کېږئ به نه. دا د دې دپاره چې تاسې زما ټول حکمونه په یاد ولرئ او هغوی پلي کړئ او د خدای په حضور کې به سپېڅلي یاست.

[په لاندې آیت کې موږ د مصر څخه د خلاصون د یادولو حکم پلی کوو.]

زه ستاسې هغه پالونکی خدای یم چې تاسې مې د مصر څخه را و ایستلاست، زه ستاسې پالونکی یم، او زه پالونکی، ستاسې خدای یم.

## تر شیما اسرائیل وروسته ثناء

هغه خبرې زموږ دپاره تل او هر وخت رښتینې دې، مضبوطې دې، صحیح دې، صادقې دې، له ایمانه ډکې دې، د مینې دې، ښکلې دې، مهرباني دې، خوندورې دې، د باوره ډکې دې، ځواکمنې دې، بشپړې دې، منل شوې دې، ښې دې او ښایستې دې. د نړۍ خدای رښتینی دی، زموږ پاچاه خدای، د یعقوب طاقت خدای، او زموږ د خلاصون خدای. هغه د هر نسل دپاره شتون لري، د هغه نوم شتون لري، د هغه واکمني تیاره ده، او د هغه اصول او وفاداري تل تر تله باقي ده، د هغه خبرې به ژوندۍ او تلپاتې وي او هغه هم په دې نړۍ کې او هم په هغې کې هم زموږ د پلرونو دپاره او هم زموږ او زموږ د اولادونو دپاره او هم زموږ اسرائیلو د ټولو نسلونو دپاره، وفادار او پاچاه دی. له پیله تر پایه، ستا خبرې ښې او پرځای دې، په حقیقت او باور سره، ستا خبرې داسې قانون دی چې هیڅکله له منځه نه ځي.

دا حقیقت خبره ده چې ته زموږ پالونکی خدای یې او زموږ د پلرونو هم، هم زموږ او هم زموږ د پلرونو پاچاه یې، هم زموږ او هم زموږ د پلرونو ژغورونکی یې، زموږ خالق، زموږ د ژغورنې یواځینۍ قوه یې، مرسته کوونکی او ژغورونکی همېشه ستا نوموم دی، او ستا ترڅنګ بل هیڅ خدای نشته. تا همېشه زموږ د پلرونو سره مرسته کوله، په هر نسل کې به دې د هغو او د هغو د اولادونو ساتنه او ژغورنه کوله. ته پر هرڅه واکمن یې او ستا عدالت او رښتیني کړنې تر ډېرو وړوکو مخلوقاتو پورې هم رسېږي.

دا رښتیا ده چې ته د خپلو خلکو بادار یې، یو پیاوړی پاچا یې چې د پلرونو او زوی پرځای جګړه کوې.

دا رښتیا ده چې ته هم لومړی یې او هم وروستی، او موږ بېله تا بل هیڅ ساتونکی او ژغورونکی نه لرو.

دا رښتیا ده چې تا موږ د مصر څخه و ژغورلو، ای زموږ پالونکې خدایه، تا موږ د غلامۍ څخه خلاص کړو. تا د هغو ټولو لومړني زېږېدلي ماشومان ورته و وژل، او خپل لومړنی ماشوم اسرائیل دې و ژغورلی. او تا زموږ دپاره سور سمندر پر منځ پرې کړ، خو مصریان دې پکې ډوب کړل. ستا ملګري تر سمندر پورېوتل، خو د دوی ټول دښمنان په اوبو کې ډوب شول او یو هم ونه ژغورل شو.

له همدې کبله ستا مینه والو ستاینه وکړه، او ترانې او شعرونه یې وویل او د پاچا مننه یې وکړه، خدای ژوندی او حاضر دی، لوړ او اوچت دی، لوی او ډارونکی دی، هغه څوک دی چې کبرجنان ځمکې

ته راټيټوي او عاجزان آسمان ته پورته کوي. بنديان آزادوي، عاجز ژغوري، د ښوزلي سره مرسته کوي، او کله چې يې خپل خلک (اسرائيل) د مرستې دپاره نوم اخلي نو دی لبيک ورته وايي. ستاينه دې وي لوی خدای لره چې خپل خلک يې و ژغورل، برکتناک دی هغه او تل به وي. موسی او د اسرائيل اولادونو په خوښيو کې ستا ترانې ويلې، دوی ټولو به داسې ويل: "ستا په شان بل هيڅوک نشته، ای پالونکې، ستا په څېر بل هيڅوک پاوړی او سپېڅلی نه دی. په ستاينو کې دې وېره ده، او کارونه دې عجايب دي". ژغورل شوو کسانو د سره سمندر پر غاړه ستا په ستر نوم يوه نوې ترانه و ويله، چې د دې کار دپاره سره راټول شول او داسې يې وويل: "د خدای پاچاهي به تل او هرکله وي". او داسې ليکلی شوي دي: "زموږ ژغورونکی، چې د لښکرو څښتن يې نوم دی، هغه د اسرائيلو مقدس دی".

حمد دې وي تا لره ای ربه چې اسرائيل دې و ژغورل.

[ښځه دې چې په منځ کې يې يوځه و وايي يا يو کار ترسره کړي، سملاسي د ولاړو عبادت پيل کړه]

## د اوونۍ د ورځو د سهارني عبادت د ولاړو برخه

[د يوريشيلم پر خوا مخ کړه او دواړه ورنونه سره و نښلوه. احساسات دې سره راټول او د هغه حالت په هکله فکر وکړه چې انسان څنګه د خپل خالق سره خبرې کوي، او خالق په حقيقت کې هغو ته غوږ نيسي او د انسان د عبادت سره مينه لري. د هر او هر يوه پر کلماتو تمرکز وکړه، او د هر لغات/کلمې په يادولو د خدای څخه د وېرې او د هغه سره د مينې احساس وکړه، په تېره بيا د هرې ثنا په پای کې، او همدارنګه د لومړۍ ثناء پر مهال].

[عبادت يوځل د ورځې په لومړيو څلورو ساعتونو کې کېږي چې تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې پيل کېږي، يوځل د ورځې تر نيمايي نيم ساعت وروسته کېږي، چې دلته نيمه ورځ 12:00 بجې نه، بلکې تر لمر ختو د 1:15 ساعته مخکې وخت څخه بيا د لمر لوېدو د وخت تر نيمايي پورې راځي؛ او يوځل تر لمر لوېدو وروسته عبادت کېږي. د سهار او شپې پر مهال د ځانګړو شرايطو پرته، عبادت بايد تر شيما او د هغې تر ثنا وروسته ترسره شي].

**ای زما څښتنه، زما شونډې پرانيزه، او زما خوله به ستا ثنا و وايي.**

[په لومړۍ او په اتلسمي ثناء کې د "ثناء" د لغت په ويلو سره ځان ټيټ کړه؛ د "ستا" د لغت په يادولو سره سر ټيټ کړه؛ د "د څښتن" د لغت په يادولو سره ځان سيده کړه او بيا د همدې لغت پر مهال خپل سر سيده کړه.]

1 . [د عبادت هر لغت باید په اړینه توګه معنی ولري، په تېره بیا د لومړی ثناء هر لغت].

ته برکتناک یې؛ زموږ خدایه او زموږ د پلرونو خدایه؛ د ابراهیم خدایه؛ د اسحاق او د یعقوب خدایه؛ ستر، ځواکمن او ډاروونکي خدایه؛ لوړ خدایه؛ ته مهربان یې؛ هر څه ستا په لاس کې دي، ته زموږ د نیکه ګانو نېکۍ په یاد ساتې او د هغو سره د خپلې مینې په ترڅ کې د هغوی د اولادونو د اولادو دپاره ژغورونکی را استوې.

[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:

موږ د ژوند دپاره په یاد لره، ای ژوند غوښتونکي پاچاه؛ موږ د ژوند په کتاب کې ولیکه، ستا د لټون دپاره، ای د ژوند مالکه.

ای مرسته کوونکی، ژغورونکې او ساتونکې خدایه.

[د "ثناء" د لغت په یادولو سره پر ملا کږوپ شه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره دې سر پر ټیټ راټیټ کړه؛ د "رب" لغت په یادولو سره لومړی پر ملا سیده شه او بیا دې سر راپورته کړه].

برکتناک یې ای ربه، ای د ابراهیم ساتونکې.

2. ته تل لوړ یې، ای ربه، ته د بېلاري شوو خلکو سره مرسته کوې ترڅو توبه وکاږي. ته په پوره قوت سره مرسته ورسره کوې.

[په اوړي کې، چې د پیسخ د لومړۍ ورځې او د شکوت د اتمې ترمنځ دی، داسې و وایه: **خدای پرخه اوروي**].

[په ژمي کې داسې و وایه: **خدای باد را الوځوي او باران اوروي**].

شتمن په خپلې مهربانۍ کې ساتې، بېوزلو ته په پوره زړه سوي سره روزي ورکوي، د کمزورو لاسنیوی کوي، ناروغ ته روغتیا ور بخښي، بندیان خوشي کوي او په خاورو کې د پرتو په بیرته را ژوندي کولو سره خپله ژمنه پوره کوي. ستا په شان څوک کېدای شي ای د قوت څښتنه؛ او ستا سره څوک پرتله کېدای شي، ای پاچاه؛ هغه پاچاه چې خواشیني رامنځته کوي او بیرته خوښي راګرځوي او هم خلاصون ورکوي!

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې]:

ستا په شان څوک کېدای شي ای مهربان پلاره؛ ستا په پرتله څوک د خپلو مخلوقاتو د ژوندانه په اړه فکر کوي.

ببښکه چې یواځې ته مړي را ژوندي کولای شې. برکتناک يې ای ربه، ته هغه څوک يې چې مړي بیرته را ژوندي کوې.

3. ته سپېڅلی يې او ستا نوم سپېڅلی دی، او سپېڅلي مخلوقات دي د تل دپاره هره ورځ، ستاینه کوي.

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې ثناء د "د خدای" پر ځای په "پاچاه" سره پای ته ورسوه].

ته برکتناک يې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

ته برکتناک يې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

4. ته په مهربانۍ سره پر انسانانو پوهه لوروې او مړو ته هم عقل ورکوې.

[تر شنبې وروسته په لومړۍ شپه دغه ثناء ولولئ ترڅو د شنبې او اوونۍ د نورو ورځو د عبادت ترمنځ توپیر وشي]:

ای زموږ پالونکې خدایه، موږ ته په اخلاص سره پوهه او حکمت راکړه، تا موږ ته حکم کړی ترڅو د سپېڅلو او ناسپېڅلو، رڼا او تیارې، اسرائیلو او نورو ملتونو او د اوونۍ د اوومې ورځې او شپږ کاري ورځو ترمنځ توپیر وکړو. په همدې توګه تا موږ د سیمې له نورو خلکو او ځمکې د کورنیو څخه جلا کړو، د مهربانۍ له مخې موږ له شیطان څخه خوندي او وساته، او همدارنګه له تصادفاتو او هغو شیانو څخه چې په دې نړۍ کې پیښیږي.

په خپلې مهربانۍ سره پر موږ حکمت، عقل او پوهه و لوروه. ته برکتناک يې ای مهربان او د پوهې لوروونکي خدایه.

5. زموږ سره مرسته وکړه چې خپل پلار او ستا تورات ته ور ستانه شو؛ موږ نږدې درولـه، ای پاچاه، ترڅو ستا چوپړ وکړو؛ او موږ ځان ته د زړه له تله د توبې سره در و غواړه. ته برکتناک يې ای ربه، ای توبه خوښوونکي.

6. زموږ پلاره، موږ ته د هغو ګناهونو بخښنه وکړه چې موږ کړي دي؛ ای زموږ پاچاه، موږ وبخښه، موږ سرکښه یو؛ ځکه چې ته مهربان او زړه سواندی خدای یې. ته برکتناک يې ای ربه، مهربان يې چې په پرېمانه توګه بخښنه کوې.

7. زموږ کمزورۍ په پام کې ونیسه او زموږ جګړه پر مخ یوسه؛ او موږ ته ژر تر ژره په یو بشپړ خلاصو سره خلاص کړه، ترڅو ستا نوم ولتوو، ځکه چې خدایه، ته لوی خلاصون ورکوونکی يې. ته برکتناک يې ای خدایه، ای د اسرائیل ژغورونکې.

8. ای ربه، موږ ته شفاء راکړه چې جوړ شو؛ موږ ته خلاصون راکړه ترڅو و ژغورل شو؛ ځکه چې ته زموږ د ثناء لایق یې. موږ له ناروغیو او ټولو هغو شیان چې موږ ته درد راکوي، روغ کړه، او زموږ ټپونه راته روغ کړه؛ ځکه چې ته خدای، مهربان او جدي روغتیا بخښونکی یې. ته برکتناک یې ای خدایه، ای خپلو خلکو اسرائیلو ته شفاء ورکوونکې.

[په اوړي کې چې د اورښت غوښتنه نه وي، داسې و وایه]:

9. پر موږ رحم وکړه، ای زموږ پالونکي خدایه، په هر هغه څه کې چې موږ یې کوو. او زموږ پر کال د غوښتني سره سم د پرخې رحم وکړه، ستا په رحم او مهربانی سره، ترڅو د کال په پای کې موږ د ښه ژوند، خواږو او آرامی څښتنان و اوسو، لکه په یوه ښېرازه کال کې، ځکه چې ته یو ښه خدای یې او ښه کوې او پر کلونو رحم لوروې. ته برکتناک یې ای ربه، ای پر کلونو رحم کوونکې.

[په ژمي کې، کله چې د باران غوښتنه کېږي نو داسې و وایه]:

زموږ څښتن خدایه، زموږ په کال کې برکت واچوه او ښه حاصلات راکړه، او د ځمکې پر مخ د پرخې او باران رحمت و لوروه. سپېځلې ځمکې ته کافي اوبه ورکړه، او ټوله نړۍ له خپلې مهربانۍ څخه ډکه کړه. او زموږ لاسونه ستا د مهربانی او بېلابېلو ډالیو څخه ډک کړه. دا کال له هر ډول بدو خبرو، ورانیو او هرډول پېښو څخه وساته، او دې کال ته مثبتې هیلې ور په برخه او په آرامی یې پای ته ورسوه. پر دې کال او د دې پر ټولو محصولاتو او مېوو زړه سوی او مهرباني ولره، او د غوښتني سره سم د باران رحمت پرې وکړه، په خپلې مهربانۍ او زړه سوي سره، ترڅو د کال په پای کې موږ د ښه ژوند، خواږو او آرامی څښتنان و اوسو، لکه په یوه ښېرازه کال کې، ځکه چې ته هغه خدای یې چې تر ټولو ښه یې او ښه کارونه کوې او پر کلونو رحم کوې. ته برکتناک یې ای پر کلونو رحم کوونکې خدایه.

10. زموږ د آزادۍ دپاره د شوفار تولکه و ږغوه [دا د پسه د ښکر څخه جوړېږي]؛ د شړني (تبعید) څخه د بېرته راټولېدلو دپاره مو بیرغ پورته کړه، او موږ د ځمکې د څلورو کونجانو څخه بېرته سپېځلې ځمکې ته راوله. ته برکتناک یې ای ربه، ای د خپلو تیتو شوو خلکو (اسرائیلو) ربه.

11. د پخوا په څېر زموږ قاضیان بېرته راوله، او همدا شان زموږ قانونپوهان لکه په پیل کې چې وو؛ زموږ څخه غم او سختی لېرې کړه، او پر موږ خپل حکم ژر تر ژره وچلوه،

ای ربه، یواځې ته یې چې د خپلې مهربانۍ او زړه سوي له مخې، او د خپلې ربښتینولۍ او عدالت له مخې دا کارونه کولای شې.

[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې، راتلونکې ثناء په دغه الفاظو پای ته ورسوه "ته برکتناک یې ای ربه، ای د عدالت پاچاه"].

ته برکتناک یې ای ربه، ای د سخا او عدالت خوښوونکې پاچاه.

12. د غدارانو او مخبرانو هیلې ختمې کړه، بدکاران سملاسي له منځه یوسه؛ او ستا دښمنان او ستا څخه کرکه کوونکې په چټکۍ سره مات کړه؛ او ته زموږ په ورځو کې ژر تر ژره د بدمرغۍ د دبدبې ربښې وکاږه، د بدمرغۍ دبدبه ماته سپکه او کمزورې کړه. ته برکتناک یې ای ربه، ای د دښمنانو ماتوونکې او د غدارانو له منځه وړونکې.

13. ای زموږ پالونکې خدایه، ستا مهرباني دې وشي، پر ربښتینو، پرهېزګارو او ستا پر تولو خلکو، د اسرائیل پر کورنۍ، د دوی څخه پر پاتیو ښو خلکو، پر هغو چې نوی یې ایمان راوړی وي او پر موږ دې وشي؛ او هغو ته چې په ربښتینې توګه ستا پر نوم باور لري ښه بدله ورکړه، او موږ هم په هغو کې راوله؛ او موږ به هیڅکله رسوا نه شو ځکه چې موږ پر تا او ستا پر مهربانۍ باور لرو. ته برکتناک یې ای ربه، ای د ربښتینو خلکو ملاتړې او ساتونکې.

14. خپل ښار، یوریشیلم ته بېرته راشه، ځکه تا حتی د غوسې پر مهال دا ژمنه کړې وه؛ او دلته ژر تر ژره د خپل خدمتګار (داود) پاچاهي بېرته رامنځته کړه، او دا ځای ژر تر ژره د یوه تلپاتې ښار په توګه ودان کړه. ته برکتناک یې ای ربه، ای د یوریشیلم بیارغوونکې.

15. مسیح، د داود زوی، ستا خادم، ژر تر ژره راوله، ترڅو ستا د خلاصون په وسیله خپل قوت و ښیې، ځکه چې موږ ټل ستا د خلاصون په هیله یو. ته برکتناک یې ای ربه، ای د خلاصون د قوت څېروونکې.

16. زموږ ږغ واوره، ای زموږ پالونکې خدایه؛ ای مهربانه پلاره، پر موږ مهرباني وکړه، او زموږ عبادتونه په مهربانۍ او مینې سره راڅخه قبول کړه، ځکه چې ته هغه خدای یې چې عبادات او غوښتنې اورې.

[په دې ځای کې یوڅوک کولای شي چې خپله شخصي غوښتنه ور زیاته کړي]!

او موږ له ځانه تش لاسونه مه لیږه، ای زموږ پاچاه، پر موږ مهربان اوسه، او موږ ته ځواب راکوه، او زموږ عبادتونه قبلوه، ځکه چې ته د هرڅا عبادت اورې. برکتناک یې ای ربه، ای د عباداتو قبلوونکې.

17. پر خپلو خلکو (اسرائیلو) احسان وکړه، ای پالونکې خدایه، او د هغو عبادتو ته پام کوه؛ ستا د عبادتځای په تر ټولو سپېڅلي مقام کې بیرته خدمات فعاله کړه، او په مینه سره د اسرائیلو قرباني او عبادات ترې قبول کړه؛ او ستا د خلکو (اسرائیلو) خدمت دې تاته تل قبول وي.

[په راش هدیش (د نوې میاشتې لومړی ورځ) او د رخصتیو په منځ کې، دا لاندې شیان ور زیات کړه]:

زموږ خدایه او زموږ د پلرونو خدایه، ته خو وکړې چې زموږ او زموږ د پلرونو یادونه هلته ستا حضور ته در پورته شي، درشي او در ورسیږي، ته یې و وینې، و یې منې، وایې اورې او در په یاد یې کړې. او د دې [د نوې میاشتې ورځ – راش خودیش] ورځې په برکت دې خپل ښار یوریشیلم درته یاد شي، د داود زوی او ستا خادم (مسیح) دې درته یاد شي، او خپل ټول خلک (د اسرائیل کورنۍ) دې د خلاصون دپاره، روغتیا، رحم، مهربانۍ، زړه سوي او ښه ژوند او آرام دپاره درته یاد شي.

پورته وروستۍ جمله د لاندې ورځو دپاره هم په ورته ډول ویله کیږي، لکه:

[د پیسخ د رخصتۍ په ورځ چې د مسسوت اختر ورته ویل کیږي]: د دې سپېڅلي ورځې په برکت.

[د شکوت د رخصتۍ په ورځ چې د شکوت اختر ورته وایي]: د دې سپېڅلي ورځې په برکت.

پر موږ مهرباني ولره او موږ و ژغوره. ای زموږ پالونکې ربه، په دې ورځې کې موږ په ښو یاد کړه؛ په دې ورځ پر موږ د برکت نظر کوه؛ او د دې ورځې په برکت زموږ سره د ښه ژوندانه مرسته وکړه. د خلاصون او مهربانۍ د ژمنې له مخې، زموږ ساتنه کوه او پر موږ زړه سواندی اوسه؛ او زموږ غمخوار اوسه او رحمت راباندې کوه او موږ وساته؛ ځکه چې زموږ سترګې یواځې ستا دربار ته دي او ته مهربان او زړه سواندی پاچاه یې.

په خپلې مهربانۍ سره، پر موږ احسان و لوروه او احسان راباندې وکړه او زموږ سترګې داسې جوړې کړه چې (سسیون) بیرته ستا راستنیدو ته پام وکړي. ته برکتناک یې ای ربه، ته په سسیون کې خپل سپېڅلی شتون بیرته ښیې.

*[د دې ثناء په پیل کې چې که د "زموږ" لغت یادوي، نو پر ملا کړوپ شه، خو د بل ځای برعکس به دلته سر نه کړوپوې. او د "رب" د لغت په یادولو سره بیرته سیده شه]*.

18. موږ ډېر شکر کاږو چې ته تل تر تله زموږ او زموږ د پلرونو پالونکی رب یې. ته زموږ قوت یې، زموږ د ژوند قوت، او زموږ د خلاصون ساتندوی پوښ یې. زموږ هر نسل به ستا شکر اداء کوي او ستا کړه به بیانوي، ځکه چې زموږ د هر یوه ژوند ستا په لاس کې دی، موږ خپل روحان تاته سپارلي، ستا معجزې هره ورځ زموږ سره ملګرې دي، او ته هره ورځ حیرانوونکي او په زړه پورې کارونه ترسره کوې، دا کارونه تل کوې، په شپه کې، په سهار کې او په غرمه کې. ته ډېر ښه یې، ځکه چې ستا مهرباني هیڅکله نه ختمېږي؛ ته تر هرچا مهربان یې، ځکه چې ستا زړه سوی هیڅکله نه ختمېږي؛ او موږ تل تاته هیله لرو.

*[په خنوکه او پوریم کې دا لاندې څه هم ور زیاتیږي]*:

موږ ستا څخه مننه کوو چې زموږ د نیکه ګانو دپاره دې په هغو ورځو کې پر دغه مهال معجزې کړې، هغوی ته دې خلاصون ورکړی، د هغو د ژغورلو او تسلیت دپاره دې ستر او حیرانوونکي کارونه کړي.

[د خنوکې په ورځ یې له دې ځایه پیل کړه]: د مشر کاهن یوحونان د زوی متیتیاهو په وخت کې، چې د هاشمونیې کورنۍ څخه و، او د هغه د زامنو په وخت کې، چې کله بېلارې یونانیان ستا د خلکو اسرائیلو پر وړاندې راپورته شول، او غوښتل یې چې هغوی ستا تورات هېر او ستا د رضا نافرماني وکړي. خو ته په خپلې مهربانۍ سره، د هغو سره د احتیاج په وخت کې و درېدې. تا د دوی دپاره جګړه و کړه، د هغو د حقوقو دفاع دې وکړه او د هغو غچ دې واخیست. تا غښتلي د کمزورو، ډېر د لږو، ناخالص د خالصو، بېلارې د رښتینو او ګناهګاران د هغو تر لاس لاندې کړل چې ځانونه یې ستا تورات ته وقف کړي وو. تا په خپله نړۍ کې یو ستر او سپېڅلی نوم خپل کړ، او په دې ورځ دې خپلو خلکو ته لوی خلاصون او ژغورنه ور په برخه کړله. نو ستا اولادونه ستا د عبادتځای روضې ته ور ننوتل، عبادتځای یې پاک، جومات یې تصفیه، او په سپېڅلي غولي کې یې ډېوې بلې کړې، او دا د خنوکې اته ورځې یې د ستاینې او شکریې دپاره و ټاکلې. تا زموږ د نیکه ګانو دپاره معجزې او حیرانوونکي کارونه کړي چې له کبله یې موږ تل ستا شکر اداء کوو.

[د پوریم په ورځ یې له دې ځایه پیل کړه]: د مردیخای او ایستر په وخت کې، د پارس په پلازمېنې شوشان کې، کله چې بېلاری (هامون) راپورته شو، او غوښتل یې چې ټول اسرائیل ، ځوان او زاړه، ماشومان او ښځې په یوه ورځ، د دوولسمې میاشتې یا ادهار پر دیارلسمې نېټې پوپنا، حلال او له منځه

يوسي او شتمنى يې ترې لوټ کړي. خو تا د خپلې بې شانې مهربانۍ له مخې، د هغه نيت او اراده ناکامه او د ده په خپل زيان دې ورته تمام کړله، او دی او د ده زامن په هغې ونې پورې و ځړول شول چې ده د مرديخای د ځړولو دپاره تياره کړې وه. تا زموږ د نيکه ګانو دپاره معجزې او حيرانوونکې کارونه کړي چې موږ به يې له کبله تل ستا شکر اداء کوو.

نو ای زموږ پاچاه، د دې ټولو شيانو له کبله به تل او په جاري توګه ستا په نوم ثناء ويل کېږي، ستا نوم به ستايل کېږي او اوچت کېږي به.

*[د نوي کال او يوم کيپور ترمنځ په لسو ورځو کې دا لاندې څه ور زيات کړه]:*

ټول هغه خلک چې ستا په تړون کې شامل دي، د هغو په قسمت کې ښه ژوند وليکه.

او ټول به، په اخلاص سره او تر آبده، ستا په نوم ثناء وايي او ستاينه به يې کوي.

*[د دې ثناء په پای کې کله چې د "برکت" لغت ته را ورسېږي، نو پر ملا کړوپ شه؛ او د " ته" لغت ته په رارسېدو سره دې سر پر ټيټ راټيټ کړه؛ او د "رب" لغت ته په رارسېدو سره بيرته پر ملا سيده شه او بيا د همدې لغت پر مهال دې سر هم سيده کړه].*

برکتناک يې، ته، ای ربه، ستا نوم ښه دی، او ستا شکر بايد اداء شي.

19. پر موږ او خپلو ټولو خلکو (اسرائيلو) آرامي، ښېګڼې او برکتونه، ژوند، مهرباني، زړه سوی او شفقت و لوروه. او زموږ پلاره، پر موږ رحم وکړه، پر موږ ټولو په يوځل خپل د رحمت رڼا و خيره کړه. ځکه چې ای پالونکې خدايه، تا د خپلې رڼا په وسيله، موږ ته تورات او ژوند راکړی، مينه او زړه سوې دې راکړی، سخا او مهرباني دې راکړې، رحمت او آرامي دې راکړي. ستا پر خلکو اسرائيلو دې ستا د رحمت، تشويق او سولې نظر وي.

*[د نوي کال او يوم کيپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:*

او د ژوند په کتاب، د رحمت او آرامۍ په کتاب، د نېکمرغۍ په کتاب، د خلاصون او ډاډينې په کتاب، او د مهربانيو د احکامو په کتاب کې دې موږ او ستا ټول خلک يعنې د اسرائيل کورنۍ ليکلي او درته ياد يو ترڅو د خوښ ژوند او آرامۍ څښتنان اوسو.

ته برکتناک يې ای ربه، ای پر خپلو خلکو اسرائيلو د آرامۍ رحمت کوونکی.

زما د خولې الفاظ دې تا ته قبول، او زما د زړه چرتونه دې ستا د پام وړ وي، ای د قوت او خلاصون بخښونکې ربه.

[دلته یوڅوک کولای شي خپل شخصي عبادت ور زیات کړي. کله چې شخصي عبادت ور زیات شي، نو وروستی آیت (زما د خولې الفاظ دې تاته قبول وي ... ای د قوت او خلاصون بخښونکې) باید په پای کې بیاځلې و ویل شي].

*[د لاندې جملې تر تلاوت مخکې باید سړی یوڅه تیټ شي، او په همدې تیټ حالت کې درې ګامه تر شا واخلي؛ لومړی دې کیڼه پښه تر شاکړي، بیا ښي پښه او بیا دې کیڼه پښه تر هغه ترشا یوسي ترڅو د ښي سره څنګ پرڅنګ شي. چې لا د تیټوالي څخه پورته شوی نه يې، بدن دې رېونده کیڼې خواته وګرځوه او داسې و وایه، "هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي"؛ ولاړ شه او بیا دې بدن رېونده ښي خواته کوږ کړه او داسې و وایه، "هغه دې موږ ته هم آرامي راولي" ولاړ شه او په پای کې د مخ خواته کوږ شه او و وایه، "او د ټولو اسرائیلو دپاره؛ امین"].*

[رېونده کیڼې خواته] هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي [د توبې په لسو ورځو کې يې داسې و وایه: "ځانګړې آرامي]، [رېونده ښي خواته] هغه دې موږ ته هم آرامي راولي، [بیا د مخ خواته کوږ شه] او ټولو اسرائیلو ته هم؛ امین.

[له ځانګړو ورځو پرته لکه نوې میاشت او رخصتی، په نورو کې باید تر هر عبادت وروسته سړی خدای ته د خپلو ګناهونو اقرار وکړي].

د پسلم ترانه

خوښ دي هغه کسان چې ستا په کور کې اوسېږي او تل ستا ستاینه کوي.

خوښ دي هغه خلک چې دا ډول ژوند کوي! خوښ دي هغه خلک چې لوی خدای يې پالونکی وي.

**د داود د ثناء پسلم:** زه به تل ستا لويي بيانوم، ای زما خدايه، ای د نړۍ پاچاه، او زه به تل –تر-تله ستا په نوم برکت غواړم.

او زه به هره ورځ ستا برکت غواړم، او ستا د نوم ستاينه به تل-تر-تله کوم.

رب ډېر لوی دی، او د لويی ستاينه يي کيږي؛ او د هغه لويي دومره ده چې نه اندازه کيږي.

هر نسل به ستا د کارونو ستاينه کوي، او ستا ځواکمني کړني به بيانوي.

زه به ستا عزت او عظمت او کمالونه بيانوم.

خلک به ستا د ډاروونکو کړنو په اړه خبرې کوي، او زه به ستا لويي بيانوم.

خلک به ستا ښه والی بيانوي او خپروي به يې، او ستا د حقانيت ترانه به وايي.

لوی رب ډېر مهربان او زړه سواندی دی، ژر نه په غوسه کېږي او لويه مهرباني لوروي.

لوی رب د هر چا سره ښه کوي، او پر خپلو ټولو مخلوقاتو يوشان زړه سوی لري.

ستا ټول مخلوقات به ستا ستاينه کوي، ای ربه؛ ستا پرهېزګاران به ستا لويي بيانوي.

دوی به ټول ستا د سترې پاچاهی په هکله خبرې کوي، او ستا لوړ طاقت به بيانوي؛ ترڅو د انسانانو زامنو ته ستا ځواکمنې کړنې او عظيم سلطنت ور وپېژني.

ستا پاچاهي به آبدي وي، او ستا حکومت به په هر نسل کې چلېږي.

لوی ښتن ټول هغه خلک ساتي چې لوېدلي وي، او هغه راپورته کوي چې سرونه يې ټيټ شوي وي.

د ټولو سترګې ستا دربار ته دي او ته ټولو ته پر وخت روزي ورکوې.

ته خپل لاسونه پرانيزې، او د هر ژوندي شي غوښتنې پوره کوې.

ښتن په خپلو ټولو لارو کې صادق او په خپلو ټولو کارونو کې مهربان دی.

ښتن ټولو هغو کسانو ته نږدې دی چې د ده يادونه کوي، او ټولو هغو ته چې په اخلاص سره د ده يادونه کوي.

خدای به د ټولو هغو خلکو غوښتنې پوره کړي چې له هغه څخه ډارېږي؛ هغه به د دې خلکو ژړاوې هم واوري، او ساتنه به يې وکړي.

ښتن د ټولو هغو خلکو ساتنه کوي چې له ده سره مينه لري؛ خو ټول خراب خلک به نابود کړي.

زما خوله به د ښتن د ستاينې خبرې کوي؛ او ټول جسم به مې د تل دپاره د ده د پاک نوم صفت کوي.

او موږ به تر دې وروسته، د تل دپاره د ښتن ثناء وايو. حمد دې وي خدای لره.

# د اوونۍ د ورځو د ماپښين عبادت

## د پسلم ترانه

خوښ دي هغه کسان چې ستا په کور کې اوسېږي او تل ستا ستاينه کوي.

خوښ دي هغه خلک چې دا ډول ژوند کوي! خوښ دي هغه خلک چې لوی خدای يې پالونکی وي.

**د داود د ثناء پسلم:** زه به تل ستا لويي بيانوم، ای زما خدايه، ای د نړۍ پاچاه، او زه به تل ــتر-تله ستا په نوم برکت غواړم.

او زه به هره ورځ ستا برکت غواړم، او ستا د نوم ستاينه به تل-تر-تله کوم.

رب ډېر لوی دی، او د لويۍ ستاينه يې کېږي؛ او د هغه لويي دومره ده چې نه اندازه کېږي.

هر نسل به ستا د کارونو ستاينه کوي، او ستا ځواکمنې کړنې به بيانوي.

زه به ستا عزت او عظمت او کمالونه بيانوم.

خلک به ستا د ډاروونکو کړنو په اړه خبرې کوي، او زه به ستا لويي بيانوم.

خلک به ستا ښه والی بيانوي او خپروي به يې، او ستا د حقانيت ترانه به وايي.

لوی رب ډېر مهربان او زړه سواندی دی، ژر نه په غوسه کېږي او لويه مهرباني لوروي.

لوی رب د هر چا سره ښه کوي، او پر خپلو ټولو مخلوقاتو يوشان زړه سوی لري.

ستا ټول مخلوقات به ستا ستاينه کوي، ای ربه؛ ستا پرهېزګاران به ستا لويي بيانوي.

دوی به ټول ستا د سترې پاچاهۍ په هکله خبرې کوي، او ستا لوړ طاقت به بيانوي؛ ترڅو د انسانانو زامنو ته ستا ځواکمنې کړنې او عظيم سلطنت ور وپېژني.

ستا پاچاهي به آبدي وي، او ستا حکومت به په هر نسل کې چلېږي.

لوی څښتن ټول هغه خلک ساتي چې لوېدلي وي، او هغه راپورته کوي چې سرونه يې ټيټ شوي وي.

د ټولو سترګې ستا دربار ته دي او ته ټولو ته پر وخت روزي ورکوې.

ته خپل لاسونه پرانيزې، او د هر ژوندي شي غوښتنې پوره کوې.

څښتن په خپلو ټولو لارو کې صادق او په خپلو ټولو کارونو کې مهربان دی.

ښتن ټولو هغو کسانو ته نږدې دی چې د ده یادونه کوي، او ټولو هغو ته چې په اخلاص سره د ده یادونه کوي.

خدای به د ټولو هغو خلکو غوښتنې پوره کړي چې له هغه څخه ډارېږي؛ هغه به د دې خلکو ژړاوې هم واوري، او ساتنه به یې وکړي.

ښتن د ټولو هغو خلکو ساتنه کوي چې له ده سره مینه لري؛ خو ټول خراب خلک به نابود کړي.

زما خوله به د ښتن د ستاینې خبرې کوي؛ او ټول جسم به مې د تل دپاره د ده د پاک نوم صفت کوي.

او موږ به تر دې وروسته، د تل دپاره د ښتن ثناء وایو. حمد دې وي خدای لره.

## د اوونۍ د ورځو د ماپښیني عبادت د ولاړو برخه

[د یوریشیلم پر خوا مخ کړه او دواړه ورونونه سره و نښلوه. احساسات دي سره راټول او د هغه حالت په هکله فکر وکړه چې انسان څنګه د خپل خالق سره خبرې کوي، او خالق په حقیقت کې هغو ته غوږ نیسي او د انسان د عبادت سره مینه لري. د هر او هر یوه پر کلماتو تمرکز وکړه، او د هر لغات/کلمې په یادولو د خدای څخه د وېرې او د هغه سره د مینې احساس وکړه، په تېره بیا د هرې ثنا په پای کې، او همدارنګه د لومړۍ ثناء پر مهال].

[عبادت یوځل د ورځې په لومړیو څلورو ساعتونو کې کېږي چې تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې پیل کېږي، یوځل د ورځې تر نیمایي نیم ساعت وروسته کېږي، چې دلته نیمه ورځ 12:00 بجې نه، بلکې تر لمر ختو د 1:15 ساعته مخکې وخت څخه بیا د لمر لوېدو د وخت تر نیمایي پورې راځي؛ او یوځل تر لمر لوېدو وروسته عبادت کېږي. د سهار او شپې پر مهال د ځانګړو شرایطو پرته، عبادت باید تر شیما او د هغې تر ثنا وروسته ترسره شي].

ای زما ښتنه، زما شونډې پرانیزه، او زما خوله به ستا ثنا و وایي.

[په لومړۍ او په اتلسمې ثناء کې د "ثناء" د لغت په ویلو سره ځان ټیټ کړه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره سر ټیټ کړه؛ د "د ښتن" د لغت په یادولو سره ځان سیده کړه او بیا د همدې لغت پر مهال خپل سر سیده کړه.]

1. [د عبادت هر لغت باید په اړینه توګه معنی ولري، په تېره بیا د لومړۍ ثناء هر لغت].

ته برکتناک یې؛ زموږ خدایه او زموږ د پلرونو خدایه؛ د ابراهیم خدایه؛ د اسحاق او د یعقوب خدایه؛ ستر، ځواکمن او ډاروونکې خدایه؛ لوړ خدایه؛ ته مهربان یې؛ هر څه ستا په لاس کې دي، ته زموږ

د نیکه ګانو نېکی په یاد ساتي او د هغو سره د خپلې مینې په ترڅ کې د هغوی د اولادونو د اولادو دپاره ژغورونکی را استوي.

[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:

موږ د ژوند دپاره په یاد لره، ای ژوند غوښتونکي پاچاه؛ موږ د ژوند په کتاب کې ولیکه، ستا د لټون دپاره، ای د ژوند مالکه.

ای مرسته کوونکی، ژغورونکي او ساتونکي خدایه.

[د "ثناء" د لغت په یادولو سره پر ملا کړوپ شه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره دې سر پر ټټر راټیټ کړه؛ د "رب" لغت په یادولو سره لومړی پر ملا سیده شه او بیا دې سر راپورته کړه].

برکتناک یې ای ربه، ای د ابراهیم ساتونکي.

2. ته تل لوړ یې، ای ربه، ته د بېلاري شوو خلکو سره مرسته کوې ترڅو توبه وکاږي. ته په پوره قوت سره مرسته ورسره کوې.

[په اوړي کې، چې د پیسخ د لومړۍ ورځې او د شکوت د اتمې ترمنځ دی، داسې و وایه: **خدای پرخه اوروي**].

[په ژمي کې داسې و وایه: **خدای باد را الوځوي او باران اوروي**].

شتمن په خپلې مهربانۍ کې ساتي، بېوزلو ته په پوره زړه سوي سره روزي ورکوي، د کمزورو لاسنیوی کوي، ناروغ ته روغتیا ور بخښي، بندیان خوشي کوي او په خاورو کې د پرتو په بیرته را ژوندي کولو سره خپله ژمنه پوره کوي. ستا په شان څوک کېدای شي ای د قوت څښتنه؛ او ستا سره څوک پرتله کېدای شي، ای پاچاه؛ هغه پاچاه چې خواشیني رامنځته کوي او بیرته خوښي راګرځوي او هم خلاصون ورکوي!

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې]:

ستا په شان څوک کېدای شي ای مهربان پلاره؛ ستا په پرتله څوک د خپلو مخلوقاتو د ژوندانه په اړه فکر کوي.

بېشکه چې یواځې ته مړي را ژوندي کولای شې. برکتناک یې ای ربه، ته هغه څوک یې چې مړي بیرته را ژوندي کوې.

3. ته سپېڅلی یې او ستا نوم سپېڅلی دی، او سپېڅلي مخلوقات دې د تل دپاره هره ورځ، ستاینه کوي.

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې ثناء د "د خدای" پر ځای په "پاچاه" سره پای ته ورسوه].

ته برکتناک یې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

ته برکتناک یې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

4. ته په مهربانۍ سره پر انسانانو پوهه لوروې او مړو ته هم عقل ورکوې.

[تر شنبې وروسته په لومړۍ شپه دغه ثناء ولولئ ترڅو د شنبې او اوونۍ د نورو ورځو د عبادت ترمنځ توپیر وشي]:

ای زموږ پالونکي خدایه، موږ ته په اخلاص سره پوهه او حکمت راکړه، تا موږ ته حکم کړی ترڅو د سپېڅلو او ناسپېڅلو، رڼا او تیارې، اسرائیلو او نورو ملتونو او د اوونۍ د اوومې ورځې او شپږ کاري ورځو ترمنځ توپیر وکړو. په همدې توګه تا موږ د سیمې له نورو خلکو او ځمکې د کورنیو څخه جلا کړو، د مهربانۍ له مخې موږ له شیطان څخه خوندي او وساته، او همدارنګه له تصادفاتو او هغو شیانو څخه چې په دې نړۍ کې پیښیږي.

په خپلې مهربانۍ سره پر موږ حکمت، عقل او پوهه و لوروه. ته برکتناک یې ای مهربان او د پوهې لوروونکي خدایه.

5. زموږ سره مرسته وکړه چې خپل پلار او ستا تورات ته ور ستانه شو؛ موږ نږدې دروله، ای پاچاه، ترڅو ستا چوپړ وکړو؛ او موږ ځان ته د زړه له تله د توبې سره در و غواړه. ته برکتناک یې ای ربه، ای توبه خوښوونکي.
6. زموږ پلاره، موږ ته د هغو ګناهونو بخښنه وکړه چې موږ کړي دي؛ ای زموږ پاچاه، موږ وبخښه، موږ سرکښه یو؛ ځکه چې ته مهربان او زړه سواندی خدای یې. ته برکتناک یې ای ربه، مهربان یې چې په پرېمانه توګه بخښنه کوې.
7. زموږ کمزوري په پام کې ونیسه او زموږ جګړه پر مخ یوسه؛ او موږ ته ژر تر ژره په یو بشپړ خلاصو سره خلاص کړه، ترڅو ستا نوم ولتوو، ځکه چې خدایه، ته لوی خلاصون ورکوونکی یې. ته برکتناک یې ای خدایه، ای د اسرائیل ژغورونکي.
8. ای ربه، موږ ته شفاء راکړه چې جوړ شو؛ موږ ته خلاصون راکړه ترڅو و ژغورل شو؛ ځکه چې ته زموږ د ثناء لایق یې. موږ له ناروغیو او ټولو هغو شیان چې موږ ته درد راکوي، روغ کړه، او زموږ ټپونه راته روغ کړه؛ ځکه چې ته خدای، مهربان او جدي روغتیا بخښونکی یې. ته برکتناک یې ای خدایه، ای خپلو خلکو اسرائیلو ته شفاء ورکوونکي.

[په اوړي کې چې د اوربښت غوښتنه نه وي، داسي و وایه]:

9. پر موږ رحم وکړه، ای زموږ پالونکي خدایه، په هر هغه څه کې چې موږ یې کوو. او زموږ پر کال د غوښتنې سره سم د پرخې رحم وکړه، ستا په رحم او مهربانۍ سره، ترڅو د کال په پای کې موږ د ښه ژوند، خواړو او آرامۍ څښتنان و اوسو، لکه په یوه ښېرازه کال کې، ځکه چې ته یو ښه خدای یې او ښه کوې او پر کلونو رحم لوروې. ته برکتناک یې ای ربه، ای پر کلونو رحم کوونکې.

[په ژمي کې، کله چې د باران غوښتنه کېږي نو داسې و وایه]:

زموږ څښتن خدایه، زموږ په کال کې برکت واچوه او ښه حاصلات راکړه، او د ځمکې پر مخ د پرخې او باران رحمت و لوروه. سپېڅلې ځمکې ته کافي اوبه ورکړه، او ټوله نړۍ له خپلې مهربانۍ څخه ډکه کړه. او زموږ لاسونه ستا د مهربانۍ او بېلابېلو ډالیو څخه ډک کړه. دا کال له هر ډول بدو خبرو، ورانیو او هرډول پېښو څخه وساته، او دې کال ته مثبتې هیلې ور په برخه او په آرامۍ یې پای ته ورسوه. پر دې کال او د دې پر ټولو محصولاتو او مېوو زړه سوی او مهرباني ولره، او د غوښتنې سره سم د باران رحمت پرې وکړه، په خپلې مهربانۍ او زړه سوي سره، ترڅو د کال په پای کې موږ د ښه ژوند، خواړو او آرامۍ څښتنان و اوسو، لکه په یوه ښېرازه کال کې، ځکه چې ته هغه خدای یې چې تر ټولو ښه یې او ښه کارونه کوې او پر کلونو رحم کوې. ته برکتناک یې ای پر کلونو رحم کوونکې خدایه.

10. زموږ د آزادۍ دپاره د شوفار تولکه و ږغوه [دا د پسه د ښکر څخه جوړېږي]؛ د شړنې (تبعید) څخه د بیرته راټولېدلو دپاره مو بیرغ پورته کړه، او موږ د ځمکې د څلورو کونجانو څخه بیرته سپېڅلې ځمکې ته راوله. ته برکتناک یې ای ربه، ای د خپلو تیتو شوو خلکو (اسرائیلو) ربه.

11. د پخوا په څېر زموږ قاضیان بیرته راوله، او همدا شان زموږ قانونپوهان لکه په پیل کې چې وو؛ زموږ څخه غم او سختۍ لېرې کړه، او پر موږ خپل حکم ژر تر ژره وچلوه، ای ربه، یواځې ته یې چې د خپلې مهربانۍ او زړه سوي له مخې، او د خپلې رښتینولۍ او عدالت له مخې دا کارونه کولای شې.

[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې، راتلونکې ثناء په دغه الفاظو پای ته ورسوه "ته برکتناک یې ای ربه، ای د عدالت پاچاه"].

ته برکتناک یې ای ربه، ای د سخا او عدالت خوښوونکې پاچاه.

12. د غدارانو او مخبرانو هیلي ختمي کړه، بدکاران سملاسي له منځه یوسه؛ او ستا دښمنان او ستا ښخه کرکه کوونکي په چټکۍ سره مات کړه؛ او ته زموږ په ورځو کي ژر تر ژره د بدمرغۍ د دبدبي ریښي وکاږه، د بدمرغۍ دبدبه ماته سپکه او کمزورې کړه. ته برکتناک یې ای ربه، ای د دښمنانو ماتوونکي او د غدارانو له منځه وړونکي.

13. ای زموږ پالونکي خدایه، ستا مهرباني دي وشي، پر رښتینو، پرهېزګارو او ستا پر ټولو خلکو، د اسرائیل پر کورنۍ، د دوی ښخه پر پاتیو ښو خلکو، پر هغو چي نوی یې ایمان راوړی وي او پر موږ دي وشي؛ او هغو ته چي په رښتیني توګه ستا پر نوم باور لري ښه بدله ورکړه، او موږ هم په هغو کي راوله؛ او موږ به هیڅکله رسوا نه شو ځکه چي موږ پر تا او ستا پر مهربانۍ باور لرو. ته برکتناک یې ای ربه، ای د رښتینو خلکو ملاتړې او ساتونکي.

14. خپل ښار، یوریشیلم ته بیرته راشه، ځکه تا حتی د غوسي پر مهال دا ژمنه کړې وه؛ او دلته ژر تر ژره د خپل خدمتګار (داود) پاچاهي بیرته رامنځته کړه، او دا ځای ژر تر ژره د یوه تلپاتي ښار په توګه ودان کړه. ته برکتناک یې ای ربه، ای د یوریشیلم بیارغوونکي.

15. مسیح، د داود زوی، ستا خادم، ژر تر ژره راوله، ترڅو ستا د خلاصون په وسیله خپل قوت و ښیي، ځکه چي موږ ټل ستا د خلاصون په هیله یو. ته برکتناک یې ای ربه، ای د خلاصون د قوت خپروونکي.

16. زموږ ږغ واوره، ای زموږ پالونکي خدایه؛ ای مهربانه پلاره، پر موږ مهرباني وکړه، او زموږ عبادتونه په مهربانۍ او میني سره راڅخه قبول کړه، ځکه چي ته هغه خدای یې چي عبادات او غوښتني اورې.

[په دې ځای کي یوڅوک کولای شي چي خپله شخصي غوښتنه ور زیاته کړي]!

او موږ له ځانه تش لاسونه مه لیږه، ای زموږ پاچاه، پر موږ مهربان اوسه، او موږ ته ځواب راکوه، او زموږ عبادتونه قبلوه، ځکه چي ته د هرچا عبادت اورې. برکتناک یې ای ربه، ای د عباداتو قبلوونکي.

17. پر خپلو خلکو (اسرائیلو) احسان وکړه، ای پالونکي خدایه، او د هغو عبادتو ته پام کوه؛ ستا د عبادتځای په تر ټولو سپېڅلي مقام کي بیرته خدمات فعاله کړه، او په مینه سره د اسرائیلو قرباني او عبادات ترې قبول کړه؛ او ستا د خلکو (اسرائیلو) خدمت دي تاته ټل قبول وي.

[په راش هدیش (د نوې میاشتې لومړۍ ورځ) او د رخصتیو په منځ کې، دا لاندې شیان ور زیات کړه]:

زموږ خدایه او زموږ د پلرونو خدایه، ته خو وکړې چې زموږ او زموږ د پلرونو یادونه هلته ستا حضور ته در پورته شي، درشي او در ورسیږي، ته یې و وینې، و یې منې، وایې اورې او در په یاد یې کړې. او د دې [د نوې میاشتې ورځ – راش خودیش] ورځې په برکت دې خپل ښار یوریشلیم درته یاد شي، د داود زوی او ستا خادم (مسیح) دې درته یاد شي، او خپل ټول خلک (د اسرائیل کورنۍ) دې د خلاصون دپاره، روغتیا، رحم، مهربانۍ، زړه سوي او ښه ژوند او آرام دپاره درته یاد شي.

پورته وروستۍ جمله د لاندې ورځو دپاره هم په ورته ډول ویله کیږي، لکه:

[د پیسخ د رخصتۍ په ورځ چې د مسسوت اختر ورته ویل کیږي]: د دې سپیڅلي ورځې په برکت.

[د شکوت د رخصتۍ په ورځ چې د شکوت اختر ورته وایي]: د دې سپیڅلي ورځې په برکت.

پر موږ مهرباني ولره او موږ و ژغوره. ای زموږ پالونکې ربه، په دې ورځې کې موږ په ښو یاد کړه؛ په دې ورځ پر موږ د برکت نظر کوه؛ او د دې ورځې په برکت زموږ سره د ښه ژوندانه مرسته وکړه. د خلاصون او مهربانۍ د ژمنې له مخې، زموږ ساتنه کوه او پر موږ زړه سواندی اوسه؛ او زموږ غمخوار اوسه او رحمت راباندې کوه او موږ وساته؛ ځکه چې زموږ سترګې یواځې ستا دربار ته دي او ته مهربان او زړه سواندی پاچاه یې.

په خپلې مهربانۍ سره، پر موږ احسان و لوروه او احسان راباندې وکړه او زموږ سترګې داسې جوړې کړه چې (سسیون) بیرته ستا راستنېدو ته پام وکړي. ته برکتناک یې ای ربه، ته په سسیون کې خپل سپیڅلی شتون بیرته ښیې.

*[د دې ثناء په پیل کې چې که د "زموږ" لغت یادوی، نو پر ملا کړوپ شه، خو د بل ځای برعکس به دلته سر نه کړوپوې. او د "رب" د لغت په یادولو سره بیرته سیده شه].*

18. موږ ډېر شکر کاږو چې ته تل تر تله زموږ او زموږ د پلرونو پالونکی رب یې. ته زموږ قوت یې، زموږ د ژوند قوت، او زموږ د خلاصون ساتندوی پوښ یې. زموږ هر نسل به ستا شکر اداء کوي او ستا کړه به بیانوي، ځکه چې زموږ د هر یوه ژوند ستا په لاس کې دی، موږ خپل روحان تاته سپارلي، ستا معجزې هره ورځ زموږ سره ملګرې دې، او ته هره ورځ حیرانوونکې او په زړه پورې کارونه ترسره کوې، دا کارونه تل کوې، په شپه کې، په

سهار کې او په غرمه کې. ته ډېر ښه یې، ځکه چې ستا مهربانی هیڅکله نه ختمېږي؛ ته تر هرچا مهربان یې، ځکه چې ستا زړه سوی هیڅکله نه ختمېږي؛ او موږ تل تاته هیله لرو.

[*په خنوکه او پوریم کې دا لاندې څه هم ور زیاتېږي*]:

موږ ستا څخه مننه کوو چې زموږ د نیکه ګانو دپاره دې په هغو ورځو کې پر دغه مهال معجزې کړې، هغوی ته دې خلاصون ورکړی، د هغو د ژغورلو او تسلیت دپاره دې ستر او حیرانوونکي کارونه کړي.

[د خنوکي په ورځ یې له دې ځایه پیل کړه]: د مشر کاهن یوحونان د زوی متیتیاهو په وخت کې، چې د هاشمونیې کورنی څخه و، او د هغه د زامنو په وخت کې، چې کله بېلارې یونانیان ستا د خلکو اسرائیلو پر وړاندې راپورته شول، او غوښتل یې چې هغوی ستا تورات هېر او ستا د رضا نافرماني وکړي. خو ته په خپلې مهربانی سره، د هغو سره د احتیاج په وخت کې و درېدې. تا د دوی دپاره جګړه و کړه، د هغو د حقوقو دفاع دې وکړه او د هغو غچ دې واخیست. تا غښتلي د کمزورو، ډېر د لږو، ناخالص د خالصو، بېلاري د رښتینو او ګناهګاران د هغو تر لاس لاندې کړل چې ځانونه یې ستا تورات ته وقف کړي وو. تا په خپله نړۍ کې یو ستر او سپېڅلی نوم خپل کړ، او په دې ورځ دې خپلو خلکو ته لوی خلاصون او ژغورنه ور په برخه کړله. نو ستا اولادونه ستا د عبادتځای روضې ته ور ننوتل، عبادتځای یې پاک، جومات یې تصفیه، او په سپېڅلي غولي کې یې ډېوې بلې کړې، او دا د خنوکي اته ورځې یې د ستاینې او شکریې دپاره و ټاکلې. تا زموږ د نیکه ګانو دپاره معجزې او حیرانوونکي کارونه کړي چې له کبله یې موږ تل ستا شکر اداء کوو.

[د پوریم په ورځ یې له دې ځایه پیل کړه]: د مردیخای او ایستر په وخت کې، د پارس په پلازمېنې شوشان کې، کله چې بېلاری (هامون) راپورته شو، او غوښتل یې چې ټول اسرائیل ، ځوان او زاړه، ماشومان او ښځې په یوه ورځ، د دوولسمې میاشتې یا ادهار پر دیارلسمې نېټې پوپنا، حلال او له منځه یوسي او شتمنی یې ترې لوټ کړي. خو تا د خپلې بې شانې مهربانی له مخې، د هغه نیت او اراده ناکامه او د ده په خپل زیان دې ورته تمام کړله، او دی او د ده زامن په هغې ونې پورې و ځړول شول چې ده د مردیخای د ځړولو دپاره تیاره کړې وه. تا زموږ د نیکه ګانو دپاره معجزې او حیرانوونکي کارونه کړي چې موږ به یې له کبله تل ستا شکر اداء کوو.

نو ای زموږ پاچاه، د دې ټولو شیانو له کبله به تل او په جاري توګه ستا په نوم ثناء ویل کیږي، ستا نوم به ستایل کیږي او اوچت کیږي به.

*[د نوي کال او يوم کيپور ترمنځ په لسو ورځو کې دا لاندې څه ور زيات کړه]:*

ټول هغه خلک چې ستا په ټرون کې شامل دي، د هغو په قسمت کې ښه ژوند وليکه.

او ټول به، په اخلاص سره او تر آبده، ستا په نوم ثناء وايي او ستاينه به يې کوي.

*[د دې ثناء په پای کې کله چې د "برکت" لغت ته را ورسيږي، نو پر ملا کړوپ شه؛ او د "ته" لغت ته په رارسېدو سره دې سر پر ټټر راټيټ کړه؛ او د "رب" لغت ته په رارسېدو سره بيرته پر ملا سيده شه او بيا د همدې لغت پر مهال دي سر هم سيده کړه].*

برکتناک يې، ته، ای ربه، ستا نوم ښه دی، او ستا شکر بايد اداء شي.

19. پر موږ او خپلو ټولو خلکو (اسرائيلو) آرامي، ښېګڼې او برکتونه، ژوند، مهرباني، زړه سوی او شفقت و لوروه. او زموږ پلاره، پر موږ رحم وکړه، پر موږ ټولو په يوځل خپل د رحمت رڼا و خپره کړه. ځکه چې ای پالونکي خدايه، تا د خپلې رڼا په وسيله، موږ ته تورات او ژوند راکړی، مينه او زړه سوې دي راکړی، سخا او مهرباني دي راکړې، رحمت او آرامي دي راکړي. ستا پر خلکو اسرائيلو دي ستا د رحمت، تشويق او سولې نظر وي.

*[د نوي کال او يوم کيپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:*

او د ژوند په کتاب، د رحمت او آرامی په کتاب، د نېکمرغی په کتاب، د خلاصون او ډاډينې په کتاب، او د مهربانيو د احکامو په کتاب کې دي موږ او ستا ټول خلک يعني د اسرائيل کورنی ليکلي او درته ياد يو ترڅو د خوښ ژوند او آرامی څښتنان اوسو.

ته برکتناک يې ای ربه، ای پر خپلو خلکو اسرائيلو د آرامۍ رحمت کوونکي.

زما د خولې الفاظ دي تا ته قبول، او زما د زړه چرتونه دي ستا د پام وړ وي، ای د قوت او خلاصون بخښونکي ربه.

[دلته يوځوک کولای شي خپل شخصي عبادت ور زيات کړي. کله چې شخصي عبادت ور زيات شي، نو وروستی آيت (زما د خولې الفاظ دي تاته قبول وي ... ای د قوت او خلاصون بخښونکي) بايد په پای کې بياځلي و ويل شي].

*[د لاندې جملې تر تلاوت مخکې بايد سړی يوڅه ټيټ شي، او په همدې ټيټ حالت کې درې ګامه تر شا واخلي؛ لومړی دي کيڼه پښه تر شاکړي، بيا ښې پښه او بيا دي کيڼه پښه تر هغه ترشا يوسي ترڅو د ښي سره څنګ پرڅنګ شي. چې لا د ټيټوالي څخه پورته شوی نه يې، بدن دي رېونده کيڼې خواته*

*وګرځوه او داسې و وایه، "هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي"؛ ولاړ شه او بیا دي بدن رېونده ښي خواته کوږ کړه او داسي و وایه، "هغه دي موږ ته هم آرامي راولي" ولاړ شه او په پای کې د مخ خواته کوږ شه او و وایه، "او د ټولو اسرائیلو دپاره؛ امین"].*

[رېونده کیڼي خواته] هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي [د توبې په لسو ورځو کې یې داسي و وایه: "ځانګړې آرامي]، [رېونده ښي خواته] هغه دي موږ ته هم آرامي راولي، [بیا د مخ خواته کوږ شه] او ټولو اسرائیلو ته هم؛ امین.

[له ځانګړو ورځو پرته لکه نوې میاشت او رخصتی، په نورو کې باید تر هر عبادت وروسته سړی خدای ته د خپلو ګناهونو اقرار وکړي].

# د اوونۍ د ورځو ماښامنی عبادت

## تر شیما اسرائیل مخکې ثناء

ته برکتناک یې ای ربه، ای زموږ خدایه، ای د نړۍ هغه پاچاه چې په خپلو خبرو سره شپه په حکمت سره خپروي، د عقل دروازې پرانیزي، پړاوونه تېروي او وخت بدلوي، او څنګه چې یې خوښه وي، په آسمان کې په خپلو ځایونو کې مبداوې ترتیبوي. ورځ او شپه پیداکوي، تر تیارې مخکې رڼا پټوي او تر رڼا مخکې تیاره پټوي، ورځ پای ته رسوي او شپه راولي، او د ورځې او شپې په منځ کې توپیر رامنځته کوي. د لښکرو رب، د هغه نوم دی. ته برکتناک یې ای ربه، ای د شپې راوستونکې.

تا د خپلو خلکو، د اسرائیل د کورنۍ سره، دایمي مینه وکړه، تا موږ ته تورات را زده کړ، احکام، قوانین او اصول دي را زده کړل. نو ځکه به ای زموږ پالونکې ربه، موږ په خوب او په ویښه کې ستا د قوانینو په هکله بږغېږو، په خوښۍ او په خوند سره به ستا تورات زده کوو، ستا احکام او قوانین به تل زده کوو. ځکه چې دا قوانین زموږ د ژوند تومنه او جوهر دي. موږ به دا قوانین په ورځ او شپه کې یادوو، او ستا مینه به تل زموږ ملګرتیا کوي. برکتناک یې ای ربه، ای د خپلو خلکو اسرائیلو سره مینه کوونکې.

## شیما اسرائیل

[د شیما په اړه په تورات کې دوه آیتونه ثابت دي چې یو یې په تورات کې لیکل شوی او بل زموږ پلار یعقوب په خوله را انتقال کړی دی. خو د پیغمبرانو د حکم له مخې باید د دې سره جوخت د تورات درې نور پاراګرافونه هم ولوستل شي. شیما اسرائیل باید د ورځې په لومړیو درو ساعتونو

کې ولوستل شي؛ او ورځ تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې پیل کیږي. یو ځل تر لمر لوېدو وروسته، او یو ځل تر ویده کېدو مخکې، او که چېرې څوک د شپې نا وخته ویده کیږي نو یو ځل تر نیمې شپې مخکې ویل کیږي. نیمه شپه 0:00 بجو ته نه ویل کیږي، بلکې د نن ورځې د لمر لوېدو او سبا ورځې تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې وخت و نیمايي ته نیمه شپه ویل کیږي].

[سترګې دې پټې کړه او خپل ښي لاس پرې و نیسه او داسې و وایه]:

اسرائیل درک کړئ، څښتن زموږ خدای دی، او څښتن یو دی.

[د "یو" د کلمې په لوستلو او تر دې وروسته د هغه حقیقت په هکله فکر وکړه چې خدای هرڅه خپله پیداکړي او لا یې اوس هم ټولې هستۍ ته شتون ورکړی دی. د زړه له تله داسې پرېکړه وکړه چې د خدای رضا تر بل هرڅه درته مهمه ده، ان ستا تر ژوند هم. تصور وکړه چې که په ډېرو وژل کیږې بیا به هم هغه څه غوره کوې چې خدای یې غواړي. فکر وکړه چې که په اور کې په سوځولو وژل کیږې خو بیا به هم د خدای لاره پرې نه ږدې. او یا که په چاړه وژل کیږې، هم به د خدای سره اړیکه نه شلوې. د خدای رضا به حاصلوې که زندۍ کیږې هم. هم په دې نړۍ کې او هم په راتلونکې کې تر هر ډول انعام د خدای رضا درته غوره ده].

[یوه شېبه تم شه او بیا په داسې نرم ږغ دا لاندې درود و وایه چې ته یې خپله هم نه اورې]:

د هغه د پاچاهۍ د برم نوم دې تل پاک او سپېڅلی وي.

[یوه شېبه تم شه، بیا خپلې سترګې پرانیزه او و وایه]:

ته باید د خپل پالونکي خدای سره د زړه له تله، په ټوله روح او ټول ملکیت سره مینه ولرې. او دغه خبرې چې زه یې تاسې ته حکم کوم، باید نن ستا په زړه کې وي. ته باید دا خبرې خپلو اولادونو او شاګردانو ته ورسوې، او کله چې په کور کې ناست یې، کله چې پر څرک ځې، کله چې پر ځای پرېوځې او ویده کیږې، او کله چې راویښ شي نو باید د دې خبرو یادونه وکړې. ته باید دا خبرې د یوې نښې په توګه پر خپل لاس وتړې، او دا خبرې ستا د سترګو په منځ کې د یوه یادداښت په توګه ځای ولرې. او باید دا خبرې د دروازې پر چوکاټ او د سرای پر لویې دروازې (ګېټ) ولیکې.

او که تاسې د زړه له تله او په ټولې روح سره د خپل پالونکي خدای سره د مینې له کبله او د هغه د خدمت کولو په موخه زما د خبرو اطاعت وکړ، نو زه به پر مناسب وخت ستاسې پر ځمکو باران و اوروم، هم په پیل کې او هم په پای کې باران، چې تاسې به ډېرې غلې راټولې کړئ او د انګورو او زیتونو فصلونه به واخلئ. زه به ستاسې د څارویو دپاره ستاسې په کروندو کې واښه را شنه کړم، چې په دې توګه به تاسې په مړه ګېډه خواړه وخورئ. پام مو وي، داسې نه چې ستاسې زړونه لالهاندي

او تاسي ګمراه شئ او د بُتانو عبادت پیل او هغو ته سجده وکړئ. ځکه چې که داسي وکړئ نو څښتن به پر تاسي په غوسه شي، د آسمانونو دروازې به دربانديې بندې کړي، او ځمکه به خپل حاصل نه ورکوي، او په دې توګه به تاسي په ډېرې چټکۍ سره د هغې ښې ځمکې څخه لېرې کړي چې تاسي ته يې درکړې ده. زما دا خبرې په خپل زړه او روح کې وساتئ او پر خپل لاس يې د نښان په توګه وتړئ، او دا به ستاسي د سترګو په مينځ کې د يادګار په څېر وي. تاسي بايد دا خبرې خپلو اولادونو او شاګردانو ته ورسوئ، او کله چې په کور کې ناست ياست، کله چې پر څرګ ځئ، کله چې پر ځای پرېوځئ او ويده کېږئ او کله چې راويښ شې، نو بايد د دې خبرو يادونه وکړئ. تاسي بايد دا خبرې د خپلو دروازو پر چوکاټونو او د سرايونو پر دروازو وليکئ؛ نو په دې توګه به پر هغې مځکې ستاسي او ستاسي د اولادونو د استوګنې موده اوږده شي چې څښتن ستاسي نيکه ګانو ته ورکړې او قسم يې خوړلی چې ترڅو چې آسمان له ځمکې څخه پورته وي، دا ځمکه به د هغو وي.

خدای د موسی سره خبرې وکړې او داسي يې ورته وويل: د بني اسرائيلو سره خبرې وکړه او ورته ووايه چې د خپلو ټولو نسلونو پر څلورکونجو جامو (پټوانو) د تارونو څرمې (حاشيې) جوړې کړي او د هر کونج پر څرمې دې يې يو (شين) تار و ځړوي. دې څرمو ته په کتو به تاسي ته ټول هغه احکام در په يادېږي چې څښتن تاسي ته درکړي او پلي کوئ به يې، چې په دې توګه به تاسي د خپل زړه او سترګو له غوښتنو راوګرځئ او لاروركي کېږئ به نه. دا د دې دپاره چې تاسي زما ټول حکمونه په ياد ولرئ او هغوی پلي کړئ او د خدای په حضور کې به سپېڅلي ياست.

[په لاندې آيت کې موږ د مصر څخه د خلاصون د يادولو حکم پلی کوو.]

زه ستاسي هغه پالونکی خدای يم چې تاسي مې د مصر څخه را و ايستلاست، زه ستاسي پالونکی يم، او زه پالونکی، ستاسي خدای يم.

## تر شيما اسرائيل وروسته ثناء

زموږ دپاره دا خبرې رښتيني، له ايمانداري او اړيني دي چې هغه زموږ رب او خدای دی، او بېله ده بل هيڅ رب او خدای نشته او موږ اسرائيل د هغه خلک يو. هغه موږ د پاچاهانو له لاسونو ساتي، هغه داسي پاچاه دی چې موږ له ټولو ظالمانو ژغوري. هغه داسي خدای دی چې زموږ له ټولو دښمنانو څخه غچ اخلي، ټولو هغو خلکو ته جزاء ورکوي چې موږ ته زيان رسوي. زموږ روحانو ته ژوند ورکوي او موږ له غورځېدو ساتي. زموږ د دښمنانو پرځمکې زموږ لاربښوونه کوي، او موږ ته توان راکوي چې پر خپلو ټولو دښمنانو برلاسي شو. هغه خدای چې د فرعون څخه يې زموږ د خلاصون دپاره غچ واخيست، او د مصر پر سيمه يې د حام د اولادونو (حام د نوح زوی) عجايبې

نښې پرېښوولې. هغه په غوسه شو او د مصریانو ټول مشر زامنان یې ورته و وژل او خپل اسرائیل یې د هغو له منځه تلپاتې خپلواکۍ ته را و ایستل.

هغه خپلو خلکو ته اجازه ورکړه ترڅو د سره سمندر د اوبو د دېوالونو په منځ کې تېر شي، او هغه یې ټول ډوب کړل چې له دوی څخه یې کرکه کوله او غوښتل یې دوی و نیسي. د ده اولادو د ده طاقت ولید، نو د ده په نوم یې شکر اداء کړ او ثناء یې و ویله، او د هغه اصول یې په خپله خوښه و منل.

موسی او د اسرائیل اولادو ستا په نوم یوه ترانه و ویله، دوی په ټولو په خوند سره داسې و ویل: "ستا په څېر بل هیڅوک نشته، ای ربه، بل هیڅوک ستا په څېر لوړ او سپېڅلی نه دی. بل داسې څوک نشته چې په ثناء کې یې وېره وي او عجایب کارونه وکړای شي". ستا اولادو د سمندر پر غاړه ستا د اصولو ننداره وکړه، ای زموږ پالونکي خدایه. دوی په ټولو داسې سلا وکړه، راټول شول او ویې ویل: "د څښتن واک به تل او هر وخت چلېږي". او داسې لیکل شوي دي: "ځکه چې څښتن یعقوب و ساتلی، او د یوه زورور څخه یې و ژغوری". ته برکتناک یې، ای هغه ربه چې اسرائیل دي و ژغورل.

ای زموږ پلاره، موږ په آرامۍ سره ویده کړه، او د ښه ژوند او آرامۍ دپاره مو بیرته را پاڅوه، ای زموږ پاچاه، او موږ خپل د آرامۍ په پوښ کې وساته، او د ښو فکرونو مرسته راسره وکړه، او ستا د نوم په روی مو ژر تر ژره و ساته، او ژغورنه مو وکړه. او زموږ له منځه د دښمنانو، مرګ، تورې، ناروغۍ، خرابکارۍ، لوږې، خواشینۍ، ورانۍ او ساري ناروغیو ستونځې لېرې کړه. زموږ تر مخ او زموږ تر شا شیطانان دواړه مات او له منځه یوسه، او پر موږ د خپلو ساتونکو وزرو سیورۍ و غوړوه، او کله چې موږ له کوره وځو او بیرته راځو زموږ ساتنه وکړه، موږ ته اوس او د تل دپاره، ښه ژوند او آرامي را په برخه کړه. ځکه چې ته هغه خدای یې چې د هر بد شي او د شپو له وېرو څخه موږ ساتي او ژغورې. ته برکتناک یې ای خدایه، ای تل د خپلو خلکو اسرائیلو ساتونکې. امین.

[که لس اسرائیلیان سره یوځای عبادت کوي، نو یو د دوی څخه دي د قدیش عبادت تېر کړي او بیا دي ټول د ولاړو عبادت پیل کړي. او که ته یواځې وې، نو سملاسي د ولاړو عبادت پیل کړه].

## د اوونۍ د ورځو د ماښامني عبادت د ولاړو برخه

[د یوریشیلم پر خوا مخ کړه او دواړه ورونونه سره و نښلوه. احساسات دي سره راټول او د هغه حالت په هکله فکر وکړه چې انسان څنګه د خپل خالق سره خبرې کوي، او خالق په حقیقت کې هغو ته

غوږ نیسي او د انسان د عبادت سره مینه لري. د هر او هر یوه پر کلماتو تمرکز وکړه، او د هر لغات/کلمې په یادولو د خدای څخه د وېرې او د هغه سره د مینې احساس وکړه، په تېره بیا د هرې ثنا په پای کې، او همدارنګه د لومړۍ ثناء پر مهال].

[عبادت یوځل د ورځې په لومړیو څلورو ساعتونو کې کېږي چې تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې پیل کېږي، یوځل د ورځې تر نیمایي نیم ساعت وروسته کېږي، چې دلته نیمه ورځ 12:00 بجې نه، بلکې تر لمر ختو د 1:15 ساعته مخکې وخت څخه بیا د لمر لوېدو د وخت تر نیمایي پورې راځي؛ او یوځل تر لمر لوېدو وروسته عبادت کېږي. د سهار او شپې پر مهال د ځانګړو شرایطو پرته، عبادت باید تر شیما او د هغې تر ثنا وروسته ترسره شي].

**ای زما څښتنه، زما شونډې پرانیزه، او زما خوله به ستا ثنا و وایي.**

[په لومړۍ او په اتلسمې ثناء کې د "ثناء" د لغت په ویلو سره ځان ټیټ کړه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره سر ټیټ کړه؛ د "د څښتن" د لغت په یادولو سره ځان سیده کړه او بیا د همدې لغت پر مهال خپل سر سیده کړه.]

1. [د عبادت هر لغت باید په اړینه توګه معنی ولري، په تېره بیا د لومړی ثناء هر لغت].

ته برکتناک یې؛ زموږ خدایه او زموږ د پلرونو خدایه؛ د ابراهیم خدایه؛ د اسحاق او د یعقوب خدایه؛ ستر، ځواکمن او ډارونکي خدایه؛ لوړ خدایه؛ ته مهربان یې؛ هر څه ستا په لاس کې دي، ته زموږ د نیکه ګانو نېکۍ په یاد ساتې او د هغو سره د خپلې مینې په ترڅ کې د هغوی د اولادونو د اولادو دپاره ژغورونکی را استوې.

[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:

موږ د ژوند دپاره په یاد لره، ای ژوند غوښتونکي پاچاه؛ موږ د ژوند په کتاب کې ولیکه، ستا د لټون دپاره، ای د ژوند مالکه.

ای مرسته کوونکی، ژغورونکي او ساتونکي خدایه.

[د "ثناء" د لغت په یادولو سره پر ملا کړوپ شه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره دې سر پر تېټر راټیټ کړه؛ د "رب" لغت په یادولو سره لومړی پر ملا سیده شه او بیا دې سر راپورته کړه].

برکتناک یې ای ربه، ای د ابراهیم ساتونکې.

2. ته تل لوړ یې، ای ربه، ته د بېلاري شوو خلکو سره مرسته کوې ترڅو توبه وکاږي. ته په پوره قوت سره مرسته ورسره کوې.

[په اوړي کې، چې د پېسخ د لومړی ورځې او د شکوت د اتمې ترمنځ دی، داسې و وايه: **خدای پرخه اوروي**].

[په ژمي کې داسې و وايه: **خدای باد را الوځوي او باران اوروي**].

شتمن په خپلې مهربانۍ کې ساتې، ېوزلو ته په پوره زړه سوي سره روزي ورکوي، د کمزورو لاسنیوی کوي، ناروغ ته روغتیا ور بخښي، بندیان خوشي کوي او په خاورو کې د پرتو په بیرته را ژوندي کولو سره خپله ژمنه پوره کوي. ستا په شان څوک کېدای شي ای د قوت څښتنه؛ او ستا سره څوک پرتله کېدای شي، ای پاچاه؛ هغه پاچاه چې خواشيني رامنځته کوي او بیرته خوښي راګرځوي او هم خلاصون ورکوي!

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې]:

ستا په شان څوک کېدای شي ای مهربان پلاره؛ ستا په پرتله څوک د خپلو مخلوقاتو د ژوندانه په اړه فکر کوي.

بېشکه چې یواځې ته مړي را ژوندي کولای شې. برکتناک يې ای ربه، ته هغه څوک یې چې مړي بیرته را ژوندي کوې.

3. ته سپېڅلی یې او ستا نوم سپېڅلی دی، او سپېڅلي مخلوقات دي د تل دپاره هره ورځ، ستاینه کوي.

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې ثناء د "د خدای" پر ځای په "پاچاه" سره پای ته ورسوه].

ته برکتناک یې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

ته برکتناک یې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

4. ته په مهربانۍ سره پر انسانانو پوهه لوروې او مړو ته هم عقل ورکوې.

[تر شنبې وروسته په لومړی شپه دغه ثناء ولولئ ترڅو د شنبې او اوونۍ د نورو ورځو د عبادت ترمنځ توپیر وشي]:

ای زموږ پالونکي خدایه، موږ ته په اخلاص سره پوهه او حکمت راکړه، تا موږ ته حکم کړی ترڅو د سپېڅلو او ناسپېڅلو، رڼا او تیارې، اسرائیلو او نورو ملتونو او د اوونۍ د اوومې ورځې او شپږ کاري ورځو ترمنځ توپیر وکړو. په همدې توګه تا موږ د سیمې له نورو خلکو او ځمکې د کورنیو څخه جلا کړو، د مهربانۍ له مخې موږ له شیطان څخه خوندي او وساته، او همدارنګه له تصادفاتو او هغو شیانو څخه چې په دې نړۍ کې پېښیږي.

په خپلې مهربانۍ سره پر موږ حکمت، عقل او پوهه و لوروه. ته برکتناک يې ای مهربان او د پوهې لوروونکي خدايه.

5. زموږ سره مرسته وکړه چې خپل پلار او ستا تورات ته ور ستانه شو؛ موږ نږدې دروله، ای پاچاه، ترڅو ستا چوپړ وکړو؛ او موږ ځان ته د زړه له تله د توبې سره در و غواړه. ته برکتناک يې ای ربه، ای توبه خوښوونکي.
6. زموږ پلاره، موږ ته د هغو ګناهونو بخښنه وکړه چې موږ کړې دي؛ ای زموږ پاچاه، موږ وبخښه، موږ سرکښه يو؛ ځکه چې ته مهربان او زړه سواندی خدای يې. ته برکتناک يې ای ربه، مهربان يې چې په پريمانه توګه بخښنه کوې.
7. زموږ کمزوري په پام کې ونيسه او زموږ جګړه پر مخ يوسه؛ او موږ ته ژر تر ژره په يو بشپړ خلاصو سره خلاص کړه، ترڅو ستا نوم ولټوو، ځکه چې خدايه، ته لوی خلاصون ورکوونکی يې. ته برکتناک يې ای خدايه، ای د اسرائيل ژغورونکې.
8. ای ربه، موږ ته شفاء راکړه چې جوړ شو؛ موږ ته خلاصون راکړه ترڅو و ژغورل شو؛ ځکه چې ته زموږ د ثناء لايق يې. موږ له ناروغيو او ټولو هغو شيان چې موږ ته درد راکوي، روغ کړه، او زموږ ټپونه راته روغ کړه؛ ځکه چې ته خدای، مهربان او جدي روغتيا بخښونکی يې. ته برکتناک يې ای خدايه، ای خپلو خلکو اسرائيلو ته شفاء ورکوونکې.

[په اوړي کې چې د اوربښت غوښتنه نه وي، داسې و وايه]:

9. پر موږ رحم وکړه، ای زموږ پالونکي خدايه، په هر هغه څه کې چې موږ يې کوو. او زموږ پر کال د غوښتنې سره سم د پرخې رحم وکړه، ستا په رحم او مهربانۍ سره، ترڅو د کال په پای کې موږ د ښه ژوند، خواړو او آرامۍ څښتنان و اوسو، لکه په يوه ښېرازه کال کې، ځکه چې ته يو ښه خدای يې او ښه کوې او پر کلونو رحم لوروې. ته برکتناک يې ای ربه، ای پر کلونو رحم کوونکې.

[په ژمي کې، کله چې د باران غوښتنه کېږي نو داسې و وايه]:

زموږ څښتن خدايه، زموږ په کال کې برکت واچوه او ښه حاصلات راکړه، او د ځمکې پر مخ د پرخې او باران رحمت و لوروه. سپېڅلې ځمکې ته کافي اوبه ورکړه، او ټوله نړۍ له خپلې مهربانۍ څخه ډکه کړه. او زموږ لاسونه ستا د مهربانۍ او بېلابېلو ډاليو څخه ډک کړه. دا کال له هر ډول بدو خبرو، ورانيو او هرډول پېښو څخه وساته، او دې کال ته مثبتې هيلې ور په برخه او په آرامۍ يې پای ته ورسوه. پر دې کال او د دې پر ټولو محصولاتو او مېوو زړه سوی او مهرباني ولره، او د غوښتنې سره سم د باران رحمت پرې وکړه، په خپلې مهربانۍ او زړه سوي سره، ترڅو د کال په

پای کې مونږ د ښه ژوند، خواړو او آرامۍ ښتنان و اوسو، لکه په یوه ښېرازه کال کې، ځکه چې ته هغه خدای یې چې تر ټولو ښه یې او ښه کارونه کوې او پر کلونو رحم کوې. ته برکتناک یې ای پر کلونو رحم کوونکي خدایه.

10. زمونږ د آزادۍ دپاره د شوفار تولکه و ږغوه [دا د پسه د ښکر څخه جوړېږي]؛ د شړني (تبعید) څخه د بیرته راټولېدلو دپاره مو بیرغ پورته کړه، او مونږ د ځمکي د څلورو کونجانو څخه بیرته سپېڅلي ځمکي ته راوله. ته برکتناک یې ای ربه، ای د خپلو تیتو شوو خلکو (اسرائیلو) ربه.

11. د پخوا په څېر زمونږ قاضیان بیرته راوله، او همدا شان زمونږ قانونپوهان لکه په پیل کې چې وو؛ زمونږ څخه غم او سختۍ لیرې کړه، او پر مونږ خپل حکم ژر تر ژره وچلوه، ای ربه، یواځې ته یې چې د خپلي مهربانۍ او زړه سوي له مخې، او د خپلي رښتینولۍ او عدالت له مخې دا کارونه کولای شې.

[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې، راتلونکي ثناء په دغه الفاظو پای ته ورسوه "ته برکتناک یې ای ربه، ای د عدالت پاچاه"].

ته برکتناک یې ای ربه، ای د سخا او عدالت خوښوونکي پاچاه.

12. د غدارانو او مخبرانو هیلي ختمې کړه، بدکاران سملاسي له منځه یوسه؛ او ستا دښمنان او ستا څخه کرکه کوونکي په چټکۍ سره مات کړه؛ او ته زمونږ په ورځو کې ژر تر ژره د بدمرغۍ د دبدبې رېښې وکاږه، د بدمرغۍ دبدبه ماته سپکه او کمزورې کړه. ته برکتناک یې ای ربه، ای د دښمنانو ماتوونکي او د غدارانو له منځه وړونکي.

13. ای زمونږ پالونکي خدایه، ستا مهرباني دي وشي، پر رښتینو، پرهېزګارو او ستا پر ټولو خلکو، د اسرائیل پر کورنۍ، د دوی څخه پر پاتیو ښو خلکو، پر هغو چې نوی یې ایمان راوړی وي او پر مونږ دي وشي؛ او هغو ته چې په رښتیني توګه ستا پر نوم باور لري ښه بدله ورکړه، او مونږ هم په هغو کې راوله؛ او مونږ به هیڅکله رسوا نه شو ځکه چې مونږ پر تا او ستا پر مهربانۍ باور لرو. ته برکتناک یې ای ربه، ای د رښتینو خلکو ملاتړې او ساتونکي.

14. خپل ښار، یوریشیلم ته بیرته راشه، ځکه تا حتی د غوسې پر مهال دا ژمنه کړې وه؛ او دلته ژر تر ژره د خپل خدمتګار (داود) پاچاهي بیرته رامنځته کړه، او دا ځای ژر تر ژره د یوه تلپاتي ښار په توګه ودان کړه. ته برکتناک یې ای ربه، ای د یوریشیلم بیارغوونکي.

15. مسیح، د داود زوی، ستا خادم، ژر تر ژره راوله، ترڅو ستا د خلاصون په وسیله خپل قوت و ښیي، ځکه چې موږ ټل ستا د خلاصون په هیله یو. ته برکتناک یې ای ربه، ای د خلاصون د قوت خپروونکې.

16. زموږ ږغ واوره، ای زموږ پالونکې خدایه؛ ای مهربانه پلاره، پر موږ مهرباني وکړه، او زموږ عبادتونه په مهربانۍ او مینې سره راڅخه قبول کړه، ځکه چې ته هغه خدای یې چې عبادات او غوښتنې اورې.

[په دې ځای کې یوڅوک کولای شي چې خپله شخصي غوښتنه ور زیاته کړي]!

او موږ له ځانه تش لاسونه مه لیږه، ای زموږ پاچاه، پر موږ مهربان اوسه، او موږ ته ځواب راکوه، او زموږ عبادتونه قبلوه، ځکه چې ته د هرچا عبادت اورې. برکتناک یې ای ربه، ای د عباداتو قبلوونکې.

17. پر خپلو خلکو (اسرائیلو) احسان وکړه، ای پالونکې خدایه، او د هغو عبادتو ته پام کوه؛ ستا د عبادتځای په تر ټولو سپېڅلي مقام کې بیرته خدمات فعاله کړه، او په مینه سره د اسرائیلو قرباني او عبادات ترې قبول کړه؛ او ستا د خلکو (اسرائیلو) خدمت دې تاته ټل قبول وي.

[په راش هدیش (د نوې میاشتې لومړۍ ورځ) او د رخصتیو په منځ کې، دا لاندې شیان ور زیات کړه]:

زموږ خدایه او زموږ د پلرونو خدایه، ته خو وکړې چې زموږ او زموږ د پلرونو یادونه هلته ستا حضور ته در پورته شي، درشي او در ورسیږي، ته یې و وینې، و یې منې، وایې اورې او در په یاد یې کړې. او د دې [د نوې میاشتې ورځ – راش خودیش] ورځې په برکت دې خپل ښار یوریشیلم درته یاد شي، د داوود زوی او ستا خادم (مسیح) دې درته یاد شي، او خپل ټول خلک (د اسرائیل کورنۍ) دې د خلاصون دپاره، روغتیا، رحم، مهربانۍ، زړه سوي او ښه ژوند او آرام دپاره درته یاد شي.

پورته وروستۍ جمله د لاندې ورځو دپاره هم په ورته ډول ویله کیږي، لکه:

[د پیسخ د رخصتۍ په ورځ چې د مسسوت اختر ورته ویل کیږي]: د دې سپېڅلي ورځې په برکت.

[د شکوت د رخصتۍ په ورځ چې د شکوت اختر ورته وایې]: د دې سپېڅلي ورځې په برکت.

پر موږ مهرباني ولره او موږ و ژغوره. ای زموږ پالونکې ربه، په دې ورځې کې موږ په ښو یاد کړه؛ په دې ورځ پر موږ د برکت نظر کوه؛ او د دې ورځې په برکت زموږ سره د ښه ژوندانه

مرسته وکړه. د خلاصون او مهربانی د ژمني له مخې، زموږ ساتنه کوه او پر موږ زړه سواندی اوسه؛ او زموږ غمخوار اوسه او رحمت راباندې کوه او موږ وساته؛ ځکه چې زموږ سترګې یواځې ستا دربار ته دي او ته مهربان او زړه سواندی پاچاه يې.

په خپلې مهربانی سره، پر موږ احسان و لوروه او احسان راباندې وکړه او زموږ سترګې داسې جوړې کړه چې (سسيون) بيرته ستا راستنېدو ته پام وکړي. ته برکتناک يې ای ربه، ته په سسيون کې خپل سپېڅلی شتون بيرته بنيې.

[*د دې ثناء په پيل کې چې که د "زموږ" لغت يادوی، نو پر ملا کړوپ شه، خو د بل ځای برعکس به دلته سر نه کړوپوی. او د "رب" د لغت په يادولو سره بيرته سيده شه*].

18. موږ ډېر شکر کاږو چې ته تل تر تله زموږ او زموږ د پلرونو پالونکی رب يې. ته زموږ قوت يې، زموږ د ژوند قوت، او زموږ د خلاصون ساتندوی پوښ يې. زموږ هر نسل به ستا شکر اداء کوي او ستا کړه به بيانوي، ځکه چې زموږ د هر يوه ژوند ستا په لاس کې دی، موږ خپل روحان تاته سپارلي، ستا معجزې هره ورځ زموږ سره ملګرې دي، او ته هره ورځ حيرانوونکي او په زړه پورې کارونه ترسره کوې، دا کارونه تل کوې، په شپه کې، په سهار کې او په غرمه کې. ته ډېر ښه يې، ځکه چې ستا مهربانی هيڅکله نه ختميږي؛ ته تر هرچا مهربان يې، ځکه چې ستا زړه سوی هيڅکله نه ختميږي؛ او موږ تل تاته هيله لرو.

[*په خنوکه او پوريم کې دا لاندې څه هم ور زياتيږي*]:

موږ ستا څخه مننه کوو چې زموږ د نيکه ګانو دپاره دې په هغو ورځو کې پر دغه مهال معجزې کړې، هغوی ته دې خلاصون ورکړی، د هغو د ژغورلو او تسليت دپاره دې ستر او حيرانوونکي کارونه کړي.

[د خنوکې په ورځ يې له دې ځايه پيل کړه]: د مشر کاهن يوحونان د زوی متيتياهو په وخت کې، چې د هاشمونيې کورنی څخه و، او د هغه د زامنو په وخت کې، چې کله بېلارې يونانيان ستا د خلکو اسرائيلو پر وړاندې راپورته شول، او غوښتل يې چې هغوی ستا تورات هېر او ستا د رضا نافرماني وکړي. خو ته په خپلې مهربانی سره، د هغو سره د احتياج په وخت کې و دريدې. تا د دوی دپاره جګړه و کړه، د هغو د حقوقو دفاع دې وکړه او د هغو غچ دې واخيست. تا غښتلي د کمزورو، ډېر د لږو، ناخالص د خالصو، بېلارې د ربښتينو او ګناهګاران د هغو تر لاس لاندې کړل چې ځانونه يې ستا تورات ته وقف کړي وو. تا په خپله نړۍ کې يو ستر او سپېڅلی نوم خپل کړ، او په دې ورځ دې خپلو خلکو ته لوی خلاصون او ژغورنه ور په برخه کړله. نو ستا اولادونه ستا د عبادتځای روضې

ته ور ننوتل، عبادتځای يې پاک، جومات يې تصفيه، او په سپېڅلي غولي کې يې ډېوې بلې کړې، او دا د خنوکي اته ورځې يې د ستايني او شکريې دپاره و ټاکلې. تا زموږ د نيکه ګانو دپاره معجزې او حيرانوونکي کارونه کړي چې له کبله يې موږ تل ستا شکر اداء کوو.

[د پوريم په ورځ يې له دې ځايه پيل کړه]: د مردیخای او ایستر په وخت کې، د پارس په پلازمېنې شوشان کې، کله چې بېلارى (هامون) راپورته شو، او غوښتل يې چې ټول اسرائيل ، ځوان او زاړه، ماشومان او ښځې په يوه ورځ، د دوولسمي مياشتې يا ادهار پر ديارلسمي نېټې پوپنا، حلال او له منځه يوسي او شتمنی يې ترې لوټ کړي. خو تا د خپلې بې شاني مهربانۍ له مخې، د هغه نيت او اراده ناکامه او د ده په خپل زيان دې ورته تمام کړله، او دی او د ده زامن په هغې ونې پورې و ځړول شول چې ده د مردیخای د ځړولو دپاره تياره کړې وه. تا زموږ د نيکه ګانو دپاره معجزې او حيرانوونکي کارونه کړي چې موږ به يې له کبله تل ستا شکر اداء کوو.

نو ای زموږ پاچاه، د دې ټولو شيانو له کبله به تل او په جاري توګه ستا په نوم ثناء ويل کېږي، ستا نوم به ستايل کېږي او اوچت کېږي به.

*[د نوي کال او يوم کيپور ترمنځ په لسو ورځو کې دا لاندې څه ور زيات کړه]:*

ټول هغه خلک چې ستا په تړون کې شامل دي، د هغو په قسمت کې ښه ژوند وليکه.

او ټول به، په اخلاص سره او تر آبده، ستا په نوم ثناء وايي او ستاينه به يې کوي.

*[د دې ثناء په پای کې کله چې د "برکت" لغت ته را ورسېږې، نو پر ملا کړوپ شه؛ او د " ته" لغت ته په رارسېدو سره دې سر پر ټټر راټيټ کړه؛ او د "رب" لغت ته په رارسېدو سره بيرته پر ملا سيده شه او بيا د همدې لغت پر مهال دې سر هم سيده کړه].*

برکتناک يې، ته، ای ربه، ستا نوم ښه دی، او ستا شکر بايد اداء شي.

19. پر موږ او خپلو ټولو خلکو (اسرائيلو) آرامي، ښېګنې او برکتونه، ژوند، مهرباني، زړه سوی او شفقت و لوروه. او زموږ پلاره، پر موږ رحم وکړه، پر موږ ټولو په يوځل خپل د رحمت رڼا و خپره کړه. ځکه چې ای پالونکي خدايه، تا د خپلې رڼا په وسيله، موږ ته تورات او ژوند راکړی، مينه او زړه سوی دې راکړی، سخا او مهرباني دې راکړې، رحمت او آرامي دې راکړي. ستا پر خلکو اسرائيلو دې ستا د رحمت، تشويق او سولې نظر وي.

*[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:*

او د ژوند په کتاب، د رحمت او آرامی په کتاب، د نېکمرغی په کتاب، د خلاصون او ډاډیني په کتاب، او د مهربانیو د احکامو په کتاب کې دي موږ او ستا ټول خلک یعنې د اسرائیل کورنی لیکلي او درته یاد یو ترڅو د خوښ ژوند او آرامۍ څښتنان اوسو.

ته برکتناک یې ای ربه، ای پر خپلو خلکو اسرائیلو د آرامۍ رحمت کوونکي.

زما د خولې الفاظ دي تا ته قبول، او زما د زړه چرتونه دي ستا د پام وړ وي، ای د قوت او خلاصون بخښونکې ربه.

[دلته یوځوک کولای شي خپل شخصي عبادت ور زیات کړي. کله چې شخصي عبادت ور زیات شي، نو وروستی آیت (زما د خولې الفاظ دي تاته قبول وي ... ای د قوت او خلاصون بخښونکې) باید په پای کې بیاځلي و ویل شي].

*[د لاندې جملې تر تلاوت مخکې باید سړی یوڅه ټیټ شي، او په همدې ټیټ حالت کې درې ګامه تر شا واخلي؛ لومړی دي کېڼه پښه تر شاکړي، بیا ښې پښه او بیا دي کېڼه پښه تر هغه ترشا یوسي ترڅو د ښې سره څنګ پرڅنګ شي. چې لا د ټیټوالي څخه پورته شوی نه یې، بدن دي ربونده کېڼې خواته وګرځوه او داسې و وایه، "هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي"؛ ولاړ شه او بیا دي بدن ربونده ښې خواته کوږ کړه او داسې و وایه، "هغه دي موږ ته هم آرامي راولي" ولاړ شه او په پای کې د مخ خواته کوږ شه او و وایه، "او د ټولو اسرائیلو دپاره؛ امین"].*

[ربونده کېڼې خواته] هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي [د توبې په لسو ورځو کې یې داسې و وایه: "ځانګړې آرامي]، [ربونده ښې خواته] هغه دي موږ ته هم آرامي راولي، [بیا د مخ خواته کوږ شه] او ټولو اسرائیلو ته هم؛ امین.

[له ځانګړو ورځو پرته لکه نوې میاشت او رخصتی، په نورو کې باید تر هر عبادت وروسته سړی خدای ته د خپلو ګناهونو اقرار وکړي].

# دوهم څپرکی

## د شنبې (شبات) عبادتونه

### د شنبې (شبات) ماښامنی عبادت

### تر شیما اسرائیل مخکې ثناء

ته برکتناک یې ای ربه، ای زموږ خدایه، ای د نړۍ هغه پاچاه چې په خپلو خبرو سره شپه په حکمت سره خپروي، د عقل دروازې پرانیزي، پړاوونه تېروي او وخت بدلوي، او څنګه چې یې خوښه وي، په آسمان کې په خپلو ځایونو کې مبداوې ترتیبوي. ورځ او شپه پیداکوي، تر تیارې مخکې رڼا پټوي او تر رڼا مخکې تیاره پټوي، ورځ پای ته رسوي او شپه راولي، او د ورځې او شپې په منځ کې توپیر رامنځته کوي. د لښکرو رب، د هغه نوم دی. ته برکتناک یې ای ربه، ای د شپې راوستونکې.

تا د خپلو خلکو، د اسرائیل د کورنۍ سره، دایمي مینه وکړه، تا موږ ته تورات را زده کړ، احکام، قوانین او اصول دې را زده کړل. نو ځکه به ای زموږ پالونکې ربه، موږ په خوب او په ویښه کې ستا د قوانینو په هکله ږغیږو، په خوښۍ او په خوند سره به ستا تورات زده کوو، ستا احکام او قوانین به تل زده کوو. ځکه چې دا قوانین زموږ د ژوند تومنه او جوهر دي. موږ به دا قوانین په ورځ او شپه کې یادوو، او ستا مینه به تل زموږ ملګرتیا کوي. برکتناک یې ای ربه، ای د خپلو خلکو اسرائیلو سره مینه کوونکې.

### شیما اسرائیل

[د شیما په اړه په تورات کې دوه آیتونه ثابت دي چې یو یې په تورات کې لیکل شوی او بل زموږ پلار یعقوب په خوله را انتقال کړی دی. خو د پیغمبرانو د حکم له مخې باید د دې سره جوخت د تورات درې نور پاراګرافونه هم ولوستل شي. شیما اسرائیل باید د ورځې په لومړیو درو ساعتونو کې ولوستل شي؛ او ورځ تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې پیل کیږي. یو ځل تر لمر لوېدو وروسته، او یو ځل تر ویده کېدو مخکې، او که چېرې څوک د شپې نا وخته ویده کیږي نو یو ځل تر نیمې شپې مخکې ویل کیږي. نیمه شپه 0:00 بجو ته نه ویل کیږي، بلکې د نن ورځې د لمر لوېدو او سبا ورځې تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې وخت و نیمایي ته نیمه شپه ویل کیږي].

[سترګې دې پټې کړه او خپل ښې لاس پرې و نیسه او داسې و وایه]:

اسرائیل درک کړئ، ښښتن زموږ خدای دی، او ښښتن یو دی.

[د "یو" د کلمې په لوستلو او تر دې وروسته د هغه حقیقت په هکله فکر وکړه چې خدای هرڅه خپله پیداکړي او لا یې اوس هم ټولې هستۍ ته شتون ورکړی دی. د زړه له تله داسې پرېکړه وکړه چې د خدای رضا تر بل هرڅه درته مهمه ده، ان ستا تر ژوند هم. تصور وکړه چې که په ډېرو وژل کېږې بیا به هم هغه څه غوره کوې چې خدای یې غواړي. فکر وکړه چې که په اور کې په سوځولو وژل کېږې خو بیا به هم د خدای لاره پرې نه ږدې. او یا که په چاړه وژل کېږې، هم به د خدای سره اړیکه نه شلوې. د خدای رضا به حاصلوې که زندۍ کېږې هم. هم په دې نړۍ کې او هم په راتلونکې کې تر هر ډول انعام د خدای رضا درته غوره ده].

[یوه شېبه تم شه او بیا په داسې نرم ږغ دا لاندې درود و وایه چې ته یې خپله هم نه اورې]:

د هغه د پاچاهۍ د برم نوم دې تل پاک او سپېڅلی وي.

[یوه شېبه تم شه، بیا خپلې سترګې پرانیزه او و وایه]:

ته باید د خپل پالونکي خدای سره د زړه له تله، په ټوله روح او ټول ملکیت سره مینه ولرې. او دغه خبرې چې زه یې تاسې ته حکم کوم، باید نن ستا په زړه کې وي. ته باید دا خبرې خپلو اولادونو او شاګردانو ته ورسوې، او کله چې په کور کې ناست یې، کله چې پر څړک ځې، کله چې پر ځای پرېوځې او ویده کېږې، او کله چې راویښ شې نو باید د دې خبرو یادونه وکړې. ته باید دا خبرې د یوې نښې په توګه پر خپل لاس وتړې، او دا خبرې ستا د سترګو په منځ کې د یوه یادداښت په توګه ځای ولرې. او باید دا خبرې د دروازې پر چوکاټ او د سرای پر لویې دروازې (ګېټ) ولیکې.

او که تاسې د زړه له تله او په ټولې روح سره د خپل پالونکي خدای سره د مینې له کبله او د هغه د خدمت کولو په موخه زما د خبرو اطاعت وکړ، نو زه به پر مناسب وخت ستاسې پر ځمکو باران و اوروم، هم په پیل کې او هم په پای کې باران، چې تاسې به ډېرې غلې راټولې کړئ او د انګورو او زیتونو فصلونه به واخلئ. زه به ستاسې د څارویو دپاره ستاسې په کروندو کې واښه را شنه کړم، چې په دې توګه به تاسې په مړه ګېډه خواړه وخورئ. پام مو وي، داسې نه چې ستاسې زړونه لالهاندې او تاسې ګمراه شئ او د بُتانو عبادت پیل او هغو ته سجده وکړئ. ځکه چې که داسې وکړئ نو ښښتن به پر تاسې په غوسه شي، د آسمانونو دروازې به دربانډې بندې کړي، او ځمکه به خپل حاصل نه ورکوي، او په دې توګه به تاسې په ډېرې چټکۍ سره د هغې ښې ځمکې څخه لېرې کړي چې تاسې ته یې درکړې ده. زما دا خبرې په خپل زړه او روح کې وساتئ او پر خپل لاس یې د نښان په توګه وتړئ، او دا به ستاسې د سترګو په مینځ کې د یادګار په څېر وي. تاسې باید دا خبرې خپلو اولادونو

او شاګردانو ته ورسوئ، او کله چې په کور کې ناست یاست، کله چې پر څرک ځئ، کله چې پر ځای پرېوځئ او ویده کېږئ او کله چې راویښ شي، نو باید د دې خبرو یادونه وکړئ. تاسې باید دا خبرې د خپلو دروازو پر چوکاټونو او د سرایونو پر دروازو ولیکئ؛ نو په دې توګه به پر هغې مځکې ستاسې او ستاسې د اولادونو د استوګنې موده اوږده شي چې څښتن ستاسې نیکه ګانو ته ورکړې او قسم یې خوړلی چې ترڅو چې آسمان له ځمکې څخه پورته وي، دا ځمکه به د هغو وي.

خدای د موسی سره خبرې وکړې او داسې یې ورته وویل: د بني اسرائیلو سره خبرې وکړه او ورته ووایه چې د خپلو ټولو نسلونو پر څلورکونجو جامو (پټوانو) د تارونو څرمې (حاشیې) جوړې کړي او د هر کونج پر څرمې دې یې یو (شین) تار و ځړوي. دې څرمو ته په کتو به تاسې ته ټول هغه احکام در په یادېږي چې څښتن تاسې ته درکړي او پلي کوئ به یې، چې په دې توګه به تاسې د خپل زړه او سترګو له غوښتنو راوګرځئ او لارورکي کېږئ به نه. دا د دې دپاره چې تاسې زما ټول حکمونه په یاد ولرئ او هغوی پلي کړئ او د خدای په حضور کې به سپېڅلي یاست.

[په لاندې آیت کې موږ د مصر څخه د خلاصون د یادولو حکم پلی کوو.]

زه ستاسې هغه پالونکی خدای یم چې تاسې مې د مصر څخه را و ایستلاست، زه ستاسې پالونکی یم، او زه پالونکی، ستاسې خدای یم.

## تر شیما اسرائیل وروسته ثناء

زموږ دپاره دا خبرې رښتینې، ایمانداري او اړینې دي چې هغه زموږ رب او خدای دی، او بې له ده بل هیڅ رب او خدای نشته او موږ اسرائیل د هغه خلک یو. هغه موږ د پاچاهانو له لاسونو ساتي، هغه داسې پاچاه دی چې موږ له ټولو ظالمانو ژغوري. هغه داسې خدای دی چې زموږ له ټولو دښمنانو څخه غچ اخلي، ټولو هغو خلکو ته جزاء ورکوي چې موږ ته زیان رسوي. زموږ روحانو ته ژوند ورکوي او موږ له غورځېدو ساتي. زموږ د دښمنانو پر ځمکې زموږ لاربښوونه کوي، او موږ ته توان راکوي چې پر خپلو ټولو دښمنانو برلاسي شو. هغه خدای چې د فرعون څخه یې زموږ د خلاصون دپاره غچ واخیست، او د مصر پر سیمه یې د حام د اولادونو (حام د نوح زوی) عجایبې نښې پرېښوولې. هغه په غوسه شو او د مصریانو ټول مشر زامنان یې ورته و وژل او خپل اسرائیل یې د هغو له منځه تلپاتې خپلواکۍ ته را و ایستل.

هغه خپلو خلکو ته اجازه ورکړه ترڅو د سره سمندر د اوبو د دېوالونو په منځ کې تېر شي، او هغه یې ټول ډوب کړل چې له دوی څخه یې کرکه کوله او غوښتل یې دوی و نیسي. د ده اولادو د ده

طاقت ولید، نو د ده په نوم یې شکر اداء کړ او ثناء یې و ویله، او د هغه اصول یې په خپله خوښه و منل.

موسی او د اسرائیل اولادو ستا په نوم یوه ترانه و ویله، دوی په ټولو په خوند سره داسې و ویل: "ستا په څېر بل هیڅوک نشته، ای ربه، بل هیڅوک ستا په څېر لوړ او سپېڅلی نه دی. بل داسې څوک نشته چې په ثناء کې یې وېره وي او عجایب کارونه وکړای شي". ستا اولادو د سمندر پر غاړه ستا د اصولو ننداره وکړه، ای زموږ پالونکي خدایه. دوی په ټولو داسې سلا وکړه، راټول شول او ویې ویل: "د څښتن واک به تل او هر وخت چلیږي". او داسې لیکل شوي دي: "څکه چې څښتن یعقوب و ساتلی، او د یوه زورور څخه یې و ژغوری". ته برکتناک یې، ای هغه ربه چې اسرائیل دي و ژغورل.

ای زموږ پلاره، موږ په آرامی سره ویده کړه، او د ښه ژوند او آرامی دپاره مو بیرته را پاڅوه، ای زموږ پاچاه، موږ خپل د آرامی په پوښ کې وساته، او د ښو فکرونو مرسته راسره وکړه، او ستا د نوم په روی سره ژره تر ژره هم پر موږ او هم پر خپل ښار یوریشیلم ستا د مهربانۍ او آرامی پوښ را تاو کړه. ته برکتناک یې ای زموږ ساتندویه ربه، چې د آرامی د پوښ په وسیله د خپلو ټولو خلکو اسرائیلو او یوریشیلم ساتنه کوې. امین

[که لس اسرائیلیان سره یوځای عبادت کوي، نو یو د دوی څخه دې د قدیش عبادت تېر کړي او بیا دې ټول د ولاړو عبادت پیل کړي. او که ته یواځې وې، نو سملاسي د ولاړو عبادت پیل کړه.]

## د شنبې (شبات) د ماښامني عبادت د ولاړو برخه

ای زما څښتنه، زما شونډې پرانیزه، او زما خوله به ستا ثنا و وایي.

[په لومړی او په اتلسمې ثناء کې د "ثناء" د لغت په ویلو سره ځان ټیټ کړه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره سر ټیټ کړه؛ د "د څښتن" د لغت په یادولو سره ځان سیده کړه او بیا د همدې لغت پر مهال خپل سر سیده کړه.]

1. [د عبادت هر لغت باید په اړینه توګه معنی ولري، په تېره بیا د لومړی ثناء هر لغت].

ته برکتناک یې؛ زموږ خدایه او زموږ د پلرونو خدایه؛ د ابراهیم خدایه؛ د اسحاق او د یعقوب خدایه؛ ستر، ځواکمن او ډارونکي خدایه؛ لوړ خدایه؛ ته مهربان یې؛ هر څه ستا په لاس کې دي، ته زموږ د نیکه ګانو نېکی په یاد ساتې او د هغو سره د خپلې مینې په ترڅ کې د هغوی د اولادونو د اولادو دپاره ژغورونکی را استوې.

[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:

مور د ژوند دپاره په یاد لره، ای ژوند غوښتونکي پاچاه؛ مور د ژوند په کتاب کې ولیکه، ستا د لټون دپاره، ای د ژوند مالکه.

ای مرسته کوونکی، ژغورونکي او ساتونکي خدایه.

[د "ثناء" د لغت په یادولو سره پر ملا کړوپ شه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره دي سر پر تټر راټیټ کړه؛ د "رب" لغت په یادولو سره لومړی پر ملا سیده شه او بیا دي سر راپورته کړه].

برکتناک یې ای ربه، ای د ابراهیم ساتونکي.

2. ته تل لوړ یې، ای ربه، ته د بېلاري شوو خلکو سره مرسته کوې ترڅو توبه وکاږي. ته په پوره قوت سره مرسته ورسره کوې.

[په اوړي کې، چې د پیسخ د لومړۍ ورځې او د شکوت د اتمې ترمنځ دی، داسې و وایه: **خدای پرخه اوروي**].

[په ژمي کې داسې و وایه: **خدای باد را الوځوي او باران اوروي**].

شتمن په خپلې مهربانۍ کې ساتي، بېوزلو ته په پوره زړه سوي سره روزي ورکوي، د کمزورو لاسنیوی کوي، ناروغ ته روغتیا ور بخښي، بندیان خوشي کوي او په خاورو کې د پرتو په بیرته را ژوندي کولو سره خپله ژمنه پوره کوي. ستا په شان څوک کېدای شي ای د قوت څښتنه؛ او ستا سره څوک پرتله کېدای شي، ای پاچاه؛ هغه پاچاه چې خواشیني رامنځته کوي او بیرته خوښي راګرځوي او هم خلاصون ورکوي!

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې]:

ستا په شان څوک کېدای شي ای مهربان پلاره؛ ستا په پرتله څوک د خپلو مخلوقاتو د ژوندانه په اړه فکر کوي.

بېشکه چې یواځې ته مړي را ژوندي کولای شې. برکتناک یې ای ربه، ته هغه څوک یې چې مړي بیرته را ژوندي کوې.

3. ته سپېڅلی یې او ستا نوم سپېڅلی دی، او سپېڅلي مخلوقات دي د تل دپاره هره ورځ، ستاینه کوي.

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې ثناء د "د خدای" پر ځای په "پاچاه" سره پای ته ورسوه].

ته برکتناک یې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

ته برکتناک يې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

4. تا د خپل نوم د لټون دپاره اوومه ورځ سپېڅلې کړه، د آسمان او ځمکې د کار په موخه. او تا پر دې ورځې، له ټولو ورځو څخه برکت ور زيات کړ، او دا ورځ دې تر ټولو وختونو سپېڅلې کړه، او په دې اړه ستا په تورات کې داسې ليکلی شوي: "او د آسمان او مځکې کار او په هغو کې دننه نور کارونه ټول تر سره شول. او خدای په اوومه ورځ خپل ټول کارونه چې هغه ترسره کول، بشپړ کړل؛ او هغه په اوومه ورځ ټول هغه هنرونه چې هغه ترسره کول، و درول. او خدای اوومه ورځ سپېڅلې وګرځوله، ځکه چې په دې ورځ هغه ټول هغه هنرونه چې هغه خلق کول، و درول".

او ټول هغه کسان چې شبات ويني، هغوی به ستا له حاکميت څخه خوښ وي، او همدارنګه هغه کسان چې په خوند سره ستا تورات زده کوي او اوومه ورځ يې سپېڅلې ګرځولې وي. دا خلک به ټول ستا په ښېګڼو ماړه او خوند به ترې واخلي. او تا د اوومې ورځې غوښتنه وکړه او هغه دې سپېڅلې کړه، تا د نړۍ د پيدايښت په ياد کې، دې ورځې ته د غوښتنې وړ (مطلوبه) ورځ وويل.

زموږ او زموږ د پلرونو خدايه، د مهربانۍ له مخې زموږ له آرام څخه راضي شه، موږ په خپل حکم سره سپېڅلي کړه، موږ له خپل تورات څخه برخمن کړه، موږ په خپلو ښېګڼو ماړه کړه، زموږ روحان په خپل خلاصون خوښ کړه، او زموږ زړونه پاک کړه ترڅو په رښتينې توګه ستا عبادت وکړو. زموږ پالونکې خدايه، موږ ته په مينې او ستا د رضا سره شبات رانصيب کړه، او ټول هغه اسرائيل چې ستا نوم سپېڅلی ګڼي، هغوی به په دې نوم کې سکون و مومي. ته برکتناک يې ای د سپېڅلي شبات ربه.

5. پر خپلو خلکو (اسرائيلو) احسان وکړه، ای پالونکې خدايه، او د هغو عبادتو ته پام کوه؛ ستا د عبادتځای په تر ټولو سپېڅلي مقام کې بيرته خدمات فعاله کړه، او په مينه سره د اسرائيلو قرباني او عبادات ترې قبول کړه؛ او ستا د خلکو (اسرائيلو) خدمت دې تاته تل قبول وي.

[په راش هديش (د نوې مياشتې لومړۍ ورځ) او د رخصتيو په منځ کې، دا لاندې شيان ور زيات کړه]:

زموږ خدايه او زموږ د پلرونو خدايه، ته خو وکړې چې زموږ او زموږ د پلرونو يادونه هلته ستا حضور ته در پورته شي، درشي او در ورسېږي، ته يې و وينې، و يې منې، وايې اورې او در په ياد يې کړې. او د دې [د نوې مياشتې ورځ – راش خوديش] ورځې په برکت دې خپل ښار يوريشيلم درته ياد شي، د داود زوی او ستا خادم (مسيح) دې درته ياد شي، او خپل ټول خلک (د اسرائيل

کورنۍ) دي د خلاصون دپاره، روغتيا، رحم، مهرباني، زړه سوي او ښه ژوند او آرام دپاره درته ياد شي.

پورته وروستۍ جمله د لاندې ورځو دپاره هم په ورته ډول ويله کيږي، لکه:

[د پيسخ د رخصتۍ په ورځ چې د مسسوت اختر ورته ويل کيږي]: د دې سپېڅلي ورځې په برکت.

[د شکوت د رخصتۍ په ورځ چې د شکوت اختر ورته وايي]: د دې سپېڅلي ورځې په برکت.

پر موږ مهرباني ولره او موږ و ژغوره. ای زموږ پالونکي ربه، په دې ورځې کې موږ په ښو ياد کړه؛ په دې ورځ پر موږ د برکت نظر کوه؛ او د دې ورځې په برکت زموږ سره د ښه ژوندانه مرسته وکړه. د خلاصون او مهرباني د ژمني له مخې، زموږ ساتنه کوه او پر موږ زړه سواندی اوسه؛ او زموږ غمخوار اوسه او رحمت راباندې کوه او موږ وساته؛ ځکه چې زموږ سترګې يواځې ستا دربار ته دي او ته مهربان او زړه سواندی پاچاه يې.

په خپلې مهربانۍ سره، پر موږ احسان و لوروه او احسان راباندې وکړه او زموږ سترګې داسې جوړې کړه چې (سسيون) بيرته ستا راستنېدو ته پام وکړي. ته برکتناک يې ای ربه، ته په سسيون کې خپل سپېڅلی شتون بيرته ښيي.

*[د دې ثناء په پيل کې چې که د "زموږ" لغت يادوي، نو پر ملا کړوپ شه، خو د بل ځای برعکس به دلته سر نه کړوپوې. او د "رب" د لغت په يادولو سره بيرته سيده شه]*.

6. موږ ډېر شکر کاږو چې ته تل تر تله زموږ او زموږ د پلرونو پالونکی رب يې. ته زموږ قوت يې، زموږ د ژوند قوت، او زموږ د خلاصون ساتندوی پوښ يې. زموږ هر نسل به ستا شکر اداء کوي او ستا کړه به بيانوي، ځکه چې زموږ د هر يوه ژوند ستا په لاس کې دی، موږ خپل روحان تاته سپارلي، ستا معجزې هره ورځ زموږ سره ملګرې دي، او ته هره ورځ حيرانوونکي او په زړه پورې کارونه ترسره کوې، دا کارونه تل کوې، په شپه کې، په سهار کې او په غرمه کې. ته ډېر ښه يې، ځکه چې ستا مهرباني هيڅکله نه ختمېږي؛ ته تر هرچا مهربان يې، ځکه چې ستا زړه سوی هيڅکله نه ختمېږي؛ او موږ تل تاته هيله لرو.

*[په خنوکه او پوريم کې دا لاندې څه هم ور زياتېږي]*:

موږ ستا څخه مننه کوو چې زموږ د نيکه ګانو دپاره دې په هغو ورځو کې پر دغه مهال معجزې کړې، هغوی ته دې خلاصون ورکړی، د هغو د ژغورلو او تسليت دپاره دې ستر او حيرانوونکي کارونه کړي.

[د خنوکي په ورځ يې له دې ځايه پيل کړه]: د مشر کاهن يوحونان د زوی متيتياهو په وخت کې، چې د هاشمونيي کورنی څخه و، او د هغه د زامنو په وخت کې، چې کله بېلارې يونانيان ستا د خلکو اسرائيلو پر وړاندې راپورته شول، او غوښتل يې چې هغوی ستا تورات هېر او ستا د رضا نافرماني وکړي. خو ته په خپلې مهربانی سره، د هغو سره د احتياج په وخت کې و درېدې. تا د دوی دپاره جګړه و کړه، د هغو د حقوقو دفاع دې وکړه او د هغو غچ دې واخيست. تا غښتلي د کمزورو، ډېر د لږو، ناخالص د خالصو، بېلارې د ربښتينو او ګناهګاران د هغو تر لاس لاندې کړل چې ځانونه يې ستا تورات ته وقف کړي وو. تا په خپله نړۍ کې يو ستر او سپېڅلی نوم خپل کړ، او په دې ورځ دې خپلو خلکو ته لوی خلاصون او ژغورنه ور په برخه کړله. نو ستا اولادونه ستا د عبادتځای روضې ته ور ننوتل، عبادتځای يې پاک، جومات يې تصفيه، او په سپېڅلي غولي کې يې ډېوې بلې کړې، او دا د خنوکي اته ورځې يې د ستاينې او شکريې دپاره و ټاکلې. تا زموږ د نيکه ګانو دپاره معجزې او حيرانوونکي کارونه کړي چې له کبله يې موږ تل ستا شکر اداء کوو.

[د پوريم په ورځ يې له دې ځايه پيل کړه]: د مرديخای او ايستر په وخت کې، د پارس په پلازمېنې شوشان کې، کله چې بېلارې (هامون) راپورته شو، او غوښتل يې چې ټول اسرائيل ، ځوان او زاړه، ماشومان او ښځې په يوه ورځ، د دوولسمې مياشتې يا ادهار پر ديارلسمې نېټې پوپنا، حلال او له منځه يوسي او شتمنی يې ترې لوټ کړي. خو تا د خپلې بې شانې مهربانی له مخې، د هغه نيت او اراده ناکامه او د ده په خپل زيان دې ورته تمام کړله، او دی او د ده زامن په هغې ونې پورې و ځړول شول چې ده د مرديخای د ځړولو دپاره تياره کړې وه. تا زموږ د نيکه ګانو دپاره معجزې او حيرانوونکي کارونه کړي چې موږ به يې له کبله تل ستا شکر اداء کوو.

نو ای زموږ پاچاه، د دې ټولو شيانو له کبله به تل او په جاري توګه ستا په نوم ثناء ويل کېږي، ستا نوم به ستايل کېږي او اوچت کېږي به.

*[د نوي کال او يوم کيپور ترمنځ په لسو ورځو کې دا لاندې څه ور زيات کړه]:*

ټول هغه خلک چې ستا په تړون کې شامل دي، د هغو په قسمت کې ښه ژوند وليکه.

او ټول به، په اخلاص سره او تر آبده، ستا په نوم ثناء وايي او ستاينه به يې کوي.

*[د دې ثناء په پای کې کله چې د "برکت" لغت ته را ورسیږي، نو پر ملا کړوپ شه؛ او د " ته" لغت ته په رارسېدو سره دې سر پر ټټر راټیټ کړه؛ او د "رب" لغت ته په رارسېدو سره بیرته پر ملا سیده شه او بیا د همدې لغت پر مهال دې سر هم سیده کړه].*

برکتناک یې، ته، ای ربه، ستا نوم ښه دی، او ستا شکر باید اداء شي.

7. پر موږ او خپلو ټولو خلکو (اسرائیلو) آرامي، ښېګڼې او برکتونه، ژوند، مهرباني، زړه سوی او شفقت و لوروه. او زموږ پلاره، پر موږ رحم وکړه، پر موږ ټولو په یوځل خپل د رحمت رڼا و خپره کړه. ځکه چې ای پالونکي خدایه، تا د خپلې رڼا په وسیله، موږ ته تورات او ژوند راکړی، مینه او زړه سوې دې راکړی، سخا او مهرباني دې راکړې، رحمت او آرامي دې راکړي. ستا پر خلکو اسرائیلو دې ستا د رحمت، تشویق او سولې نظر وي.

*[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:*

او د ژوند په کتاب، د رحمت او آرامۍ په کتاب، د نېکمرغۍ په کتاب، د خلاصون او ډاډینې په کتاب، او د مهربانیو د احکامو په کتاب کې دې موږ او ستا ټول خلک یعنې د اسرائیل کورنۍ لیکلي او درته یاد یو ترڅو د خوښ ژوند او آرامۍ څښتنان اوسو.

ته برکتناک یې ای ربه، ای پر خپلو خلکو اسرائیلو د آرامۍ رحمت کوونکي.

زما د خولې الفاظ دې تا ته قبول، او زما د زړه چرتونه دې ستا د پام وړ وي، ای د قوت او خلاصون بخښونکې ربه.

[دلته یوځوک کولای شي خپل شخصي عبادت ور زیات کړي. کله چې شخصي عبادت ور زیات شي، نو وروستی آیت (زما د خولې الفاظ دې تاته قبول وي ... ای د قوت او خلاصون بخښونکې) باید په پای کې بیاځلي و ویل شي].

*[د لاندې جملې تر تلاوت مخکې باید سړی یوڅه ټیټ شي، او په همدې ټیټ حالت کې درې ګامه تر شا واخلي؛ لومړی دې کیڼه پښه تر شاکړي، بیا ښې پښه او بیا دې کیڼه پښه تر هغه ترشا یوسي ترڅو د ښې سره څنګ پرڅنګ شي. چې لا د ټیټوالي څخه پورته شوی نه یې، بدن دې ربونده کیڼې خواته وګرځوه او داسې و وایه، "هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي"؛ ولاړ شه او بیا دې بدن ربونده ښې خواته کوږ کړه او داسې و وایه، "هغه دې موږ ته هم آرامي راولي" ولاړ شه او په پای کې د مخ خواته کوږ شه او و وایه، "او د ټولو اسرائیلو دپاره؛ امین"].*

[رېونده کېښي خواته] هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي [د توبې په لسو ورځو کې يې داسي و وايه: "ځانګړې آرامي]، [رېونده ښي خواته] هغه دي موږ ته هم آرامي راولي، [بيا د مخ خواته کوږ شه] او ټولو اسرائيلو ته هم؛ امين.

[له ځانګړو ورځو پرته لکه نوې مياشت او رخصتی، په نورو کې بايد تر هر عبادت وروسته سړی خدای ته د خپلو ګناهونو اقرار وکړي].

## هغه آيت چې د شنبې تر ماښامني عبادت وروسته لوستل کيږي

"او د آسمان او ځمکې کار او په هغو کې دننه نور کارونه ټول تر سره شول. او خدای په اوومه ورځ خپل ټول کارونه چې هغه ترسره کول، بشپړ کړل؛ او هغه په اوومه ورځ ټول هغه هنرونه چې هغه ترسره کول، و درول. او خدای اوومه ورځ سپېڅلي وګرځوله، ځکه چې په دې ورځ هغه ټول هغه هنرونه چې هغه خلق کول، و درول".

# د شنبې (شبات) سهارنی عبادت

## هغه د پسلم ترانې چې تر سهارني عبادت مخکې ويل کيږي

د پسلم تر ترانې ويلو مخکې دغه ثناء په ولاړو و واياست:

پاک او د برکت څښتن دی هغه څوک چې په وينا يې دا نړۍ پيدا کړې، هغه لره دې پاکي وي.

پاک او د برکت څښتن دی هغه څوک چې وايي او کوي يې، پاک دی هغه څوک چې ژمنه کوي او پر خپلې ژمنې درېږي.

برکتناک دی هغه څوک چې هرڅه يې پيداکړي، برکت دی هغه چا لره چې پر دې ځمکې مهربانه دی، برکت دی هغه چا لره چې پر دې مخلوقاتو مهربانه دی.

برکتناک دی هغه څوک چې خپلو بنده ګانو ته ښه انعام ورکوي، برکتناک دی هغه څوک چې تل ژوندی او د آبد دپاره شتون لري.

برکتناک دی هغه څوک چې ژغورونکی او آزادي ورکوونکی دی، د هغه نوم برکتناک دی.

ته برکتناک او پاک يې ای زموږ ربه، ای د نړۍ پاچاه، ای زموږ د پلار په خبر مهربانه خدايه، ای د خپلو خلکو د ثناء وړ خدايه. ای خدايه، ستا سره د مينې لرونکو او ستا خادمانو پر ژبه تل ستا د ستاينې او ښکلا بيان کيږي؛ او همدارنګه ستا د خادم داود پاچاه په غزل کې دي ستاينه کيږي، موږ

به په ثناء ویلو او ترانو سره تا یادوو ای زموږ پالونکي خدایه، او ستا لویي به بیانوو، ثناء به دي وایو، ستاینه به دي کوو، ستا درناوی به کوو، او ستا نوم به اخلو ای زموږ پاچاه، ای خدایه، ای یوائځینی خدایه، ای د نړۍ خالقه، ای هغه پاچاه چې تل یې په نوم ثناء ویل کېږي او ستاینه یې کېږي. ته برکتناک یې ای خدایه، ای پاچاه ای د ثناء او صفت لایقه.

## د پسلم ترانه

خوښ دي هغه کسان چې ستا په کور کې اوسېږي او تل ستا ستاینه کوي.

خوښ دي هغه خلک چې دا ډول ژوند کوي! خوښ دي هغه خلک چې لوی خدای یې پالونکی وي.

**د داود د ثناء پسلم:** زه به تل ستا لویي بیانوم، ای زما خدایه، ای د نړۍ پاچاه، او زه به تل –تر-تله ستا په نوم برکت غواړم.

او زه به هره ورځ ستا برکت غواړم، او ستا د نوم ستاینه به تل-تر-تله کوم.

رب ډېر لوی دی، او د لویی ستاینه یې کېږي؛ او د هغه لویي دومره ده چې نه اندازه کېږي.

هر نسل به ستا د کارونو ستاینه کوي، او ستا ځواکمني کړني به بیانوي.

زه به ستا عزت او عظمت او کمالونه بیانوم.

خلک به ستا د ډاروونکو کړنو په اړه خبرې کوي، او زه به ستا لویي بیانوم.

خلک به ستا ښه والی بیانوي او خېروي به یې، او ستا د حقانیت ترانه به وایي.

لوی رب ډېر مهربان او زړه سواندی دی، ژر نه په غوسه کېږي او لویه مهرباني لوروي.

لوی رب د هر چا سره ښه کوي، او پر خپلو ټولو مخلوقاتو یوشان زړه سوی لري.

ستا ټول مخلوقات به ستا ستاینه کوي، ای ربه؛ ستا پرهېزګاران به ستا لویي بیانوي.

دوی به ټول ستا د سترې پاچاهۍ په هکله خبرې کوي، او ستا لوړ طاقت به بیانوي؛ ترڅو د انسانانو زامنو ته ستا ځواکمني کړنې او عظیم سلطنت ور وپېژني.

ستا پاچاهي به آبدي وي، او ستا حکومت به په هر نسل کې چلېږي.

لوی ښتن ټول هغه خلک ساتي چې لوېدلي وي، او هغه راپورته کوي چې سرونه یې ټیټ شوي وي.

د ټولو سترګې ستا دربار ته دي او ته ټولو ته پر وخت روزي ورکوې.

ته خپل لاسونه پرانیزې، او د هر ژوندي شي غوښتنې پوره کوې.

ښښتن په خپلو ټولو لارو کې صادق او په خپلو ټولو کارونو کې مهربان دی.

ښښتن ټولو هغو کسانو ته نږدې دی چې د ده يادونه کوي، او ټولو هغو ته چې په اخلاص سره د ده يادونه کوي.

خدای به د ټولو هغو خلکو غوښتنې پوره کړي چې له هغه څخه ډارېږي؛ هغه به د دې خلکو ژړاوې هم واوري، او ساتنه به يې وکړي.

ښښتن د ټولو هغو خلکو ساتنه کوي چې له ده سره مينه لري؛ خو ټول خراب خلک به نابود کړي.

زما خوله به د ښښتن د ستايني خبرې کوي؛ او ټول جسم به مې د تل دپاره د ده د پاک نوم صفت کوي.

او موږ به تر دې وروسته، د تل دپاره د ښښتن ثناء وايو. حمد دې وي خدای لره.

### د پسلم دوهمه ترانه

هليلوياه! د خدای د سپېڅلي مقام ستاينه وکړئ، د هغه په لوړ مقام کې د هغه لويي بيان کړئ.

د هغه د عالي کړنو ستاينه وکړئ، داسې ستاينه چې د هغه د لوړ شان او لويی سره وړ وي.

د شوفار په ږغولو سره د هغه ستاينه وکړئ، د پسلتري او لايرى په ږغولو سره د هغه ستاينه وکړئ. [دا د رباب په څېر لرغوني د موسيقی آلې دې]

په ډولونو او نڅاګانو د هغه ستاينه وکړئ، د موسيقی د تارلرونکو آلو او تولو (نل) په ږغولو د هغه ستاينه وکړئ.

په خوږو ږغونو سره د هغه ستاينه وکړئ، په آنګازه لرونکو ږغونو سره يې ستاينه وکړئ.

هره روح به د خدای ستاينه کوي. هليلوياه

### د پسلم تر ترانې وروسته ثناء

موږ به تل ستا د نوم ستاينه کوو، ای زموږ پاچاه، ای خدايه، ای د آسمانو او مځکې لوی او سپېڅلي پاچاه، ځکه چې ای زموږ او زموږ د پلار پالونکي خدايه، که شعرونه وي که ستايني، که سينګار وي که غزلې، که غيرت وي که حکومت، آبديت وي که لويي، که زور وي که درناوی، که ښايست وي که سپېڅلتيا او پاچاهي، دا ټول يواځې ستا دپاره مناسب او ستا سره ښايي. ستا په ستر او سپېڅلي نوم ثناء وايو او شکر اداء کوو، ته به تل تر تله يې ای خدايه. حمد دې وي تا لره ای لوی پاچاه چې تل ستايل کيږې، ای هغه خدايه چې موږ دې تل په زړونو کې ساتو، ای د عجايبو ربه، ای د ټولو ارواحو

خالقه، ای د ټولو کارونو واکداره، ای د ټولو ثناء ویونکو ترانو ټاکونکې، ای پاچاه، ای د نړۍ پیدا کوونکې خدایه. آمین

## تر شیما اسرائیل وړاندې ثناء

ته برکتناک یې ای زموږ پالونکې خدایه، ای د نړۍ پاچاه، ای د رڼا او تیارو خالقه، ای د آرامۍ او هر شي خالقه. هر یو به ستا شکر اداء کوي، او هر یو به ستا ستاینه کوي، او هر یو به وایي چې "تر ښښتن بل هیڅوک سپېڅلی نشته". هر یو به تل تر تله ستا نوم اخلي، ته هغه څوک یې چې هر شی پیداکوې.

خدای چې د ختیځ دروازې پرانیزي او د آسمان کړکۍ ماتوي، نو لمر خپل ځای ته او سپوږمۍ خپل موقعیت ته راولي، او په دې توګه پر ټولې نړۍ او خپلو خلکو چې ده په مینه پیدا کړي، رڼا خپروي. هغه په ډېرې مهربانۍ سره پر ځمکې او هغو چې پر ځمکې اوسېږي، رڼا راولي؛ او په خپل رحمت سره هره ورځ هر شي ته چې ده پیدا کړی، ژوند ور بخښي.

ستا کارونه خورا ډېر دي ای ربه، او ته ټول په حکمت سره ترسره کوې، ځمکه ستا په ملکیت ډکه ده. ته ستر پاچاه یې، تل یواځې یې، تل ستا صفتونه کېږي او ستا ښکلا بیانېږي، او د وخت د پیل څخه تر هرڅه لوړ یې. ای د نړۍ خدایه، ستا په لویې مهربانۍ سره، پر موږ رحم وکړه، ته هغه رب یې چې موږ ته دې طاقت راکړی، ته زموږ د خوندیتوب بنسټ یې، ته د خلاصون پر لور زموږ د هیلو ساتندوی یې، ته هغه څوک یې چې زموږ ساتنې ته پام کوې.

ستا سیالي هیڅوک نه شي کولای، او ستا سره بل هیڅ شریک نشته. ستا له رضا پرته هیڅ نشته، او ستا په شان بل هیڅوک نه دی. ای زموږ پالونکې ربه، ته نه په دې نړۍ کې سیال لرې او نه هم ای زموږ پاچاه، په هغې نړۍ کې ستا سره شریک شته. بېله ستا له رضا څخه هیڅ نشته، ای د موسی په وخت کې زموږ ژغورونکې، او ستا په شان هیڅوک نه دی، ای زموږ د قیامت د ورځې ساتونکې.

خدای د هرڅه ښښتن دی، هغه د برکتونو سرچینه او د هر روح لرونکې په خوله کې ستایل کېږي.

د هغه له لویوالي او مهربانۍ څخه، نړۍ ډکه ده، پوهه او عقل له هغه څخه ترلاسه کېږي.

هغه، هغه څوک دی چې خپله لویې په خپلو فرښتو سره ښکاره کوي، او په خپلو لوړو فرښتو سره د ښکلي عزت ښښتن دی.

د هغه د حاکمیت په مقام کې قاطعیت او عدالت شتون لري، له مهربانۍ او زړه سوي ښښتن دی.

ستوري چې زموږ خدای پیداکړي، ډېر ښه دي. هغه دا ستوري په علم، عقل او حکمت سره پیداکړي.

هغه په هغو ستورو کې قوت او طاقت ايښی ترڅو ټولې نړۍ ته رڼا ور وبخښي.

دا ستوري له رڼا ډک دي، او ځلېږي، او پر ټولې نړۍ ښکلې رڼا خپروي.

ستوري په بهر راوتو خوښي ښيي، او له خونده ډک بيرته پر شا ځي، دوی په جديت سره هغه څه ترسره کوي د کوم دپاره چې د دوی خالق دوی پيداکړي دي.

دوی د خپل خالق نوم ته ستاينه او درناوی ور بخښي، او د هغه حاکميت ته خوښي او ترانې راوړي.

هغه لمر را وغوښت، نو په دې سره رڼا رامنځته شوه، او هغه د سپوږمۍ دپاره مناسب شکل جوړ او وټاکلی.

ټولې فرښتې د هغه ثناء وايي، او هغه ته وياړ او لويي ورکوي.

دا ترانه هغه خدای لره ده چې د شنبې په ورځ يې د خلقت کارونه و درول او خپل پر تخت کښيناستی. هغه په دې کار سره د استراحت ورځې ته وياړ ورکړ، او د شنبې ورځ يې د خوند اخيستلو ورځ و بلله. دا د اوومې ورځې دپاره يوه ترانه ده، هغه ورځ چې خدای پکې د خلقت کارونه درولي دي. اوومه ورځ ثناء وايي او او د شنبې دپاره يوه ترانه وايي. د هغه ټول خلقت به د هغه وياړونه بيانوي، او د هغه ستاينه او درنښت به کوي او د هغه پاچاه لويي او درنښت به ښيي چې هرڅه يې پيداکړي. دی هغه څوک دی چې د شنبې په ورځ يې خپلو خلکو اسرائيلو ته استراحت ور په برخه کړی.

ای زموږ پالونکې خدايه، ستا په لاس د حيرانوونکو کارونو په تېره بيا ستا د ځلاندو ستورو له کبله به، ستا نوم پورته په آسمانونو او لاندې په ځمکې کې سپېڅلی او ستا يادونه به د وياړ څخه ډکه وي، ای زموږ پاچاه، خلک او سپېڅلې فرښتې به تل ستا ثناء وايي.

ستا ثناء او صفت به تل کېږي، ته زموږ توان او طاقت يې، ای زموږ پاچاه، ای زموږ ژغورونکې، ای د سپېڅلو فرښتو خالقه. ستا نوم به تل ستايل کېږي ای پاچاه، ای د هغو خدمتګارانو خالقه چې تل په لوړ مقام کې ولاړ وي، او په ګډه سره او په وېره کې د ژوند بخښونکي خدای او د نړۍ پاچاه نوم يادوي. دا خدمتګاران ټول مينه ناک، رښتيني، اتلان او سپېڅلي دي چې هر يو يې د خالق څخه د وېرې له کبله د هغه هره غوښتنه پوره کوي. او دوی ټول د خدای د سپېڅلتيا او رڼتيا په بيانولو سره خولې پرانيزي، او د خدای په نوم ترانې وايي او ستاينې کوي، ثناوې وايي او صفتونه کوي، ښکلا او پاکي يادوي او د خدای د نوم درنښت کوي او لمانځي يې؛ او وايي چې خدای پاچاه دی، هغه لوی دی، غښتلی دی، وېروونکی دی، او سپېڅلی دی. دوی ټولو د هغه پاچاهي منلې، او يو – بل ته اجازه ورکوي ترڅو په په آرامۍ، روښانتيا او په زړه پوري نغمو سره د خپل خالق پاکي بيان کړي.

[ترڅو چې لس تنه اسرائیلیان سره یوځای نه وي، دا آیت باید ونه لوستل شي. که داسې وي چې لس اسرائیلیان شتون ونه لري، خو ته د پیغمبر څخه د دې آیت په اصلي نغمي و پوهېږې، نو ته دا آیت د اړوندې نغمي سره ولوله، او که داسې نه وي نو بیا د ټول آیت پرځای د "سپېڅلي" کلمه ولوله].

د فوځونو رب سپېڅلی دی، سپېڅلی دی، سپېڅلی دی؛ پر ټولې ځمکې د هغه عزت کېږي.

کښتنۍ فرښتې چې لوړ ږغ لري، د لوړو هغو وړاندې درېږي او په داسې توګه ثناء وایي.

[د تېر آیت په څېر دا آیت هم باید تر هغو ونه لوستل شي ترڅو لس اسرائیلیان سره یوځای شوي نه وي. که لس اسرائیلیان نه وو پوره او ته یې په اصلي نغمي پوهېدې نو ویې لوله او که نه، نو د دې پرځای د "برکتناک/پاک" کلمه ولوله].

برکتناک او پاک دی لوی رب په خپل شان او شوکت کې.

د ثناء لایق خدای په نوم به نغمي ږغول کېږي. د پاچاه او تلپاتې خدای په نوم به ترانې ویل کېږي او او صفتونه به اورېدل کېږي. ځکه چې هغه یوازې او تر ټولو لوړ او سپېڅلی دی، خپل طاقت کاروي او نوي شیان پیداکوي، د جګړو مدیریت کوي، رښتینولي کوي او ژغورنو ته وده ورکوي، د ناروغیو علاج پیداکوي، دا هغه خدای دی چې په وېرې سره یې صفت کېږي، پر ټولو عجایبو لاسبری دی، هره ورځ او د تل دپاره د خپلې ښېګڼې له مخې هستي (دا هرڅه) بیا رامنځته کوي، چې په دې هکله داسې لیکل شوي: "هغه لوی ستوري پیداکوي ځکه چې د هغه مهرباني د تل دپاره ده".

ستا ثناء وایم ای ربه، ای د ستورو خالقه.

تا زموږ سره بې پایه مینه کړې، ای زموږ ربه، تا پر موږ لوی او دروند زړه سوی کړی. زموږ پلاره، زموږ پاچاه، ستا د درانه نوم دپاره، او زموږ د نیکه ګانو دپاره چې پر تا یې باور درلود او تا ورښوولي وه چې په خپلو کړنو کې ستا رضا په زړه کې ولري، پر موږ زړه سوی وکړه چې اوس همدا ته زموږ پلار یې، ای مهربان پلاره، ای هغه پلاره چې تل مهرباني لوروي، خیر دی پر موږ مهرباني وکړه، او زموږ په زړونو کې پوهه واچوه ترڅو په پوره مینې سره ستا په تورات و پوهېږو، و یې پېژنو، ویې اورو، زده یې کړو، نورو ته یې ور زده کړو، په یاد یې وساتو او عملي یې کړو. زموږ سترګې ستا په تورات روښانې کړه او زموږ په زړونو کې ستا د احکامو سره مینه پیداکړه، او زموږ زړونه داسې جوړ کړه چې یوازې او یوازې ستا د نوم سره مینه او د هغه څخه وېره پکښې وي. نو موږ به هم په دې نړۍ کې او هم به په راتلونکې کې سرلوړي او بریالي یو؛ ځکه چې موږ ستا پر سپېڅلي، لوی، غښتلي او ډاروونکي نوم باور کړی. موږ به تل خوښې کوو او ستا راکړی خلاصون به لمانځو، او ای ربه، ته موږ له خپلو مهربانیو څخه هیڅکله مه بېبرخې کوه.

موږ ته د ځمکې د هرې څنډې څخه برکتونه او آرامي راکړه، او زموږ پر وړاندې د نورو ملتونو ځواکمني ماته کړه، او موږ ژر تر ژره، زموږ پر خپلې ځمکې په سرلوړی او ویاړ سره وګرځوه، ځکه چې ته هغه خدای یې چې خلاصون ورکوې، او موږ هغه خلک یو چې تا له نورو څخه ځانګړي کړي او خپل ځانته غوره کړي یو، او ای زموږ پاچاه، ته وې چې موږ دې خپل ستر نوم ته در نږدې کړي یو، نو موږ به ستا شکر اداء کوو او پوهېږو چې ته یو یې، او ستا څخه به هم وېره ولرو او هم به مینه ورسره ولرو.

ستاینه او صفت دې وي هغه رب لره چې په ډېره مینه یې خپل خلک (اسرائیل) ځانته غوره کړل.

شیما اسرائیل

[د شیما په اړه په تورات کې دوه آیتونه ثابت دي چې یو یې په تورات کې لیکل شوی او بل زموږ پلار یعقوب په خوله را انتقال کړی دی. خو د پیغمبرانو د حکم له مخې باید د دې سره جوخت د تورات درې نور پاراګرافونه هم ولوستل شي. شیما اسرائیل باید د ورځې په لومړیو درو ساعتونو کې ولوستل شي؛ او ورځ تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې پیل کیږي. یو ځل تر لمر لوېدو وروسته، او یو ځل تر ویده کېدو مخکې، او که چېرې څوک د شپې نا وخته ویده کیږي نو یو ځل تر نیمې شپې مخکې ویل کیږي. نیمه شپه 0:00 بجو ته نه ویل کیږي، بلکې د نن ورځې د لمر لوېدو او سبا ورځې تر لمر ختو 1:15 ساعته مخکې وخت و نیمایي ته نیمه شپه ویل کیږي].

[سترګې دې پټې کړه او خپل ښې لاس پرې و نیسه او داسې و وایه]:

اسرائیل درک کړئ، څښتن زموږ خدای دی، او څښتن یو دی.

[د "یو" د کلمې په لوستلو او تر دې وروسته د هغه حقیقت په هکله فکر وکړه چې خدای هرڅه خپله پیداکړي او لا یې اوس هم ټولې هستی ته شتون ورکړی دی. د زړه له تله داسې پرېکړه وکړه چې د خدای رضا تر بل هرڅه درته مهمه ده، ان ستا تر ژوند هم. تصور وکړه چې که په ډېرو وژل کیږې بیا به هم هغه څه غوره کوې چې خدای یې غواړي. فکر وکړه چې که په اور کې په سوځولو وژل کیږې خو بیا به هم د خدای لاره پرې نه ږدې. او یا که په چاړه وژل کیږې، هم به د خدای سره اړیکه نه شلوې. د خدای رضا به حاصلوې که زندی کیږې هم. هم په دې نړی کې او هم په راتلونکې کې تر هر ډول انعام د خدای رضا درته غوره ده].

[یوه شیبه تم شه او بیا په داسې نرم ږغ دا لاندې درود و وایه چې ته یې خپله هم نه اورې]:

د هغه د پاچاهی د برم نوم دې تل پاک او سپېڅلی وي.

[یوه شیبه تم شه، بیا خپلې سترګې پرانیزه او و وایه]:

ته باید د خپل پالونکي خدای سره د زړه له تله، په ټوله روح او ټول ملکیت سره مینه ولرې. او دغه خبرې چې زه یې تاسې ته حکم کوم، باید نن ستا په زړه کې وي. ته باید دا خبرې خپلو اولادونو او شاګردانو ته ورسوې، او کله چې په کور کې ناست یې، کله چې پر څړک ځې، کله چې پر ځای پرېوځې او ویده کېږې، او کله چې راویښ شې نو باید د دې خبرو یادونه وکړې. ته باید دا خبرې د یوې نښې په توګه پر خپل لاس وتړې، او دا خبرې ستا د سترګو په منځ کې د یوه یادداښت په توګه ځای ولري. او باید دا خبرې د دروازې پر چوکاټ او د سرای پر لویې دروازې (ګېټ) ولیکې.

او که تاسې د زړه له تله او په ټولې روح سره د خپل پالونکي خدای سره د مینې له کبله او د هغه د خدمت کولو په موخه زما د خبرو اطاعت وکړ، نو زه به پر مناسب وخت ستاسې پر ځمکو باران و اوروم، هم په پیل کې او هم په پای کې باران، چې تاسې به ډېرې غلې راټولې کړئ او د انګورو او زیتونو فصلونه به واخلئ. زه به ستاسې د څارویو دپاره ستاسې په کروندو کې واښه را شنه کړم، چې په دې توګه به تاسې په مړه ګېډه خواړه وخوړئ. پام مو وي، داسې نه چې ستاسې زړونه لالهاندي او تاسې ګمراه شئ او د بُتانو عبادت پیل او هغو ته سجده وکړئ. ځکه چې که داسې وکړئ نو څښتن به پر تاسې په غوسه شي، د آسمانونو دروازې به دربانديې بندې کړي، او ځمکه به خپل حاصل نه ورکوي، او په دې توګه به تاسې په ډېرې چټکی سره د هغې ښې ځمکې څخه لېرې کړي چې تاسې ته یې درکړې ده. زما دا خبرې په خپل زړه او روح کې وساتئ او پر خپل لاس یې د نښان په توګه وتړئ، او دا به ستاسې د سترګو په مینځ کې د یادګار په څېر وي. تاسې باید دا خبرې خپلو اولادونو او شاګردانو ته ورسوئ، او کله چې په کور کې ناست یاست، کله چې پر څړک ځئ، کله چې پر ځای پرېوځئ او ویده کېږئ او کله چې راویښ شې، نو باید د دې خبرو یادونه وکړئ. تاسې باید دا خبرې د خپلو دروازو پر چوکاټونو او د سرایونو پر دروازو ولیکئ؛ نو په دې توګه به پر هغې مځکې ستاسې او ستاسې د اولادونو د استوګنې موده اوږده شي چې څښتن ستاسې نیکه ګانو ته ورکړې او قسم یې خوړلی چې ترڅو چې آسمان له ځمکې څخه پورته وي، دا ځمکه به د هغو وي.

خدای د موسی سره خبرې وکړې او داسې یې ورته وویل: د بني اسرائیلو سره خبرې وکړه او ورته ووایه چې د خپلو ټولو نسلونو پر څلورکونجو جامو (پټوانو) د تارونو څرمې (حاشیې) جوړې کړي او د هر کونج پر څرمې دې یې یو (شین) تار و ځړوي. دې څرمو ته په کتو به تاسې ته ټول هغه احکام در په یادېږي چې څښتن تاسې ته درکړي او پلي کوئ به یې، چې په دې توګه به تاسې د خپل زړه او سترګو له غوښتنو راوګرځئ او لاروركي کېږئ به نه. دا د دې دپاره چې تاسې زما ټول حکمونه په یاد ولرئ او هغوی پلي کړئ او د خدای په حضور کې به سپېڅلي یاست.

[په لاندې آيت کې موږ د مصر څخه د خلاصون د يادولو حکم پلی کوو.]

زه ستاسې هغه پالونکی خدای يم چې تاسې مې د مصر څخه را و ايستلاست، زه ستاسې پالونکی يم، او زه پالونکی، ستاسې خدای يم.

## تر شيما اسرائيل وروسته ثناء

هغه خبرې زموږ دپاره تل او هر وخت رښتيني دي، مضبوطې دي، صحيح دې، صادقې دې، له ايمانه ډکې دې، د مينې دې، ښکلې دې، مهرباني دې، خوندورې دې، د باوره ډکې دې، څواکمنې دې، بشپړې دې، منل شوې دې، ښې دې او ښايستې دې. د نړۍ خدای رښتينی دی، زموږ پاچاه خدای، د يعقوب طاقت خدای، او زموږ د خلاصون خدای. هغه د هر نسل دپاره شتون لري، د هغه نوم شتون لري، د هغه واکمني تياره ده، او د هغه اصول او وفاداري تل تر تله باقي ده، د هغه خبرې به ژوندۍ او تلپاتې وي او هغه هم په دې نړۍ کې او هم په هغې کې هم زموږ د پلرونو دپاره او هم زموږ او زموږ د اولادونو دپاره او هم زموږ اسرائيلو د ټولو نسلونو دپاره، وفادار او پاچاه دی. له پيله تر پايه، ستا خبرې ښې او پرځای دې، په حقيقت او باور سره، ستا خبرې داسې قانون دی چې هيڅکله له منځه نه ځي.

دا حقيقت خبره ده چې ته زموږ پالونکی خدای يې او زموږ د پلرونو هم، هم زموږ او هم زموږ د پلرونو پاچاه يې، هم زموږ او هم زموږ د پلرونو ژغورونکی يې، زموږ خالق، زموږ د ژغورنې يواځينۍ قوه يې، مرسته کوونکی او ژغورونکی همېشه ستا نوموم دی، او ستا ترڅنګ بل هيڅ خدای نشته. تا همېشه زموږ د پلرونو سره مرسته کوله، په هر نسل کې به دې د هغو او د هغو د اولادونو ساتنه او ژغورنه کوله. ته پر هرڅه واکمن يې او ستا عدالت او رښتيني کړنې تر ډېرو وړوکو مخلوقاتو پورې هم رسېږي.

دا رښتيا ده چې ته د خپلو خلکو بادار يې، يو پياوړی پاچا يې چې د پلرونو او زوی پرځای جګړه کوې.

دا رښتيا ده چې ته هم لومړی يې او هم وروستی، او موږ بېله تا بل هيڅ ساتونکی او ژغورونکی نه لرو.

دا رښتيا ده چې تا موږ د مصر څخه و ژغورلو، ای زموږ پالونکي خدايه، تا موږ د غلامی څخه خلاص کړو. تا د هغو ټولو لومړني زېږېدلي ماشومان ورته و وژل، او خپل لومړنی ماشوم اسرائيل دې و ژغورلی. او تا زموږ دپاره سور سمندر پر منځ پرې کړ، خو مصريان دې پکې ډوب کړل.

ستا ملګري تر سمندر پورېوتل، خو د دوی ټول دښمنان په اوبو کې ډوب شول او يو هم ونه ژغورل شو.

له همدې کبله ستا مينه والو ستاينه وکړه، او ترانې او شعرونه يې وويل او د پاچا مننه يې وکړه، خدای ژوندی او حاضر دی، لوړ او اوچت دی، لوی او ډاروونکی دی، هغه څوک دی چې کبرجنان ځمکې ته راټيټوي او عاجزان آسمان ته پورته کوي. بنديان آزادوي، عاجز ژغوري، د بېوزلي سره مرسته کوي، او کله چې يې خپل خلک (اسرائيل) د مرستې دپاره نوم اخلي نو دی لبيک ورته وايي. ستاينه دې وي لوی خدای لره چې خپل خلک يې و ژغورل، برکتناک دی هغه او تل به وي. موسی او د اسرائيل اولادونو په خوښيو کې ستا ترانې ويلې، دوی ټولو به داسې ويل: "ستا په شان بل هيڅوک نشته، ای پالونکې، ستا په څېر بل هيڅوک پاوړی او سپېڅلی نه دی. په ستاينو کې دې وېره ده، او کارونه دې عجايب دي". ژغورل شوو کسانو د سره سمندر پر غاړه ستا په ستر نوم يوه نوې ترانه و ويله، چې د دې کار دپاره سره راټول شول او داسې يې وويل: "د خدای پاچاهي به تل او هرکله وي". او داسې ليکلی شوي دي: "زموږ ژغورونکی، چې د لښکرو څښتن يې نوم دی، هغه د اسرائيلو مقدس دی".

حمد دې وي تا لره ای ربه چې اسرائيل دې و ژغورل.

[ښه دا ده چې په منځ کې يې يوځه و وايي يا يو کار ترسره کړي، سملاسي د ولاړو عبادت پيل کړه]

## د شنبې (شبات) د سهارني عبادت د ولاړو برخه

ای زما څښتنه، زما شونډې پرانيزه، او زما خوله به ستا ثنا و وايي.

[په لومړۍ او په اتلسمې ثناء کې د "ثناء" د لغت په ويلو سره ځان ټيټ کړه؛ د "ستا" د لغت په يادولو سره سر ټيټ کړه؛ د "د څښتن" د لغت په يادولو سره ځان سيده کړه او بيا د همدې لغت پر مهال خپل سر سيده کړه.]

1. [د عبادت هر لغت بايد په اړينه توګه معنی ولري، په تېره بيا د لومړی ثناء هر لغت].

ته برکتناک يې؛ زموږ خدايه او زموږ د پلرونو خدايه؛ د ابراهيم خدايه؛ د اسحاق او د يعقوب خدايه؛ ستر، ځواکمن او ډاروونکي خدايه؛ لوړ خدايه؛ ته مهربان يې؛ هر څه ستا په لاس کې دي، ته زموږ د نيکه ګانو نېکی په ياد ساتې او د هغو سره د خپلې مينې په ترڅ کې د هغوی د اولادونو د اولادو دپاره ژغورونکی را استوې.

[د نوي کال او يوم کيپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:

مورږ د ژوند دپاره په یاد لره، ای ژوند غوښتونکي پاچاه؛ مورږ د ژوند په کتاب کې ولیکه، ستا د لټون دپاره، ای د ژوند مالکه.

ای مرسته کوونکی، ژغورونکي او ساتونکي خدایه.

[د "ثناء" د لغت په یادولو سره پر ملا کړوپ شه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره دي سر پر تټر راټیټ کړه؛ د "رب" لغت په یادولو سره لومړی پر ملا سیده شه او بیا دي سر راپورته کړه].

برکتناک یې ای ربه، ای د ابراهیم ساتونکې.

2. ته تل لوړ یې، ای ربه، ته د بېلاري شوو خلکو سره مرسته کوې ترڅو توبه وکاړي. ته په پوره قوت سره مرسته ورسره کوې.

[په اوړي کې، چې د پیسخ د لومړی ورځې او د شکوت د اتمې ترمنځ دی، داسې و وایه: **خدای پرخه اوروي**].

[په ژمي کي داسي و وایه: **خدای باد را الوځوي او باران اوروي**].

شتمن په خپلې مهربانۍ کې ساتي، بېوزلو ته په پوره زړه سوي سره روزي ورکوي، د کمزورو لاسنیوی کوي، ناروغ ته روغتیا ور بخښي، بندیان خوشي کوي او په خاورو کې د پرتو په بیرته را ژوندي کولو سره خپله ژمنه پوره کوي. ستا په شان څوک کېدای شي ای د قوت څښتنه؛ او ستا سره څوک پرتله کېدای شي، ای پاچاه؛ هغه پاچاه چې خواشیني رامنځته کوي او بیرته خوښي راګرځوي او هم خلاصون ورکوي!

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې]:

ستا په شان څوک کېدای شي ای مهربان پلاره؛ ستا په پرتله څوک د خپلو مخلوقاتو د ژوندانه په اړه فکر کوي.

بېشکه چې یواځې ته مړي را ژوندي کولای شې. برکتناک یې ای ربه، ته هغه څوک یې چې مړي بیرته را ژوندي کوې.

3. ته سپېڅلی یې او ستا نوم سپېڅلی دی، او سپېڅلي مخلوقات دي د تل دپاره هره ورځ، ستاینه کوي.

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې ثناء د "د خدای" پر ځای په "پاچاه" سره پای ته ورسوه].

ته برکتناک یې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

ته برکتناک یې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

4. موسی به د خپل کردار په ډالۍ خوښ وي، ځکه چې تا هغه ته خپل ايماندار خادم ويلي وو. کله چې هغه د سينا پر غره ستا په وړاندې و درېدی، نو تا يې پر سر يو رنګين تاج ور کښېښود. هغه دوې ډبريني ريتاړې چې لسګوني احکام پرې ليکلي وو او هغه (موسی) په خپل لاس کښته راوړلې، چې په هغو احکامو کې د شنبې د لمانځلو ويل شوي، او همدارنګه ستا په تورات کې هم راغلي: "او بني اسرائيلو شنبه وليدله، او هغه به د دوی د ټولو نسلونو دپاره يو دايمي تړون وي. زما او د بني اسرائيلو ترمنځ شنبه د يوې تلپاتې نښې په توګه ده. ځکه چې رب د اوونۍ په شپږو ورځو کې آسمانونه او مځکه جوړ کړل، او په اوومه ورځ يې کارونه و درول او خلقت ته يې شتون ور و بخښی".

او تا نورو ملتونو ته د شنبې د لمانځلو حکم نه دی کړی، او نه هغو ته چې د بتانو عبادت کوي. نور خلک به د استراحت څخه خوند وانه خلي. ځکه چې د استراحت حکم يواځې تا خپلو خلکو اسرائيلو، د يعقوب اولادونو ته، چې تا خپل ځان ته انتخاب کړي، کړی دی.

او ټول هغه خلک چې شنبه لمانځي، هغوی به ستا د حاکميت څخه خوښ وي؛ او ټول هغه خلک به هم همداسې وي چې په خوند سره تورات زده کوي او اوومه ورځ سپېڅلې ګڼي. دا خلک به ټول ستا په ښېګنو ماړه او خوند به ترې واخلي. او تا د اوومې ورځې غوښتنه کړې او هغه دې سپېڅلې ګرځولې، او تا دې ته مطلوبه ورځ ويلې.

زموږ او زموږ د پلرونو خدايه، د مهربانۍ له مخې زموږ له آرام څخه راضي شه، موږ په خپل حکم سره سپېڅلي کړه، موږ ته خپل په تورات کې برخه راکړه، موږ په خپلو ښېګنو ماړه کړه، زموږ روحان په خپل خلاصون خوښ کړه، او زموږ زړونه پاک کړه ترڅو په رښتيني توګه ستا عبادت وکړو. او زموږ پالونکي خدايه، موږ ته په مينې او ستا د رضا سره شبات رانصيب کړه، او ټول هغه اسرائيل چې ستا نوم سپېڅلی ګڼي، هغوی به په هغه کې سکون و مومي. ته برکتناک يې ای د سپېڅلي شنبې ربه.

5. پر خپلو خلکو (اسرائيلو) احسان وکړه، ای پالونکي خدايه، او د هغو عبادتو ته پام کوه؛ ستا د عبادتځای په تر ټولو سپېڅلي مقام کې بيرته خدمات فعاله کړه، او په مينه سره د اسرائيلو قرباني او عبادات ترې قبول کړه؛ او ستا د خلکو (اسرائيلو) خدمت دې تاته تل قبول وي.

[په راش هديش (د نوې مياشتې لومړۍ ورځ) او د رخصتيو په منځ کې، دا لاندې شيان ور زيات کړه]:

زموږ خدایه او زموږ د پلرونو خدایه، ته خو وکړې چې زموږ او زموږ د پلرونو یادونه هلته ستا حضور ته در پورته شي، درشي او در ورسېږي، ته يې و ويني، و يې مني، وايي اورې او در په یاد یې کړې. او د دې [د نوې میاشتې ورځ – راش خودیش] ورځې په برکت دې خپل ښار یوریشیلم درته یاد شي، د داود زوی او ستا خادم (مسیح) دې درته یاد شي، او خپل ټول خلک (د اسرائیل کورنۍ) دې د خلاصون دپاره، روغتیا، رحم، مهرباني، زړه سوي او ښه ژوند او آرام دپاره درته یاد شي.

پورته وروستۍ جمله د لاندې ورځو دپاره هم په ورته ډول ویله کېږي، لکه:

[د پیسخ د رخصتۍ په ورځ چې د مسسوت اختر ورته ویل کېږي]: د دې سپېڅلې ورځې په برکت.

[د شکوت د رخصتي په ورځ چې د شکوت اختر ورته وایي]: د دې سپېڅلي ورځې په برکت.

پر موږ مهرباني ولره او موږ و ژغوره. ای زموږ پالونکي ربه، په دې ورځې کې موږ په ښو یاد کړه؛ په دې ورځ پر موږ د برکت نظر کوه؛ او د دې ورځې په برکت زموږ سره د ښه ژوندانه مرسته وکړه. د خلاصون او مهرباني د ژمني له مخې، زموږ ساتنه کوه او پر موږ زړه سواندی اوسه؛ او زموږ غمخوار اوسه او رحمت راباندې کوه او موږ وساته؛ ځکه چې زموږ سترګې یواځې ستا دربار ته دي او ته مهربان او زړه سواندی پاچاه یې.

په خپلې مهربانۍ سره، پر موږ احسان و لوروه او احسان راباندې وکړه او زموږ سترګې داسې جوړې کړه چې (سسیون) بیرته ستا راستنېدو ته پام وکړي. ته برکتناک یې ای ربه، ته په سسیون کې خپل سپېڅلی شتون بیرته ښیې.

*[د دې ثناء په پیل کې چې که د "زموږ" لغت یادوې، نو پر ملا کړوپ شه، خو د بل ځای برعکس به دلته سر نه کړوپوې. او د "رب" د لغت په یادولو سره بیرته سیده شه].*

6. موږ ډېر شکر کاږو چې ته تل تر تله زموږ او زموږ د پلرونو پالونکی رب یې. ته زموږ قوت یې، زموږ د ژوند قوت، او زموږ د خلاصون ساتندوی پوښ یې. زموږ هر نسل به ستا شکر اداء کوي او ستا کړه به بیانوي، ځکه چې زموږ د هر یوه ژوند ستا په لاس کې دی، موږ خپل روحان تاته سپارلي، ستا معجزې هره ورځ زموږ سره ملګرې دې، او ته هره ورځ حیرانوونکي او په زړه پورې کارونه ترسره کوې، دا کارونه تل کوې، په شپه کې، په سهار کې او په غرمه کې. ته ډېر ښه یې، ځکه چې ستا مهرباني هیڅکله نه ختمېږي؛ ته تر هرچا مهربان یې، ځکه چې ستا زړه سوی هیڅکله نه ختمېږي؛ او موږ تل تاته هیله لرو.

*[په حنوکه او پوریم کې دا لاندې څه هم ور زیاتېږي]:*

موږ ستا څخه مننه کوو چې زموږ د نیکه ګانو دپاره دې په هغو ورځو کې پر دغه مهال معجزې کړې، هغوی ته دې خلاصون ورکړی، د هغو د ژغورلو او تسلیت دپاره دې ستر او حیرانوونکې کارونه کړي.

[د خنوکې په ورځ یې له دې ځایه پیل کړه]: د مشر کاهن یوحونان د زوی متیتیاهو په وخت کې، چې د هاشمونیې کورنۍ څخه و، او د هغه د زامنو په وخت کې، چې کله بېلارې یونانیان ستا د خلکو اسرائیلو پر وړاندې راپورته شول، او غوښتل یې چې هغوی ستا تورات هېر او ستا د رضا نافرماني وکړي. خو ته په خپلې مهربانۍ سره، د هغو سره د احتیاج په وخت کې و دریدې. تا د دوی دپاره جګړه و کړه، د هغو د حقوقو دفاع دې وکړه او د هغو غچ دې واخیست. تا غښتلي د کمزورو، ډېر د لږو، ناخالص د خالصو، بېلارې د رښتینو او ګناهګاران د هغو تر لاس لاندې کړل چې ځانونه یې ستا تورات ته وقف کړي وو. تا په خپله نړۍ کې یو ستر او سپېڅلی نوم خپل کړ، او په دې ورځ دې خپلو خلکو ته لوی خلاصون او ژغورنه ور په برخه کړله. نو ستا اولادونه ستا د عبادتځای روضې ته ور ننوتل، عبادتځای یې پاک، جومات یې تصفیه، او په سپېڅلې غولې کې یې ډېوې بلې کړې، او دا د خنوکې اته ورځې یې د ستاینې او شکریې دپاره و ټاکلې. تا زموږ د نیکه ګانو دپاره معجزې او حیرانوونکې کارونه کړي چې له کبله یې موږ تل ستا شکر اداء کوو.

[د پوریم په ورځ یې له دې ځایه پیل کړه]: د مردیخای او ایستر په وخت کې، د پارس په پلازمېنې شوشان کې، کله چې بېلارۍ (هامون) راپورته شو، او غوښتل یې چې ټول اسرائیل ، ځوان او زاړه، ماشومان او ښځې په یوه ورځ، د دوولسمې میاشتې یا ادهار پر دیارلسمې نېټې پوپنا، حلال او له منځه یوسي او شتمنۍ یې ترې لوټ کړي. خو تا د خپلې بې شانې مهربانۍ له مخې، د هغه نیت او اراده ناکامه او د ده په خپل زیان دې ورته تمام کړله، او دی او د ده زامن په هغې ونې پورې و ځړول شول چې ده د مردیخای د ځړولو دپاره تیاره کړې وه. تا زموږ د نیکه ګانو دپاره معجزې او حیرانوونکې کارونه کړي چې موږ به یې له کبله تل ستا شکر اداء کوو.

نو ای زموږ پاچاه، د دې ټولو شیانو له کبله به تل او په جاري توګه ستا په نوم ثناء ویل کیږي، ستا نوم به ستایل کیږي او اوچت کیږي به.

*[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې دا لاندې څه ور زیات کړه]:*

ټول هغه خلک چې ستا په تړون کې شامل دي، د هغو په قسمت کې ښه ژوند ولیکه.

او ټول به، په اخلاص سره او تر آبده، ستا په نوم ثناء وایي او ستاینه به یې کوي.

*[د دې ثناء په پای کې کله چې د "برکت" لغت ته را ورسېږئ، نو پر ملا کړوپ شه؛ او د " ته" لغت ته په رارسېدو سره دې سر پر ټټر راټیټ کړه؛ او د "رب" لغت ته په رارسېدو سره بیرته پر ملا سیده شه او بیا د همدې لغت پر مهال دې سر هم سیده کړه].*

برکتناک یې، ته، ای ربه، ستا نوم بنه دی، او ستا شکر باید اداء شي.

7. پر موږ او خپلو ټولو خلکو (اسرائیلو) آرامي، ښېګڼي او برکتونه، ژوند، مهرباني، زړه سوی او شفقت و لوروه. او زموږ پلاره، پر موږ رحم وکړه، پر موږ ټولو په یوځل خپل د رحمت رڼا و خپره کړه. ځکه چې ای پالونکي خدایه، تا د خپلې رڼا په وسیله، موږ ته تورات او ژوند راکړی، مینه او زړه سوې دې راکړی، سخا او مهرباني دې راکړې، رحمت او آرامي دې راکړي. ستا پر خلکو اسرائیلو دې ستا د رحمت، تشویق او سولې نظر وي.

*[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:*

او د ژوند په کتاب، د رحمت او آرامۍ په کتاب، د نېکمرغۍ په کتاب، د خلاصون او ډاډینې په کتاب، او د مهربانیو د احکامو په کتاب کې دې موږ او ستا ټول خلک یعنې د اسرائیل کورنۍ لیکلې او درته یاد یو ترڅو د خوش ژوند او آرامۍ څښتنان اوسو.

ته برکتناک یې ای ربه، ای پر خپلو خلکو اسرائیلو د آرامۍ رحمت کوونکې.

زما د خولې الفاظ دې تا ته قبول، او زما د زړه چرتونه دې ستا د پام وړ وي، ای د قوت او خلاصون بخښونکې ربه.

[دلته یوڅوک کولای شي خپل شخصي عبادت ور زیات کړي. کله چې شخصي عبادت ور زیات شي، نو وروستی آیت (زما د خولې الفاظ دې تاته قبول وي ... ای د قوت او خلاصون بخښونکې) باید په پای کې بیاځلي و ویل شي].

*[د لاندې جملې تر تلاوت مخکې باید سړی یوڅه ټیټ شي، او په همدې ټیټ حالت کې درې ګامه تر شا واخلي؛ لومړی دې کیڼه پښه تر شاکړي، بیا ښې پښه او بیا دې کیڼه پښه تر هغه ترشا یوسي ترڅو د ښي سره څنګ پرڅنګ شي. چې لا د ټیټوالي څخه پورته شوی نه یې، بدن دې ریږونده کیڼې خواته وګرځوه او داسې و وایه، "هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي"؛ ولاړ شه او بیا دې بدن ریږونده ښې خواته کوږ کړه او داسې و وایه، "هغه دې موږ ته هم آرامي راولي" ولاړ شه او په پای کې د مخ خواته کوږ شه او و وایه، "او د ټولو اسرائیلو دپاره؛ امین"].*

[رېونده کېښي خواته] هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي [د توبې په لسو ورځو کې يې داسي و وايه: "ځانګړې آرامي]، [رېونده ښي خواته] هغه دي موږ ته هم آرامي راولي، [بيا د مخ خواته کوږ شه] او ټولو اسرائيلو ته هم؛ امين.

[له ځانګړو ورځو پرته لکه نوې مياشت او رخصتی، په نورو کې بايد تر هر عبادت وروسته سړی خدای ته د خپلو ګناهونو اقرار وکړي].

## د شنبې اضافي عبادت

[دا عبادت د سهار تر عبادت سملاسي وروسته ترسره کېږي]!

### د پسلم ترانه

خوښ دي هغه کسان چې ستا په کور کې اوسېږي او تل ستا ستاينه کوي.

خوښ دي هغه خلک چې دا ډول ژوند کوي! خوښ دي هغه خلک چې لوی خدای يې پالونکی وي.

**د داود د ثناء پسلم:** زه به تل ستا لويي بيانوم، ای زما خدايه، ای د نړۍ پاچاه، او زه به تل –تر-تله ستا په نوم برکت غواړم.

او زه به هره ورځ ستا برکت غواړم، او ستا د نوم ستاينه به تل-تر-تله کوم.

رب ډېر لوی دی، او د لويۍ ستاينه يې کېږي؛ او د هغه لويي دومره ده چې نه اندازه کېږي.

هر نسل به ستا د کارونو ستاينه کوي، او ستا ځواکمني کړني به بيانوي.

زه به ستا عزت او عظمت او کمالونه بيانوم.

خلک به ستا د ډاروونکو کړنو په اړه خبرې کوي، او زه به ستا لويي بيانوم.

خلک به ستا ښه والی بيانوي او خپروي به يې، او ستا د حقانيت ترانه به وايي.

لوی رب ډېر مهربان او زړه سواندی دی، ژر نه په غوسه کېږي او لويه مهرباني لوروي.

لوی رب د هر چا سره ښه کوي، او پر خپلو ټولو مخلوقاتو يوشان زړه سوی لري.

ستا ټول مخلوقات به ستا ستاينه کوي، ای ربه؛ ستا پرهېزګاران به ستا لويي بيانوي.

دوی به ټول ستا د ستري پاچاهۍ په هکله خبرې کوي، او ستا لوړ طاقت به بيانوي؛ ترڅو د انسانانو زامنو ته ستا ځواکمني کړني او عظيم سلطنت ور وپېژني.

ستا پاچاهي به آبدي وي، او ستا حکومت به په هر نسل کې چلېږي.

لوی ښښتن ټول هغه خلک ساتي چې لوېدلي وي، او هغه راپورته کوي چې سرونه يې ټيټ شوي وي.

د ټولو سترګې ستا دربار ته دي او ته ټولو ته پر وخت روزي ورکوې.

ته خپل لاسونه پرانيزې، او د هر ژوندي شي غوښتنې پوره کوې.

ښښتن په خپلو ټولو لارو کې صادق او په خپلو ټولو کارونو کې مهربان دی.

ښښتن ټولو هغو کسانو ته نږدې دی چې د ده يادونه کوي، او ټولو هغو ته چې په اخلاص سره د ده يادونه کوي.

خدای به د ټولو هغو خلکو غوښتنې پوره کړي چې له هغه څخه ډارېږي؛ هغه به د دې خلکو ژړاوې هم واوري، او ساتنه به يې وکړي.

ښښتن د ټولو هغو خلکو ساتنه کوي چې له ده سره مينه لري؛ خو ټول خراب خلک به نابود کړي.

زما خوله به د ښښتن د ستاينې خبرې کوي؛ او ټول جسم به مې د تل دپاره د ده د پاک نوم صفت کوي.

او موږ به تر دې وروسته، د تل دپاره د ښښتن ثناء وايو. حمد دې وي خدای لره.

## د شنبې په اضافي عبادت کې د ولاړو برخه

[د شنبې لومړنۍ درې او وروستۍ درې ثناګانې د اوونيو د نورو ورځو په څېر دي. د منځنۍ يوې پرځای يې يوه ځانګړې ثناء د شنبې دپاره راوړل شوې ده].

ای زما ښښتنه، زما شونډې پرانيزه، او زما خوله به ستا ثنا و وايي.

[په لومړۍ او په اتلسمې ثناء کې د "ثناء" د لغت په ويلو سره ځان ټيټ کړه؛ د "ستا" د لغت په يادولو سره سر ټيټ کړه؛ د "د ښښتن" د لغت په يادولو سره ځان سيده کړه او بيا د همدې لغت پر مهال خپل سر سيده کړه.]

1. [د عبادت هر لغت بايد په اړينه توګه معنی ولري، په تېره بيا د لومړۍ ثناء هر لغت].

ته برکتناک يې؛ زموږ خدايه او زموږ د پلرونو خدايه؛ د ابراهيم خدايه؛ د اسحاق او د يعقوب خدايه؛ ستر، ځواکمن او ډاروونکي خدايه؛ لوړ خدايه؛ ته مهربان يې؛ هر څه ستا په لاس کې دي، ته زموږ د نيکه ګانو نېکۍ په ياد ساتې او د هغو سره د خپلې مينې په ترڅ کې د هغوی د اولادونو د اولادو دپاره ژغورونکی را استوې.

[د نوي کال او يوم کيپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:

مورِ د ژوند دپاره په یاد لره، ای ژوند غوښتونکي پاچاه؛ مورِ د ژوند په کتاب کي ولیکه، ستا د لټون دپاره، ای د ژوند مالکه.

ای مرسته کوونکی، ژغورونکي او ساتونکي خدایه.

[د "ثناء" د لغت په یادولو سره پر ملا کړوپ شه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره دي سر پر ټټر راټیټ کړه؛ د "رب" لغت په یادولو سره لومړی پر ملا سیده شه او بیا دي سر راپورته کړه].

برکتناک یي ای ربه، ای د ابراهیم ساتونکي.

2. ته تل لوړ یي، ای ربه، ته د بېلاري شوو خلکو سره مرسته کوې ترڅو توبه وکاړي. ته په پوره قوت سره مرسته ورسره کوې.

[په اوړي کې، چې د پیسخ د لومړی ورځې او د شکوت د اتمې ترمنځ دی، داسې و وایه: **خدای پرخه اوروي**].

[په ژمي کي داسي و وایه: **خدای باد را الوځوي او باران اوروي**].

شتمن په خپلي مهربانی کي ساتي، بېوزلو ته په پوره زړه سوي سره روزي ورکوي، د کمزورو لاسنیوی کوي، ناروغ ته روغتیا ور بخښي، بندیان خوشي کوي او په خاورو کې د پرتو په بیرته را ژوندي کولو سره خپله ژمنه پوره کوي. ستا په شان څوک کېدای شي ای د قوت څښتنه؛ او ستا سره څوک پرتله کېدای شي، ای پاچاه؛ هغه پاچاه چي خواشیني رامنځته کوي او بیرته خوښي راګرځوي او هم خلاصون ورکوي!

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې]:

ستا په شان څوک کېدای شي ای مهربان پلاره؛ ستا په پرتله څوک د خپلو مخلوقاتو د ژوندانه په اړه فکر کوي.

بېشکه چي یواځې ته مړي را ژوندي کولای شې. برکتناک یي ای ربه، ته هغه څوک یي چې مړي بیرته را ژوندي کوې.

3. ته سپېڅلی یي او ستا نوم سپېڅلی دی، او سپېڅلي مخلوقات دي د تل دپاره هره ورځ، ستاینه کوي.

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کي ثناء د "د خدای" پر ځای په "پاچاه" سره پای ته ورسوه].

ته برکتناک یي ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

ته برکتناک یي ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

4. تا موږ ته د شنبې د لمانځلو حکم وکړ، تا د هغې قرباني وغوښتل، او د انګورو د شيرې د قربانۍ سره دي د هغې د جزئياتو احکام را ولېږل. څوک چې له دې څخه خوند اخلي، د تل دپاره به پټمن وي، هغه خلک چې د دې ورځې د ډوډۍ څکه کوي، د ژوند څخه به برخمن شي، او چا چې د دې ورځې سره مينه وکړه، هغو عظمت غوره کړ، ځکه چې د سينا پر غره موږ ته حکم شوی چې څنګه په سمه توګه د دې ورځې لمانځنه وکړو.

زموږ او زموږ د پلرونو پالونکي خدايه، موږ په خوند سره خپلې مځکې ته راوله، او پر خپل ځای مو مېشت کړه، ترڅو موږ خپل لازمي قربانۍ ترسره کړو. ورځنۍ قربانۍ په خپل ترتيب سره او اضافي قربانۍ د خپلو جزئياتو سره. موږ به د شنبې دا اضافي قرباني په مينه سره ترسره کوو، په هغه ډول چې تا يې حکم کړی او په هغه ډول چې تا د خپل خادم موسی په وسيله په خپل تورات کې راته ليکلي دي:

او د شنبې په ورځ دوه بنه تيار پسونه او دوې ټوټې د اوړو، يوه ډالۍ، د زيتونو د غوړو او د هغو د شرابو سره. د شنبې په ورځ د شنبې قرباني، د ورځې پر قربانۍ او شرابو سربېره.

او ټول هغه خلک چې شنبه لمانځي، هغوی به ستا د حاکميت څخه خوښ وي؛ او ټول هغه خلک به هم همداسې وي چې په خوند سره تورات زده کوي او اوومه ورځ سپېڅلې ګڼي. دا خلک به ټول ستا په ښېګڼو ماړه او خوند به ترې واخلي. او تا د اوومې ورځې غوښتنه کړې او هغه دې سپېڅلې ګرځولې، او تا دې ته مطلوبه ورځ ويلې.

زموږ او زموږ د پلرونو خدايه، د مهربانۍ له مخې زموږ له آرام څخه راضي شه، موږ په خپل حکم سره سپېڅلي کړه، موږ ته خپل په تورات کې برخه راکړه، موږ په خپلو ښېګڼو ماړه کړه، زموږ روحان په خپل خلاصون خوښ کړه، او زموږ زړونه پاک کړه ترڅو په رښتيني توګه ستا عبادت وکړو. او زموږ پالونکي خدايه، موږ ته په مينې او ستا د رضا سره شبات رانصيب کړه، او ټول هغه اسرائيل چې ستا نوم سپېڅلی ګڼي، هغوی به په هغه کې سکون و مومي. ته برکتناک يې ای د سپېڅلې شنبې ربه.

5. پر خپلو خلکو (اسرائيلو) احسان وکړه، ای پالونکي خدايه، او د هغو عبادتو ته پام کوه؛ ستا د عبادتځای په تر ټولو سپېڅلي مقام کې بيرته خدمات فعاله کړه، او په مينه سره د اسرائيلو قرباني او عبادات ترې قبول کړه؛ او ستا د خلکو (اسرائيلو) خدمت دې تاته تل قبول وي.

[په راش هديش (د نوې مياشتې لومړۍ ورځ) او د رخصتيو په منځ کې، دا لاندې شيان ور زيات کړه]:

زموږ خدايه او زموږ د پلرونو خدايه، ته خو وکړې چې زموږ او زموږ د پلرونو يادونه هلته ستا حضور ته در پورته شي، درشي او در ورسېږي، ته يې و ويني، و يې منې، وايې اورې او در په ياد يې کړې. او د دې [د نوې مياشتې ورځ – راش خوديش] ورځې په برکت دې خپل ښار يوريشيلم درته ياد شي، د داود زوی او ستا خادم (مسيح) دې درته ياد شي، او خپل ټول خلک (د اسرائيل کورنۍ) دې د خلاصون دپاره، روغتيا، رحم، مهرباني، زړه سوي او ښه ژوند او آرام دپاره درته ياد شي.

پورته وروستۍ جمله د لاندې ورځو دپاره هم په ورته ډول ويله کېږي، لکه:

[د پيسخ د رخصتۍ په ورځ چې د مسسوت اختر ورته ويل کېږي]: د دې سپېڅلې ورځې په برکت.

[د شکوت د رخصتۍ په ورځ چې د شکوت اختر ورته وايي]: د دې سپېڅلې ورځې په برکت.

پر موږ مهرباني ولره او موږ و ژغوره. ای زموږ پالونکي ربه، په دې ورځې کې موږ په ښو ياد کړه؛ په دې ورځ پر موږ د برکت نظر کوه؛ او د دې ورځې په برکت زموږ سره د ښه ژوندانه مرسته وکړه. د خلاصون او مهربانۍ د ژمنې له مخې، زموږ ساتنه کوه او پر موږ زړه سواندی اوسه؛ او زموږ غمخوار اوسه او رحمت راباندې کوه او موږ وساته؛ ځکه چې زموږ سترګې يواځې ستا دربار ته دي او ته مهربان او زړه سواندی پاچاه يې.

په خپلې مهربانۍ سره، پر موږ احسان و لوروه او احسان راباندې وکړه او زموږ سترګې داسې جوړې کړه چې (سسيون) بيرته ستا راستنېدو ته پام وکړي. ته برکتناک يې ای ربه، ته په سسيون کې خپل سپېڅلی شتون بيرته ښيې.

*[د دې ثناء په پيل کې چې که د "زموږ" لغت يادوي، نو پر ملا کړوپ شه، خو د بل ځای برعکس به دلته سر نه کړوپوې. او د "رب" د لغت په يادولو سره بيرته سيده شه].*

6. موږ ډېر شکر کاږو چې ته تل تر تله زموږ او زموږ د پلرونو پالونکی رب يې. ته زموږ قوت يې، زموږ د ژوند قوت، او زموږ د خلاصون ساتندوی پوښ يې. زموږ هر نسل به ستا شکر اداء کوي او ستا کړه به بيانوي، ځکه چې زموږ د هر يوه ژوند ستا په لاس کې دی، موږ خپل روحان تاته سپارلي، ستا معجزې هره ورځ زموږ سره ملګرې دي، او ته هره ورځ حيرانوونکي او په زړه پورې کارونه ترسره کوې، دا کارونه تل کوې، په شپه کې، په سهار کې او په غرمه کې. ته ډېر ښه يې، ځکه چې ستا مهرباني هيڅکله نه ختمېږي؛ ته تر هرچا مهربان يې، ځکه چې ستا زړه سوی هيڅکله نه ختمېږي؛ او موږ تل تاته هيله لرو.

*[په خنوکه او پوريم کې دا لاندې څه هم ور زياتېږي]:*

موږ ستا څخه مننه کوو چې زموږ د نیکه ګانو دپاره دې په هغو ورځو کې پر دغه مهال معجزې کړې، هغوی ته دې خلاصون ورکړی، د هغو د ژغورلو او تسلیت دپاره دې ستر او حیرانوونکي کارونه کړي.

[د خنوکې په ورځ یې له دې ځایه پیل کړه]: د مشر کاهن یوحونان د زوی متیتیاهو په وخت کې، چې د هاشمونیې کورنۍ څخه و، او د هغه د زامنو په وخت کې، چې کله بېلارې یونانیان ستا د خلکو اسرائیلو پر وړاندې راپورته شول، او غوښتل یې چې هغوی ستا تورات هېر او ستا د رضا نافرماني وکړي. خو ته په خپلې مهربانۍ سره، د هغو سره د احتیاج په وخت کې و درېدې. تا د دوی دپاره جګړه و کړه، د هغو د حقوقو دفاع دې وکړه او د هغو غچ دې واخیست. تا غښتلي د کمزورو، ډېر د لږو، ناخالص د خالصو، بېلارې د رښتینو او ګناهګاران د هغو تر لاس لاندې کړل چې ځانونه یې ستا تورات ته وقف کړي وو. تا په خپله نړۍ کې یو ستر او سپېڅلی نوم خپل کړ، او په دې ورځ دې خپلو خلکو ته لوی خلاصون او ژغورنه ور په برخه کړله. نو ستا اولادونه ستا د عبادتځای روضې ته ور ننوتل، عبادتځای یې پاک، جومات یې تصفیه، او په سپېڅلې غولې کې یې ډېوې بلې کړې، او دا د خنوکې اته ورځې یې د ستاینې او شکریې دپاره و ټاکلې. تا زموږ د نیکه ګانو دپاره معجزې او حیرانوونکي کارونه کړي چې له کبله یې موږ تل ستا شکر اداء کوو.

[د پوریم په ورځ یې له دې ځایه پیل کړه]: د مردیخای او ایستر په وخت کې، د پارس په پلازمېنې شوشان کې، کله چې بېلاری (هامون) راپورته شو، او غوښتل یې چې ټول اسرائیل ، ځوان او زاړه، ماشومان او ښځې په یوه ورځ، د دوولسمې میاشتې یا ادهار پر دیارلسمې نېټې پوپنا، حلال او له منځه یوسي او شتمنۍ یې ترې لوټ کړي. خو تا د خپلې بې شانې مهربانۍ له مخې، د هغه نیت او اراده ناکامه او د ده په خپل زیان دې ورته تمام کړله، او دی او د ده زامن په هغې ونې پورې و ځړول شول چې ده د مردیخای د ځړولو دپاره تیاره کړې وه. تا زموږ د نیکه ګانو دپاره معجزې او حیرانوونکي کارونه کړي چې موږ به یې له کبله تل ستا شکر اداء کوو.

نو ای زموږ پاچاه، د دې ټولو شیانو له کبله به تل او په جاري توګه ستا په نوم ثناء ویل کیږي، ستا نوم به ستایل کیږي او اوچت کیږي به.

*[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې دا لاندې څه ور زیات کړه]:*

ټول هغه خلک چې ستا په تړون کې شامل دي، د هغو په قسمت کې ښه ژوند ولیکه.

او ټول به، په اخلاص سره او تر آبده، ستا په نوم ثناء وایي او ستاینه به یې کوي.

*[د دې ثناء په پای کې کله چې د "برکت" لغت ته را ورسیږي، نو پر ملا کړوپ شه؛ او د " ته" لغت ته په رارسېدو سره دې سر پر تټر راټیټ کړه؛ او د "رب" لغت ته په رارسېدو سره بیرته پر ملا سیده شه او بیا د همدې لغت پر مهال دې سر هم سیده کړه].*

برکتناک یې، ته، ای ربه، ستا نوم بنه دی، او ستا شکر باید اداء شي.

7. پر موږ او خپلو ټولو خلکو (اسرائیلو) آرامي، ښېګڼي او برکتونه، ژوند، مهرباني، زړه سوی او شفقت و لوروه. او زموږ پلاره، پر موږ رحم وکړه، پر موږ ټولو په یوځل خپل د رحمت رڼا و خپره کړه. ځکه چې ای پالونکي خدایه، تا د خپلې رڼا په وسیله، موږ ته تورات او ژوند راکړی، مینه او زړه سوې دې راکړی، سخا او مهرباني دې راکړې، رحمت او آرامي دې راکړي. ستا پر خلکو اسرائیلو دې ستا د رحمت، تشویق او سولې نظر وي.

*[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:*

او د ژوند په کتاب، د رحمت او آرامۍ په کتاب، د نېکمرغی په کتاب، د خلاصون او ډاډینې په کتاب، او د مهربانیو د احکامو په کتاب کې دې موږ او ستا ټول خلک یعنې د اسرائیل کورنی لیکلي او درته یاد یو ترڅو د خوش ژوند او آرامی څښتنان اوسو.

ته برکتناک یې ای ربه، ای پر خپلو خلکو اسرائیلو د آرامی رحمت کوونکي.

زما د خولې الفاظ دې تا ته قبول، او زما د زړه چرتونه دې ستا د پام وړ وي، ای د قوت او خلاصون بخښونکې ربه.

[دلته یوڅوک کولای شي خپل شخصي عبادت ور زیات کړي. کله چې شخصي عبادت ور زیات شي، نو وروستی آیت (زما د خولې الفاظ دې تاته قبول وي ... ای د قوت او خلاصون بخښونکې) باید په پای کې بیاځلي و ویل شي].

*[د لاندې جملې تر تلاوت مخکې باید سړی یوڅه ټیټ شي، او په همدې ټیټ حالت کې درې ګامه تر شا واخلي؛ لومړی دې کیڼه پښه تر شاکړي، بیا ښې پښه او بیا دې کیڼه پښه تر هغه ترشا یوسي ترڅو د ښې سره څنګ پرڅنګ شي. چې لا د ټیټوالي څخه پورته شوی نه یې، بدن دې ربونده کیڼې خواته وګرځوه او داسې و وایه، "هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي"؛ ولاړ شه او بیا دې بدن ربونده ښې خواته کوږ کړه او داسې و وایه، "هغه دې موږ ته هم آرامي راولي" ولاړ شه او په پای کې د مخ خواته کوږ شه او و وایه، "او د ټولو اسرائیلو دپاره؛ امین"].*

[رېونده کېښي خواته] هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي [د توبې په لسو ورځو کې يې داسې و وايه: "ځانګړې آرامي]، [رېونده ښي خواته] هغه دي موږ ته هم آرامي راولي، [بيا د مخ خواته کوږ شه] او ټولو اسرائيلو ته هم؛ امين.

[له ځانګړو ورځو پرته لکه نوې مياشت او رخصتۍ، په نورو کې بايد تر هر عبادت وروسته سړی خدای ته د خپلو ګناهونو اقرار وکړي].

## د شنبې د ماپښين عبادت

### د پسلم ترانه

خوښ دي هغه کسان چې ستا په کور کې اوسېږي او تل ستا ستاينه کوي.

خوښ دي هغه خلک چې دا ډول ژوند کوي! خوښ دي هغه خلک چې لوی خدای يې پالونکی وي.

**د داود د ثناء پسلم:** زه به تل ستا لويي بيانوم، ای زما خدايه، ای د نړۍ پاچاه، او زه به تل –تر-تله ستا په نوم برکت غواړم.

او زه به هره ورځ ستا برکت غواړم، او ستا د نوم ستاينه به تل-تر-تله کوم.

رب ډېر لوی دی، او د لويۍ ستاينه يې کېږي؛ او د هغه لويي دومره ده چې نه اندازه کېږي.

هر نسل به ستا د کارونو ستاينه کوي، او ستا ځواکمني کړنې به بيانوي.

زه به ستا عزت او عظمت او کمالونه بيانوم.

خلک به ستا د ډاروونکو کړنو په اړه خبرې کوي، او زه به ستا لويي بيانوم.

خلک به ستا ښه والی بيانوي او خپروي به يې، او ستا د حقانيت ترانه به وايي.

لوی رب ډېر مهربان او زړه سواندی دی، ژر نه په غوسه کېږي او لويه مهرباني لوروي.

لوی رب د هر چا سره ښه کوي، او پر خپلو ټولو مخلوقاتو يوشان زړه سوی لري.

ستا ټول مخلوقات به ستا ستاينه کوي، ای ربه؛ ستا پرهېزګاران به ستا لويي بيانوي.

دوی به ټول ستا د ستري پاچاهۍ په هکله خبرې کوي، او ستا لوړ طاقت به بيانوي؛ ترڅو د انسانانو زامنو ته ستا ځواکمني کړنې او عظيم سلطنت ور وپېژني.

ستا پاچاهي به آبدي وي، او ستا حکومت به په هر نسل کې چلېږي.

لوی ښښتن ټول هغه خلک ساتي چې لوېدلي وي، او هغه راپورته کوي چې سرونه یې ټیټ شوي وي.

د ټولو سترګې ستا دربار ته دي او ته ټولو ته پر وخت روزي ورکوې.

ته خپل لاسونه پرانیزې، او د هر ژوندي شي غوښتنې پوره کوې.

ښښتن په خپلو ټولو لارو کې صادق او په خپلو ټولو کارونو کې مهربان دی.

ښښتن ټولو هغو کسانو ته نږدې دی چې د ده یادونه کوي، او ټولو هغو ته چې په اخلاص سره د ده یادونه کوي.

خدای به د ټولو هغو خلکو غوښتنې پوره کړي چې له هغه څخه ډارېږي؛ هغه به د دې خلکو ژړاوې هم واوري، او ساتنه به یې وکړي.

ښښتن د ټولو هغو خلکو ساتنه کوي چې له ده سره مینه لري؛ خو ټول خراب خلک به نابود کړي.

زما خوله به د ښښتن د ستاینې خبرې کوي؛ او ټول جسم به مې د تل دپاره د ده د پاک نوم صفت کوي.

او موږ به تر دې وروسته، د تل دپاره د ښښتن ثناء وايو. حمد دې وي خدای لره.

## د شنبې د ماپښیني عبادت د ولاړو برخه

[د شنبې لومړنی درې او وروستی درې ثناګانې د اوونیو د نورو ورځو په څېر دي. د منځنی یوې پرځای یې یوه ځانګړې ثناء د شنبې دپاره راوړل شوې ده].

ای زما ښښتنه، زما شونډې پرانیزه، او زما خوله به ستا ثنا و وايي.

[په لومړی او په اتلسمي ثناء کې د "ثناء" د لغت په ویلو سره ځان ټیټ کړه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره سر ټیټ کړه؛ د "د ښښتن" د لغت په یادولو سره ځان سیده کړه او بیا د همدې لغت پر مهال خپل سر سیده کړه.]

1. [د عبادت هر لغت باید په اړینه توګه معنی ولري، په تېره بیا د لومړی ثناء هر لغت].

ته برکتناک یې؛ زموږ خدایه او زموږ د پلرونو خدایه؛ د ابراهیم خدایه؛ د اسحاق او د یعقوب خدایه؛ ستر، ځواکمن او ډاروونکي خدایه؛ لوړ خدایه؛ ته مهربان یې؛ هر څه ستا په لاس کې دي، ته زموږ د نیکه ګانو نېکی په یاد ساتې او د هغو سره د خپلې مینې په ترڅ کې د هغوی د اولادونو د اولادو دپاره ژغورونکی را استوې.

[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې:]

مور د ژوند دپاره په یاد لره، ای ژوند غوښتونکي پاچاه؛ مور د ژوند په کتاب کې ولیکه، ستا د لټون دپاره، ای د ژوند مالکه.

ای مرسته کوونکی، ژغورونکي او ساتونکي خدایه.

[د "ثناء" د لغت په یادولو سره پر ملا کړوپ شه؛ د "ستا" د لغت په یادولو سره دي سر پر تېتر راتیټ کړه؛ د "رب" لغت په یادولو سره لومړی پر ملا سیده شه او بیا دي سر راپورته کړه].

برکتناک یې ای ربه، ای د ابراهیم ساتونکي.

2. ته تل لوړ یې، ای ربه، ته د بېلاري شوو خلکو سره مرسته کوې ترڅو توبه وکاړي. ته په پوره قوت سره مرسته ورسره کوې.

[په اوړي کې، چې د پیسخ د لومړۍ ورځې او د شکوت د اتمې ترمنځ دی، داسې و وایه: **خدای پرخه اوروي**].

[په ژمي کې داسې و وایه: **خدای باد را الوځوي او باران اوروي**].

شتمن په خپلې مهربانۍ کې ساتي، بېوزلو ته په پوره زړه سوي سره روزي ورکوي، د کمزورو لاسنیوی کوي، ناروغ ته روغتیا ور بخښي، بندیان خوشي کوي او په خاورو کې د پرتو په بیرته را ژوندي کولو سره خپله ژمنه پوره کوي. ستا په شان څوک کېدای شي ای د قوت څښتنه؛ او ستا سره څوک پرتله کېدای شي، ای پاچاه؛ هغه پاچاه چې خواشیني رامنځته کوي او بیرته خوښي راګرځوي او هم خلاصون ورکوي!

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې]:

ستا په شان څوک کېدای شي ای مهربان پلاره؛ ستا په پرتله څوک د خپلو مخلوقاتو د ژوندانه په اړه فکر کوي.

بېشکه چې یواځې ته مړي را ژوندي کولای شې. برکتناک یې ای ربه، ته هغه څوک یې چې مړي بیرته را ژوندي کوې.

3. ته سپېڅلی یې او ستا نوم سپېڅلی دی، او سپېڅلي مخلوقات دي د تل دپاره هره ورځ، ستاینه کوي.

[د نوي کال او یوم کیپور په لسو ورځو کې ثناء د "د خدای" پر ځای په "پاچاه" سره پای ته ورسوه].

ته برکتناک یې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

ته برکتناک یې ای ربه، ای سپېڅلي پاچاه.

4. ته يو يې او ستا نوم يو دی، او هيڅوک ستا د خلکو اسرائيلو په څېر نه دي، دا خلک د ځمکې پر مخ يواځينی ملت دی. تا خپلو خلکو ته بې شانه مرتبه ورکړې، د خلاصون تاج دي پر سر ور ايښی، د استراحت او سپېڅلتيا ورځ دي ورکړې. ابراهيم به خوشحاله وي، اسحاق به تراني وايي، يعقوب او د هغه اولادونه به د شنبې استراحت کوي. د مينې او سخا استراحت، يو رښتينی او د ايمانداری استراحت، د آرامی، چوپتيا او امن استراحت، يو بشپړ استراحت چې ته يې غواړې. ستا اولادونه به يې و پېژني او و به پوهيږي چې دا استراحت تا ورکړی، او د دې استراحت له کبله به هغوی ستا د نوم سپېڅلتيا بيانوي.

زموږ او زموږ د پلرونو خدايه، د مهربانۍ له مخې زموږ له آرام څخه راضي شه، موږ په خپل حکم سره سپېڅلي کړه، موږ ته خپل په تورات کې برخه راکړه، موږ په خپلو ښېګڼو ماړه کړه، زموږ روحان په خپل خلاصون خوښ کړه، او زموږ زړونه پاک کړه ترڅو په رښتيني توګه ستا عبادت وکړو. او زموږ پالونکې خدايه، موږ ته په مينې او ستا د رضا سره شبات رانصيب کړه، او ټول هغه اسرائيل چې ستا نوم سپېڅلی ګڼي، هغوی به په هغه کې سکون و مومي. ته برکتناک يې ای د سپېڅلي شنبې ربه.

5. پر خپلو خلکو (اسرائيلو) احسان وکړه، ای پالونکې خدايه، او د هغو عبادتو ته پام کوه؛ ستا د عبادتځای په تر ټولو سپېڅلي مقام کې بيرته خدمات فعاله کړه، او په مينه سره د اسرائيلو قرباني او عبادات ترې قبول کړه؛ او ستا د خلکو (اسرائيلو) خدمت دې تاته تل قبول وي.

[په راش هديش (د نوې مياشتې لومړۍ ورځ) او د رخصتيو په منځ کې، دا لاندې شيان ور زيات کړه]:

زموږ خدايه او زموږ د پلرونو خدايه، ته خو وکړې چې زموږ او زموږ د پلرونو يادونه هلته ستا حضور ته در پورته شي، درشي او در ورسيږي، ته يې و ويني، و يې مني، وايي اوري او در په ياد يې کړې. او د دې [د نوې مياشتې ورځ – راش خوديش] ورځې په برکت دې خپل ښار يوريشيلم درته ياد شي، د داود زوی او ستا خادم (مسيح) دې درته ياد شي، او خپل ټول خلک (د اسرائيل کورنی) دې د خلاصون دپاره، روغتيا، رحم، مهربانی، زړه سوي او ښه ژوند او آرام دپاره درته ياد شي.

پورته وروستی جمله د لاندې ورځو دپاره هم په ورته ډول ويله کيږي، لکه:

[د پيسخ د رخصتی په ورځ چې د مسسوت اختر ورته ويل کيږي]: د دې سپېڅلي ورځې په برکت.

[د شکوت د رخصتی په ورځ چې د شکوت اختر ورته وايي]: د دې سپېڅلي ورځې په برکت.

پر موږ مهرباني ولره او موږ و ژغوره. ای زموږ پالونکي ربه، په دې ورځې کې موږ په ښو یاد کړه؛ په دې ورځ پر موږ د برکت نظر کوه؛ او د دې ورځې په برکت زموږ سره د ښه ژوندانه مرسته وکړه. د خلاصون او مهربانۍ د ژمني له مخې، زموږ ساتنه کوه او پر موږ زړه سواندی اوسه؛ او زموږ غمخوار اوسه او رحمت راباندې کوه او موږ وساته؛ ځکه چې زموږ سترګې یواځې ستا دربار ته دي او ته مهربان او زړه سواندی پاچاه یې.

په خپلې مهربانۍ سره، پر موږ احسان و لوروه او احسان راباندې وکړه او زموږ سترګې داسې جوړې کړه چې (سسیون) بیرته ستا راستنېدو ته پام وکړي. ته برکتناک یې ای ربه، ته په سسیون کې خپل سپېڅلی شتون بیرته ښیې.

*[د دې ثناء په پیل کې چې که د "زموږ" لغت یادوي، نو پر ملا کړوپ شه، خو د بل ځای برعکس به دلته سر نه کړوپوې. او د "رب" د لغت په یادولو سره بیرته سیده شه].*

6. موږ ډېر شکر کاږو چې ته تل تر تله زموږ او زموږ د پلرونو پالونکی رب یې. ته زموږ قوت یې، زموږ د ژوند قوت، او زموږ د خلاصون ساتندوی پوښ یې. زموږ هر نسل به ستا شکر اداء کوي او ستا کره به بیانوي، ځکه چې زموږ د هر یوه ژوند ستا په لاس کې دی، موږ خپل روحان تاته سپارلي، ستا معجزې هره ورځ زموږ سره ملګرې دي، او ته هره ورځ حیرانوونکي او په زړه پورې کارونه ترسره کوې، دا کارونه تل کوې، په شپه کې، په سهار کې او په غرمه کې. ته ډېر ښه یې، ځکه چې ستا مهربانی هیڅکله نه ختمېږي؛ ته تر هرچا مهربان یې، ځکه چې ستا زړه سوی هیڅکله نه ختمېږي؛ او موږ تل تاته هیله لرو.

*[په خنوکه او پوریم کې دا لاندې څه هم ور زیاتېږي]:*

موږ ستا څخه مننه کوو چې زموږ د نیکه ګانو دپاره دې په هغو ورځو کې پر دغه مهال معجزې کړې، هغوی ته دې خلاصون ورکړی، د هغو د ژغورلو او تسلیت دپاره دې ستر او حیرانوونکي کارونه کړي.

[د خنوکې په ورځ یې له دې ځایه پیل کړه]: د مشر کاهن یوحونان د زوی متیتیاهو په وخت کې، چې د هاشمونیې کورنۍ څخه و، او د هغه د زامنو په وخت کې، چې کله بېلارې یونانیان ستا د خلکو اسرائیلو پر وړاندې راپورته شول، او غوښتل یې چې هغوی ستا تورات هېر او ستا د رضا نافرماني وکړي. خو ته په خپلې مهربانۍ سره، د هغو سره د احتیاج په وخت کې و درېدې. تا د دوی دپاره جګړه و کړه، د هغو د حقوقو دفاع دې وکړه او د هغو غچ دې واخیست. تا غښتلي د کمزورو، ډېر د لږو، ناخالص د خالصو، بېلارې د رښتینو او ګناهګاران د هغو تر لاس لاندې کړل چې ځانونه یې

ستا تورات ته وقف کړي وو. تا په خپله نړۍ کې یو ستر او سپېڅلی نوم خپل کړ، او په دې ورځ دي خپلو خلکو ته لوی خلاصون او ژغورنه ور په برخه کړله. نو ستا اولادونه ستا د عبادتځای روضې ته ور ننوتل، عبادتځای یې پاک، جومات یې تصفیه، او په سپېڅلي غولي کې یې ډیوې بلې کړې، او دا د خنوکې اته ورځې یې د ستاینې او شکریې دپاره و ټاکلې. تا زموږ د نیکه ګانو دپاره معجزې او حیرانوونکي کارونه کړي چې له کبله یې موږ تل ستا شکر اداء کوو.

[د پوریم په ورځ یې له دې ځایه پیل کړه]: د مردیخای او ایستر په وخت کې، د پارس په پلازمېنې شوشان کې، کله چې بېلاری (هامون) راپورته شو، او غوښتل یې چې ټول اسرائیل ، ځوان او زاړه، ماشومان او ښځې په یوه ورځ، د دوولسمې میاشتې یا ادهار پر دیارلسمې نېټې پوپنا، حلال او له منځه یوسي او شتمنۍ یې ترې لوټ کړي. خو تا د خپلې بې شانې مهربانۍ له مخې، د هغه نیت او اراده ناکامه او د ده په خپل زیان دې ورته تمام کړله، او دی او د ده زامن په هغې ونې پورې و ځړول شول چې ده د مردیخای د ځړولو دپاره تیاره کړې وه. تا زموږ د نیکه ګانو دپاره معجزې او حیرانوونکي کارونه کړي چې موږ به یې له کبله تل ستا شکر اداء کوو.

نو ای زموږ پاچاه، د دې ټولو شیانو له کبله به تل او په جاري توګه ستا په نوم ثناء ویل کیږي، ستا نوم به ستایل کیږي او اوچت کیږي به.

*[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې دا لاندې څه ور زیات کړه]:*

ټول هغه خلک چې ستا په تړون کې شامل دي، د هغو په قسمت کې ښه ژوند ولیکه.

او ټول به، په اخلاص سره او تر آبده، ستا په نوم ثناء وایي او ستاینه به یې کوي.

*[د دې ثناء په پای کې کله چې د "برکت" لغت ته را ورسیږې، نو پر ملا کړوپ شه؛ او د "ته" لغت ته په رارسېدو سره دې سر پر ټټر راټیټ کړه؛ او د "رب" لغت ته په رارسېدو سره بیرته پر ملا سیده شه او بیا د همدې لغت پر مهال دې سر هم سیده کړه].*

برکتناک یې، ته، ای ربه، ستا نوم ښه دی، او ستا شکر باید اداء شي.

7. پر موږ او خپلو ټولو خلکو (اسرائیلو) آرامي، ښېګڼې او برکتونه، ژوند، مهرباني، زړه سوی او شفقت و لوروه. او زموږ پلاره، پر موږ رحم وکړه، پر موږ ټولو په یوځل خپل د رحمت رڼا و خپره کړه. ځکه چې ای پالونکې خدایه، تا د خپلې رڼا په وسیله، موږ ته تورات او ژوند

راکړی، مینه او زړه سوی دي راکړی، سخا او مهرباني دي راکړي، رحمت او آرامي دي راکړي. ستا پر خلکو اسرائیلو دي ستا د رحمت، تشویق او سولې نظر وي.

*[د نوي کال او یوم کیپور ترمنځ په لسو ورځو کې]:*

او د ژوند په کتاب، د رحمت او آرامۍ په کتاب، د نېکمرغۍ په کتاب، د خلاصون او ډاډینې په کتاب، او د مهربانیو د احکامو په کتاب کې دي موږ او ستا ټول خلک یعني د اسرائیل کورنۍ لیکلي او درته یاد یو ترڅو د خوښ ژوند او آرامۍ څښتنان اوسو.

ته برکتناک یې ای ربه، ای پر خپلو خلکو اسرائیلو د آرامۍ رحمت کوونکې.

زما د خولې الفاظ دي تا ته قبول، او زما د زړه چرتونه دي ستا د پام وړ وي، ای د قوت او خلاصون بخښونکې ربه.

[دلته یوڅوک کولای شي خپل شخصي عبادت ور زیات کړي. کله چې شخصي عبادت ور زیات شي، نو وروستی آیت (زما د خولې الفاظ دي تاته قبول وي ... ای د قوت او خلاصون بخښونکې) باید په پای کې بیاځلي و ویل شي].

*[د لاندې جملې تر تلاوت مخکې باید سړی یوڅه تیټ شي، او په همدې تیټ حالت کې درې ګامه تر شا واخلي؛ لومړی دي کېڼه پښه تر شاکړي، بیا ښي پښه او بیا دي کېڼه پښه تر هغه ترشا یوسي ترڅو د ښي سره څنګ پرڅنګ شي. چې لا د ټیټوالي څخه پورته شوی نه یې، بدن دي ربونده کېڼې خواته وګرځوه او داسې و وایه، "هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي"؛ ولاړ شه او بیا دي بدن ربونده ښي خواته کوږ کړه او داسې و وایه، "هغه دي موږ ته هم آرامي راولي" ولاړ شه او په پای کې د مخ خواته کوږ شه او و وایه، "او د ټولو اسرائیلو دپاره؛ امین"].*

[ربونده کېڼې خواته] هغه کس څوک چې په خپلو جنتونو کې آرامي راولي [د توبې په لسو ورځو کې یې داسې و وایه: "ځانګړې آرامي]، [ربونده ښي خواته] هغه دي موږ ته هم آرامي راولي، [بیا د مخ خواته کوږ شه] او ټولو اسرائیلو ته هم؛ امین.

[له ځانګړو ورځو پرته لکه نوي میاشت او رخصتی، په نورو کې باید تر هر عبادت وروسته سړی خدای ته د خپلو ګناهونو اقرار وکړي].

# پای